# د حقیقت په لټه کې

لیکوال:

**الدوکتور اسعد قاسم**

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب مشخصات:
د کتاب نوم: د حقیقت په لټه کې
لیکوال: الدوکتور اسعد قاسم
د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري لمریز
د چاپ وار: دویم

# فهرست


د ليکوال پېژندنه ........................................ ٦
لومړۍ برخه ........................................ ٧
امامت يا مشرتوب ........................................ ٧
د امامت نصوص ........................................ ٨
د اهل بيتو د مشرۍ د زباد دلايل ........................................ ٨
د اهلبيتو پر پاکلمنتوب نور دلايل ........................................ ١٦
١-د ثقلينو حديث ........................................ ١٦
٢-د بقرې سورت ١٢۴ آيت ........................................ ١٦
د نبي مکرم د خلفاوو شمېر ........................................ ١٩
د علي کرم الله وجهه د خلافت دلايل ........................................ ٢٢
د علي کرم الله وجهه خلافت ته نور دلايل ........................................ ٢٥
د «نص» په مقابل کې د اجتهاد بېلګه ........................................ ٣٨
ايا پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د حضرت ابوبکر (رض) خلافت ته څه اشاره کړې وه؟ ...... ٤٥
د زمانې د خليفه په مقابل کې د حضرت فاطمې دريځ ........................................ ٤٦
ايا د فاطمې مړينه د جاهليت مړينه وه؟! ........................................ ٥١
د حضرت عمر (رض) خلافت ........................................ ٥٣
د حضرت عثمان (رض) خلافت ........................................ ٥٤
د حضرت عثمان وژنه ........................................ ٥٦
له حضرت علي کرم الله وجهه سره بيعت ........................................ ٥٨
د جمل پېښه او د ام المؤمنين پاڅون ........................................ ٥٩
د عبدالله بن سبا افسانه ........................................ ٦٢
د صفين جګړه او له حق خلافته سراغړاندي ........................................ ٦٤
د حضرت علي کرم الله وجهه شهادت ........................................ ٧٠
د سولې تړون او د امام حسن (رض) شهادت ........................................ ٧٠
د کربلا خوځښت ........................................ ٧٣
او د امام حسين (رض) شهادت ........................................ ٧٣

دويمه برخه ........................................................................................................ ۷۹
د اصحابو عدالت ................................................................................................ ۷۹
دريیمه برخه ...................................................................................................... ۹۳
شيعه او قرآنکريم ................................................................................................ ۹۳
څلورمه برخه ...................................................................................................... ۱۰۰
د نبوي سنتو په اړه د سني او شيعه و نظر .................................................................. ۱۰۰
د حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم د پاکلمنتوب په اړه د دواړو ډلو نظر .................. ۱۰۳
حضرت ابوهريره او ډېر روايات يې .......................................................................... ۱۱۳
صحيح بخاري ته ځغلنده کتنه ................................................................................ ۱۲۱
پينځمه برخه ...................................................................................................... ۱۲۶
لنډ مهاله واده .................................................................................................... ۱۲۶
د حج متعه ......................................................................................................... ۱۳۵
شپږمه برخه ....................................................................................................... ۱۳۸
مهدي منتظر او فتنې ........................................................................................... ۱۳۸

## د لیکوال پېژندنه

د نیول شوي فلسطین په «دیرالغصون» کلي کې زیږېدلی او د لېسې تر پای ته رسېدو روسته، د زده کړې لپاره «اردن» او ورپسې «فیلیپین» هېواد ته ولاړ او هلته یې د ښاري پراختیا لیسانس واخست، ورپسې یې په ساختماني اداره کې ماستري او په پای کې یې په «حکومتي اداره» کې د ډاکټرۍ شهادتنامه تر لاسه کړه.

نوموړی د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو ترمنځ پر پوهنتوني زده کړو لګیاو و؛ خو ددې بوختیاوو په ترڅ کې یې د اسلامي تاریخ مطالعه هم وکړه، چې نویو پوهېدنو ته رسېدلی دی.

ده خپلې لیکنې د «د حقیقت په لټه کې» کتاب کې راټولې کړي او په هېښنده دود یې مسایل مطرح کړي، چې نوی کهول ته دا لار پرانزي، چې یو زدکړیال څنګه بې له تعصبه، د یوه نوي تفکر خاوندېدای شي.

موږ دا ژباړه د یوې کړنلارې په شان دروړاندې کوو، چې ځوان نسل، د اسلامي مذاهبو په اړه، بې تعصبه مطالعه پیل او په پای کې د داسې عقیدې څښتن شي، چې پر قرآن او سنتو ولاړه وي او د نړه محمدي اسلام لاروی شي.

# لومړۍ برخه

## امامت یا مشرتوب

امامت یا خلافت د مشرتوب پر مانا دی او په اصطلاح کې، د رسول اکرم تر وفات روسته د مسلمانانو پر مشرتوب اطلاق شو، چې څوک هم له دې مانا نه منکرېږي؛ ځکه مشرتوب هر ډلې او امت ته یوه فطري مساله ده او په واقع کې د سني او شیعه ترمنځ د امام او خلیفه د ټاکنې د څرنګوالي په دود او دا چې څه ونډه لري، اړپېچ شته، دا د مسلمانانو ترمنځ خورا مهم او ستر اړپیچ – اختلاف دی، چې نور اختلافات یې له همدې راولاړ شوي دي؛ ځکه امامت د شیعه وو له نظره، د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په نص دی او د اهل بیتو په دولس ګونو امامانو پورې ځانګړی دی او د نبي کریم تر وفات روسته، د اسلام د احکامو د پېژندنې او پوهاوي لپاره باید همدوې ته رجوع وشي، یا ترې د روایت شویو سمو روایاتو لاروي وشي او که د دوی او نورو د خبرو ترمنځ ټکر راشي؛ نو واجب دي، چې د همدوی خبرو ته غوږ کېښودل شي او عمل پرې وشي؛ ځکه دوی د نبي کریم د سنتو امین زېرموال دي.

خو اهل سنت، امامت په شورا کې عملي بولي، که څه، د راتلونکي خلیفه په اړه، د تېر خلیفه نص مني؛ لکه چې د حضرت عمر (رض) په اړه دغسې وشو او د حضرت ابوبکر (رض) په نص خلیفه شو او همدغسې په زور او توره هم خلافت ته رسېدل روا بولي؛ لکه د امویانو، عباسیانو او عثمانیانو خلافت او د اسلامي احکامو د پېژندنې او پوهاوي لپاره د اصحابو رضی الله عنهم له لوري د سمو احادیثو روایاتو ته رجوع کوي، چې ګرسره اصحاب عادل بولي او ترمنځ یې پر کوم توپیر قایل نه دي، که څه، ډېرو یې د جمل او صفین په جګړو کې ګډون درلود او ډېرو یې یو د بل وژنه روا ګڼله او داسې چارې یې کړي، چې د ډېرو اصحابو عدالت یې ټکنی کړی، چې انشاء الله راروسته به په دې اړه خبرې وکړو.

اوس دا دواړو لوریو (سني- شیعه) استدلال ته غوږ ږدو.

لومړی د شیعه دلایل راوړو او ورپسې، په رد یې د اهل سنتو.

۱-د اهل بیتو د مشرتوب د زباد دلایل

۲-د اهل بیتو د امامانو د شمېر د زباد دلایل

۳-هغه دلایل چې نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم، علي کرم الله وجهه خپل ځایناستی کړی دی.

## د امامت نصوص

### د اهل بیتو د مشرۍ د زباد دلایل

دا چې تر رسول اکرم روسته، اهل بیت د امت مشري پر غاړه لري، په دې اړه ډېر روایات شته، چې مهم یې دا دي:

صحیح مسلم په خپل سند له حضرت زید بن ارقم (رض) روایتوي، چې رسول اکرم وایي:

«خلکو! زه هم ستاسې په څېر یو انسان یم او ژر مې د پالونکي استازی ( حضرت عزرائیل) راځي او د خپل پالونکي بلنه مې منم او په واقع کې، په تاسې کې دوه گرانبیه څیزونه پرېږدم؛ لومړی د الله کتاب، چې پکې لارښوونه او رڼا ده؛ نو منگولې پرې ښخې کړئ او زده یې کړئ.... او اهل بیت مې (پرېږدم) تاسې ته پر الله د اهل بیتو په اړه مې[1]»

په صحیح ترمذي کې یې په خپل سند، له حضرت جابر بن عبدالله (رض) روایت کړي: رسول اکرم د عرفات پر ورځ پر اوښ سپور دا خطبه وویله او وا مې ورېدل:

«خلکو په تاسې کې دوه څیزونه پرېږدم، که منگولې پرې ولگوئ، بیخي به بې لارې نه شئ: د الله کتاب او ځوځات مې، اهل بیت مې[2]»

او که بې له دې بل کوم حدیث پیدا نشي؛ نو یوازې همدا حدیث د شیعه مذهب حقانیت او وړتیا ته بس دی؛ ځکه پر اهل بیتو منگولې لگول، پر کتاب الله له منگولو سره جوختې بولي؛ ځکه په دې روایت کې گورو، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په ډاگه امر کوي، چې تر ما روسته پر اهل بیتو مې منگولې ولگوئ او که دا منگولې لگونه، له قرآنه په گټنه وي؛ نو ژغورنه به یې پر برخه وي او له بې لارۍ به بچ پاتې شي.

او پر صحیح مسلم سربېره، د اهل سنتو په صحاحو او مسانیدو کې دا حدیث راغلی؛ خو حیران یم چې اهل سنت یې ولې نالیدی گڼي؛ بلکې د اورېدو پر مهال ترې منکرېږي؛ لکه

---

[1] (صحیح مسلم (۱۵\ ۲۷۲ مخ) کتاب الفضائل، باب فضائل علي د نووي له شرح سره)

[2] (صحیح ترمذي (۱۲\ ۳۰۸ مخ)، ۳۷۸۸ گڼه حدیث)

چې له آره دغسې حدیث نشته او استدلال کوي، چې په دې باب سم روایت هماغه دی، چې حضرت ابوهریره، له حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم روایت کړي:
«په واقع کې، په تاسې کې دوه څیزونه پرېږدم، که عمل پرې وکړئ، بیخي به بې لارې نشئ: د الله کتاب او سنت مې»!
ددې حدیث په اړه مې پلټنه وکړه؛ په صحاحو کې نه دی راغلی او بخاري، نسایي، ذهبي او نورو کمزوری ګڼلی.
(داکتر احمد بن مسعود بن حمدان « د اهلسنت والجماعه د ګروهو د اصولو په شرح » کتاب، ۸۰ مخ وایي:
«ددې روایت سند کمزوری دی؛ ځکه په روایاتو کې صالح بن موسی طلحي شته، چې ذهبي یې کمزوری ګڼي.»
یحیی وایي: «کوم ارزښت نه لري او روایت یې نه کښل کېږي» امام بخاري ویلي: له حدیث ویلو یې منکر دی او نسایي وایي: پرېښوول شوی دی) او یوازې حاکم په خپل مستدرک (۹۳\۱۲ مخ) کې راوړي، چې د اهل سنتو د علماوو د اجماع له مخې، تر صحیح مسلم لاندې درجه کې دی.
او فرض دا، که دا دواړه روایت یو له بل سره په ټکر کې نه وي؛ نو لازم دي، چې ومنو، د حاکم په روایت کې له «سنتي» مراد هماغه سنت دي، چې د اهل بیتو له لارې په لاس راغلي وي، نه نورو؛ لکه چې د مسلم په روایت کې راغلي دي.
نو ځکه د حاکم د روایت «.... کتاب الله و سنتي» منل او د مسلم د روایت «.... کتاب الله و عترتي اهل بیتي» پرېښوول نه یوازې، د اهل سنتو د عالمانو له هغې اجماع سره مخالف دی، چې د مسلم احادیث، د حاکم پر احادیثو ړومبي بولي؛ بلکې له منطق او عقل سره هم اړخ نه لګوي؛ ځکه دلته د «سنتي» اصطلاح په یوازېتوب یاده شوې او څه ترې نه په ګوتو کېږي او بیا خو ټولې اسلامي ډلې، د نبوي سنتو د لاروۍ ادعا کوي او ترمنځ یې ډېر اختلاف دی، چې غالباً د نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم په سنتو کې د راغلیو بېلابېلو روایتونو له لامله دی او ټولې اسلامي ډلې دا مني، چې سنت، د قرآن تفسیروونکي او مکمل دی؛ خو ددې بېلابېلو روایاتو له لامله یې د قرآن په تفسیر کې هم اختلاف کړی، چې له لامله یې مسلمانان د بېلابېلو مذاهبو لارویان شوي او په یوه روایت یې شمېر، درې اویاوو ته رسي....

اوس نو، په دې ټولو سنتو کې کوم یو سنت، د لاروی او اطاعت وړ دی؟ او چې څوک دا حدیث واوري؛ نو طبیعي یې ذهن ته همدا پورته پوښتنه راځي؛ نو دا حدیث څکه راغلی، چې دا پوښتنه ځواب کړي او مسلمانان د خپل پیغمبر تر رحلت روسته سرګردان او حیران نه کړي؛ نو ځکه د نبي کریم د سپېڅلیو لارښوونو غوښتنه ده، چې پاک نبوي سنت، د اهل بیتو له لارې تر لاسه کړو؛ ځکه قرآن یې پر پاکلمنتوب او عصمت منښته کوي او دا اصطلاح (اهب بیت) پوره څرګنده ده او تاویل نه مني او یوازې همدا لار، د ژغورنې او له فتنې او بې لارېتوبه د بچېدو لار ده.

دلته دوې پوښتنې رامنځ ته کېږي، چې ځواب شوې نه دي او مطلب نه پر ډاګه کوي:

لومړی: په تېر حدیث کې له اهل بیتو مطلب څه دی؟

دوم: ولې د نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم حدیث، یوازې له اهل بیتو زده کړه مني او نه د ټولو اصحابو؛ لکه چې اهل سنت یې انګېري؟ اهل بیت څوک دي؟

مسلم په خپل سند په صحیح کې یې د شیبه له لور صفیه څخه روایتوي، چې حضرت عایشې بي بي (رض) وویل:

«.... رسول اکرم توره نخچې وړینه چپن اغوستې وه، چې حسن بن علي راغی او تر خپلې چپنې لاندې یې کړ، بیا حسین راغی او دا یې هم ترې ورلاندې کړ، ورپسې فاطمه راغله، چې دا یې هم تر خپلې چپنې لاندې کړه او بیا علي راغی او علي ته یې هم ځای ورکړ، بیا یې وویل:

[إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً[1]]

او بیا هم په صحیح مسلم کې راغلي:

.... د مباهلې آیت چې نازل شو [فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ وَنِسَاءنَا وَنِسَاءكُمْ وَأَنفُسَنَا وأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةُ اللّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ[2]]؛ نو حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم، علي، فاطمه، حسن او حسین راوبلل او و یې ویل: «یا الله! دوی مې اهل بیت دي[3]»

---

[1] (احزاب: ۳۳)

[2] (آل عمران: ٦١)

[3] (صحیح مسلم (۱۵ ۳۲ مخ) باب: فضایل علي)

له تېرو دوو احاديثو څرګندېږي، چې د نبي مکرم په زمانه کې، اهل بيت دا دي: علي، فاطمه او دوه زامن يې؛

نو د پيغمبر مېرمنې څه دي؟

مسلم په خپل صحيح کې په خپل سند له زيد بن ارقم (رض) روايتوي، چې رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل:

«په تاسې کې دوه ګرانبيه څيزونه پرېږدم، يو د الله کتاب دی، چې هماغه الهي رسۍ ده، چا چې ونيوه؛ نو هدايت يې موندلی او چې چا ډډه ترې وکړه؛ نو په بې لارېتوب کې دی او بل مې اهل بيت... »

روايت زياتوي: نو يو وويل: اهل بيت يې څوک دي؟

مېرمنې يې؟!

زيد وويل: نه په الله قسم، مېرمن له خپل مېړه سره تر يوې مودې وي، بيا شونې ده، طلاقه يې کړي او خپل پلار او قوم ته ورستنه شي؟

خو اهل بيت يې آر، بېخ او د بدن ټوټې دي، چې تر نبي مکرم روسته، صدقه پرې حرامه کړای شوې ده.»[1]

صحيح ترمذي، په خپل سند له عمرو بن ابی سلمه (د نبي مکرم پرکټي) روايتوي:

«انما يريد الله... آيت ام سلمه بي بي (رضی الله عنهما) په کور کې نازل شو، حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم، فاطمه، حسن او حسين را و غوښتل او چپن يې ترې راتاوه کړه او علي ورپسې و؛ نو ټول يې په چپن کې راتاو کړل، بيا يې وويل:

«يا الله! دوی مې اهل بيت دي؛ نو ناپاکي او چټلي ترې لرې او سپېڅلي يې کړه!»

ام سلمې (رض) وويل: رسول الله! زه هم ورسره يم؟ ځواب يې ورکړ: «پر خپل ځای وسه او البته ته به په خير يې»[2]

---

[1] (صحيح مسلم (۱۵/ ۲۷۴) باب فضايل علي.)

[2] ( صحيح ترمذي (۱۲/ ۲۰۹)، ۳۷۸۸ ګڼه حديث.)

امام احمد په خپل مسند کې له ام سلمې بي بي روايتوي: «رسول اکرم فاطمې ته وويل: مېړه او اولادونه يې راوله؛ را يې وستل، بيا آنحضرت فدکي چپن پرې واچوله، چې ټول يې را و نغاړل او و يې ويل:

يا الله! دوی «آل محمد» دي؛ نو خپل درود، صلوات او برکتونه پر «محمد او آل محمد» واستوه، چې په رښتيا، ته ستايل شوی او د ستريا څښتن يې.

ام سلمه وايي: چپن مې لرې کړه، چې ورننوځوم؛ نو حضرت مې چپن له لاسه واخسته او و يې ويل: ته به په خير وې.[1]

سره له دې چې اهل بيت په ډاګه ټاکل شوي؛ خو بيا هم ځينې يې نه مني او د احزاب سورت په دې آياتو دليل نيسي، چې د پېغمبر مېرمنې په اهل بيتو کې دي:

[يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلاً[2]]

ژباړه: پېغمبره! خپلو مېرمنو ته دې ووايه: ((که تاسې د دنيا ژوند او ښکلا يې غواړئ؛ نو راشئ، چې زه ګټه (= ښه خوري) درکړم او په ښه وضعيت مو خوشې کړم.

[وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا[3]]

ژباړه: او که الله، استازی يې او د آخرت کور غواړئ؛ نو [پوه شئ چې] الله ستاسې نېکانو ته ستره بدله چمتو کړې ده.))

[يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً[4]]

ژباړه: د پېغمبر مېرمنو! له تاسې چې څوک څرګند ناروا کار وکړي (؛ نو) عذاب يې دوه ګرايه کيږي او دا (کار) الله ته اسان دی.

---

[1] (امام احمد حنبل، مسند (٦\ ٣٢٣ مخ)
[2] (احزاب\ ٢٨)
[3] (احزاب\ ٢٩)
[4] (احزاب\ ٣٠)

[وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا[1]]
ژباړه: او له تاسي چې څوك د الله او دهغه د استازي امر ته په عاجزۍ پوره غاړه کېدي، او ښه (چارې) وكړي (؛ نو) دوه گرایه بدله به يې وركړو، او ارزښتمنه روزي مو ورچمتو كړې ده.
[يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا[2]]
ژباړه: د پيغمبر مېرمنو! تاسې هېڅ د (نورو) ښځو په څېر نه ياست (او غوره او خورا پازوالې يئ)؛ كه پرهېزگاري كوئ؛ نو په نرمۍ (او ناز) خبرې مه كوئ، چې پر زړه ناروغ تن درته تمه پيدا شي او سمې روغې سنجول شوې خبرې كوئ.
د پيغمبر مېرمنې څكه د اهل بيتو برخه گڼي، چې د «انما.... » آيت، د هغه آيت برخه ده، چې د پيغمبر مېرمنو ته په خطاب كې راغلی، چې دا استدلال له څو اړخونو باطل دی:
۱-په دې آيتونو كې چې يوه برخه يې د نبي مكرم د مېرمنو د طلاق د گواښ په اړه ده او ورپسې د اهل بيتو په سپېڅلتيا كې راغلی، هيڅ اړتيا نه لري، چې له دواړو ځايونو، مراد، د پيغمبر ښځې وي؛ ځكه ددې آيت په څېر، نور ډېر آيتونه دوه جلا جلا مطالب رانغاړي، چې ښايي علت يې زماني يووالي وي. بېلگه يې دا ده:
[حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ[3]]
ژباړه: پر تاسې يې (خوړل) حرام شوي دي: مرداره غوښه، وينه او د سركوزي غوښه او هغه څاروي، چې بې له ((الله)) د بل په نامه ذبح شي او هغه چې په (زندۍ) كېدو او په ځوړېدو يا له لوړې په راغورځېدو مړه شوي وي او يا هغه چې د كوم ځناور په ښكر څيرې شوی وي

---

[1] (احزاب\ ۳۱)
[2] (احزاب\ ۳۲)
[3] (مائده\ ۳)

او د داړن ښکاري ښاروي پاتې شونې وي؛ خو داچې (په موقع کې ښکار شوي ښاروي ته ورسئ، حلال او) سر يې غوڅ کړئ او هغه ښاروي، چې د بوتانو لپاره (يا يې په مخکې) ذبح شوي وي او(همداراز) دا هم درته ناروا ده، چې د پال (او جوارى) پر ښانګړيو غشيو د ښاروي غوښه ټوټه ټوټه کړئ. دا ټولې چارې (ګناه او) فسق دي، نن کافران ستاسې د دين (له زواله) نهيلې شوي؛ نو ځکه ترې مه ويريږئ؛ بلکې زما له مخالفته وويريږئ ! نن مې ستاسې دين دربشپړ کړ او خپله لورنه مې درتمامه کړه او اسلام مې ستاسې (تلپاتې) دين درته غوره کړ (؛ نو ځکه د حلالو او حرامو کوم بنديزونه، چې درلګول شوي، عملي يې کړئ)؛ خو څوک چې د سوکړې او سختې لوږې په حال کې (حرام خوراک ته اړ) شو او د ګناه نيت يې نه وي (؛ نو باك نشته، چې له منع شويو غوښو وخوري؛ ځکه) چې الله لورين ښښونکى دى.

په دې آيت کې وګورئ، چې د دين دا کمال او د نعمت د اتمام بحث، د حرامو خوړو په ترڅ کې راغلى دى.

۲-د نبي مکرم مېرمنې ځکه د «اهل بيتو» په آيت کې نه راځي، چې د پيغمبر ښځې د «جمعِ مونث» په صيغه راغلي؛ لکه دا افعال: «کنتن، منکن، لستن، تخضعن، و قرن فى بيوتکن، تبرجن....»

او چې کله د اهل بيتو د تطهير او سپېڅلتيا په اړه خبره کوي، مخاطب ضمير، له مونثه د «جمعِ مذکر» پر ضمير اوړېدلى: عنکم .... و يطهرکم.... او ويلي يې نه دي: عنکن... و يطهرکن.

۳-په صحيح مسلم، ترمذي سننو او د امام احمد حنبل په مسند کې د سمو احاديثو له مخې، د پيغمبر مېرمنې، په اهل بيتو کې نه شمېرل کيږي؛ ځکه حضرت صلى الله عليه و آله وسلم د ام سلمې د پوښتنې په ځواب کې وايي: رسول الله! زه هم ورسره يم؟ و يې ويل: پر خپل ځاى وسه او پايله به دې پر خير وي.

او د مسلم په روايت کې په ډاګه ټينګار شوى، چې د پيغمبر مېرمنې، په اهل بيتو کې نه شمېرل کيږي.

۴-د ثقلينو په حديث کې، چې امام مسلم، امام احمد او نورو روايت کړى، جوته شوه، چې د اهل بيتو او نبوي ځوځات لاروي لازم ده او که فرض کړو، چې په دې روايت کې د پيغمبر

مېرمنې هم مطلب دي؛ نو د نبي مکرم تر وفات روسته یې څرنګه لاروي وکړو، حال دا، قرآن عظیم الشأن ورته وایي: «و قرن فی بیوتکن- کورمېشتې شئ «لکه چې د پېغمبر ټولې مېرمنې په یوه وخت کې وې او که څوک ووایي: له روایاتو یې ګټنه وکړئ؛ په ځواب کې یې وایو: له ځینو مېرمنو خو یې ان یو روایت هم نه دی روایت شوی.

۵-په «انما یرید الله... » آیت کې چې «رجس» راغلی، په لغت کې د چټلۍ پر مانا دی او مطلب ترې «ګناه» ده او طهارت په لغت کې د پاکۍ پر مانا دی او مطلب ترې «تقوا» ده؛ نو د چټلۍ لرې کول ترې، مراد دا دي، چې سبحان خدای، اهل بیت له هرې (سترې او کوچنۍ) ګناه پاک کړي، چې دا یې بې له عصمت او پاکلمنتوبه نور څه نه دي.

او که وویل شي چې په آیت کې د تطهیر مطلب، یوازې دیني تقوا؛ له منهیاتو ډډه کول او له اوامرو اطاعت کول دي، دا چار بیخي مردود دی؛ ځکه په دې مانا تطهیر په اهل بیتو پورې ځانګړې نه دی؛ بلکې ټول مسلمانان مؤظف دي، دیني احکام پوره عملي کړي او دغسې سپېڅلتیا، ټولو متقي، مسلمانانو ته ده.

الله تعالی وایي:

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُواْ وَإِن كُنتُم مَّرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاء أَحَدٌ مَّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لاَمَسْتُمُ النِّسَاء فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ مَا يُرِيدُ اللّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَـكِن يُرِيدُ لِيُطَهَّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ[1]]

ژباړه: مؤمنانو! چې لمانځه ته پاځېدئ؛ نو خپل مخونه او لاسونه ترڅنګلو ووینځئ او خپل سرونه مسح کړئ او پښې مو تر پړکیو ووینځئ او که په جنابت کې یاست؛ نو (په لمبلو) ځان پاك کړئ او که ناروغ یا مسافر یاست او یا له تاسې څوك له اودسماتي راشي یا مو پر ښځو لاس لګولی وي (او کوروالی مو کړی وي) او (غسل یا اوداسه ته) اوبه و نه مومئ؛ نو پر پاکه

[1] (مائده\٦)

خاوره تیمم وکړئ او پر مخ و لاس يې راکاږئ، الله مو تنګول نه غواړي؛ بلکې غواړي پاك مو کړي او خپله لورنه درتمامه کړي. ښايي مننه يې وکړئ.

او په دې شان، د هغو وګړيو په پاکلمنتوب ګروهن شو، چې دا آيت يې په حق کې راغلی دی. د پېغمبر مېرمنې يې خو په اهل بيتو کې نه دي؛ ځکه دوی معصومې نه دي او له دې سره سره، تر اوسه يې چا هم په اړه دغسې ادعا نه ده کړې؛ ځکه حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم هغوی په طلاق ګواښي او نور مسايل هم شته، چې و به يې ولولئ.

## د اهلبيتو پر پاکلمنتوب نور دلايل

### ۱-د ثقلينو حديث

«.... انی ترکت فيکم ما ان تمسکتم به لن تضلوا کتاب الله و عترتي اهل بيتي»
د نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم له دې لارښوونې پوهېدای شو، چې د نه بې لارېتوب شرط، په واقع کې، پر کتاب الله او عترت منګولې لګول دي او بيخي معقوله نه ده، په چا کې چې د تېروتنې او ګناه احتمال وي، له بې لاريتوبه دې خوندي وي او دا د ثقلينو پر پاکلمنتوب او عصمت خورا ښه دليل دی:
د خدای کتاب «ثقل اکبر» دی، چې بيخي ورته باطل ننوتلای نشي او اهل بيت «ثقل کبير» دی.

### ۲-د بقرې سورت ۱۲۴ آيت

[وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ]
ژباړه: او (درياد کړئ) چې کله، الله ابراهيم په ډول ډول وسايلو وازمېيه او هغه هم له دې ازمېښتونو ښه راووت (ښو) الله ورته وويل: ((په رښتينه کې زه دې د خلکو امام او مشر ټاکم.)) [ابراهيم] عرض وکړ: ((او له ځوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) [الله] ورته وويل: ((ظالمانو ته مې ژمنه نه وررسي (او يوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي))).

دا آیت د امامت د مقام ستروالی راښیي او هم څرګندوي، چې د امت امامت به بیخي د ظالم پر برخه نشي او ګناه که کوچنۍ وي که لویه، تر سره کوونکی به یې ظالم کړي؛ نو اړینه ده، امام، له هرې تېروتنې او ګناه معصوم او پاکلمنی وي.
۳-په مستدرک الصحیحین (۱۲\ ۳۴۳ مخ) کې، حاکم په خپل سند له «حنش کناني» روایتوي: حضرت ابوذر (رض) مې ولید، چې د کعبې ور یې نیولی او ویل یې: خلکو! چې څوک مې پېژني؛ خو مې پېژني او چې مې نه پېژني، زه ابوذر یم، په رښتیا، وا مې وربېدل، چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم ویل: «زما د اهل بیتو مثال د نوح د بېړۍ په مثال دی، چې څوک پکې سپاره شول، وژغورل شو او چې چا ډډه ترې وکړه؛ نو ډوب شو.[1]»
حاکم وایي: ددې روایت سند سم دی.
۴-او همدغسې په مستدرک الصحیحین (۱۳\ ۱۴۹ مخ) کې له حضرت ابن عباس راغلي، چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «ستوري د ځمکوالو له ډوبیدو څخه ژغورندویان دي او اهل بیت مې، زما د امت له اختلاف او درزه ژغورنې دي؛ نو که د عربو کوم یو ټبر مې له اهل بیتو سره مخالفت وکړي؛ نو درز به پکې رامنځ ته شي او د ابلیس په ګوند کې به شي.»
۵-امام بخاري (رح) په خپل صحیح کې، د اهل بیتو د مقام د درناوي لپاره، دوی پر «علیهم السلام» اصطلاح یاد کړي او دا اصطلاح یې د پېغمبر مېرمنو او یارانو ته کارولې نه ده:
د صحیح بخاري (۱۳\ ۱۷۱ مخ) په کتاب البیوع، (د مکتبة الریاض الحدیثه چاپ) کې له حضرت علي کرم الله وجهه روایت شوی، چې په پیل کې یې لیکلي دي:
«عن علي علیه السلام قال: کانت لي شارف.... فلما اردت ان االنبي بفاطمة علیها السلام بنت رسول الله... »
او په دویم ټوک ۱۲۶ مخ کې یې راغلي:
«و طرق النبي صلی الله علیه و آله وسلم باب فاطمة و علیا علیهما السلام لیلة للصلاة»

---

[1] (صحیح بخاري (۸\ ۲۴۵ مخ) کتاب الدعوات، باب علی النبي، د مکتبة الریاض چاپ.)

او په څلورم ټوک، ۴۸٦ مخ، کتاب المناقب کې راغلي:
«.... رایت النبي و کان الحسین بن علي علیهما السلام یشبهه»
او په نهم ټوک، ۴۱۸ مخ، کتاب التوحید، باب المشیئة والارادة کې راغلي:
«.... عن علي بن الحسین علیهما السلام اخبره.... »
ښایي ځینې نیوکې وکړي، چې دا یې د امتیاز دلیل نه دی؛ خو په ځواب کې وایو: که دا یې د امتیاز دلیل نه وای؛ نو نورو ته به یې هم کارولی وای؛ خو خپله پرې شاهدان یو، چې دا یوازې د اهل بیتو ځانګړنې دي.
٦-نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم لارښوونه کړې، چې پر حضرت صلی الله علیه و آله وسلم صلوات، پر اهل بیتو یې له صلوات سره جوخت او همغږی وي. امام بخاري (رح) پخپل صحیح کې له عبدالرحمان بن ابي لیلي روایتوي: «کعب بن عجره (رض) ورته وویل: پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم راغی او ورته مو وویل:
رسول الله! پوه شو، چې څرنګه دربانديې سلام واچو؛ خو پوه نشو، چې څرنګه دربانديې درود ووایو؟»
آنحضرت وویل: ووياست: «اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم انک حمید مجید.»[1]
مسلمانانو ته لارښوونه شوې، چې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات روسته رجوع ورته وکړي لکه چې په یوه روایت کې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم علي ته وویل:
«ایا ښه دې نه راځي، چې ته راته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو دا چې تر ما روسته کوم بل پېغمبر نشته.»[2]
او چې څه مو وویل، ترې پوهېدای شو، چې الله تعالی، عصمت په اهل بیتو پورې ځانګړی کړی او دوی یې راتلونکي کهول ته د نبوي رسالت حاملان او لېږدوونکي ټاکلي، چې نبوي سنت، د اړوونکیو له اړونې وساتي او د شک اچوونکیو له شکه یې خوندي کړي او له آره دا

[1] (صحیح بخاري (۸\ ۲۴۵ مخ) کتاب الدعوات، باب علی النبي، د مکتبة الریاض چاپ.)
[2] (صحیح بخاري (۵\ ۴۹۲ مخ) کتاب المعازي چاپ.... مکتبه الریاض چاپ.)

امین وګړي دي، چې تر پېغمبر روسته، د الهي رسالت د تبلیغولو خوندېینه تضمینوي او چې څه پر تېرو شرایعو تېر شول، دې پوښتنې ته په ډاګه ځواب دی، چې د دوی لارویانو، د خپلو پېغمبرانو تر رحلت روسته، د شرایعو احکام، له هر چا واخستل، تر دې چې ډېرې اړونې پکې رامنځ ته شوې، چې الله (ج) ترې خبر کړي یو:

[أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ[1]]

ژباړه: [مؤمنانو!] ایا هیلمن یاست، چې (سرسخت یهود) به ستاسې پر (دین) ایمان راوړي؟ حال دا یوې ډلې یې تل د الله خبرې اورېدې، چې پرې پوه به شول (بیا به یې) روسته یې آګاهانه اړولې!.

او لنډه خبره دا چې له هر زیاتي او کمي څخه د قرآني متونو ساتنه، په یوازې ځان، الهي شریعت له اړونې نشي ژغورلای.

نو ځکه، امامت او مشرتوب په ګردو چاور کې (بې له وحې چې د نبوت له ځانګړنو ځنې ده) د پېغمبرۍ غځونه ده او د پېغمبرۍ له غځونې مراد دا دی، چې امامت، په ویناوو او کړنو کې، د شرعي احکامو پاسوال دی او په دې شان، د امامانو د عصمت اړتیا رادبره کېږي؛ ځکه لازم دي، له پاکې لارې او بې له څه ټګۍ برګۍ او سوچه سرچینې، اسلامي شریعت؛ راتلونکي کهول ته ولېږدول شي، چې بېشکه دوی د نبوي کورنۍ دولس ګوني امامان دي.

## د نبي مکرم د خلفاوو شمېر

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم خبر کړي یو، چې له ما روسته خلفاء او امامان؛ له قریشو ځنې دي، چې شمېر یې دولس تنه دی.

امام بخاري (رح) په خپل صحیح کې له جابر بن سمرة (رض) روایتوي، چې نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم وویل:

[1] بقره\ ۷۵

«له ما روسته به دولس تنه اميران راشي، بيا يې يوه خبره وکړه، چې ما وا نه وريده؛ خو پلار مې وويل، چې ويلي يې دي:
«دا ټول له قريشو څنې دي[1]»
په صحيح مسلم کې راغلي:
«دين به تر قيامته همدغسې پر خپل ځان ټينګ ولاړ وي او دولس تنه خلفا به دربانديې راشي، چې ټول يې قريش دي.[2]»
او بيا هم په صحيح مسلم کې راغلي:
«پر خلکو چې دولس تنه واکمني ولري؛ نو چارې به يې همدغسې پر مخ ولاړې شي.[3]»
د امام احمد (رح) په مسند کې، له «عبدالله بن مسعود» رضی الله عنه څخه روايتوي، چې نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم د خلفاوو په اړه وپوښتل شو او و يې ويل:
«دولس تنه د بني اسرائيلو د نقيبانو په شمېر.[4]»
او له کتابيانو سره په شته تورات کې راغلي:
«الله تعالی، حضرت ابراهيم ته د اسماعيل په نامه د يوه زوی زېری ورکړ او دا چې څوځات به يې غځوي او په څوځات کې يې دولس تنه اميران دي او يو ستر امت رادبره کوي.[5]»
او بېشکه له ستر امته مراد، هماغه د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم امت دی، چې د حضرت اسماعيل له څوځاته دی او دولس تنه اميران، هماغه له نبي مکرم روسته امامان او خلفاء دي، چې نسل يې ور رسي او همغوی دي، چې په تېرو رواياتو کې يې يادونه وشوه.
خو د اهل سنتو عالمان، په دې اړه سرګردانه دي او د دولس ګونو خلفاوو په شمېرنه کې په ټپه ولاړ دي؛ لکه سيوطي (رح) وايي:

---

[1] (صحيح بخاري (۹| ۲۵۰ مخ) کتاب الاحکام چاپ مکتبة الرياض چاپ.)
[2] (صحيح مسلم (۱۴| ۴۸۲ مخ) کتاب الاماره، چاپ: دارالشعب.)
[3] (صحيح مسلم (۱۴| ۴۸۲ مخ) کتاب الاماره، چاپ: دارالشعب.)
[4] (امام احمد حنبل، مسند (۱| ۳۹۸ مخ)
[5] (سفر (برخه): تکوين (۱۷: ۲)

«له دي دولسو تنو، د څلور خلفاوو (ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم) حسن (رض)، حضرت معاویه بن ابوسفیان، عبدالله بن الزبیر، عمر بن عبدالعزیز (رح) نامې اخستای شو، چې دوی اته تنه دي او شونې ده، مهدي عباسي هم ورزیات پرې کړو؛ ځکه دا په عباسیانو کې داسې و لکه عمر بن عبدالعزیز چې په امویانو کې و او طاهر عباسي هم ښایي، یو له هغو دولسو تنو څنې و؛ ځکه چې دا هم یو عادل سړی و او دوه نور یې پاتېږي، چې یو یې مهدي دی، چې له اهل بیتو څنې دی.»[1]

دا خو د دوی د عالمانو سرګرداني ده؛ خو عوامو یې له آره دغسې احادیث بیخي اورېدلي نه دي، چې د پېغمبر د خلفاوو شمېر دولس تنه دی یا یې د ثقلینو حدیث اورېدلی وي، چې د اهل بیتو په څانګړنو کې راغلی دی، که څه، د اهل سنتو په صحاحو او مسانیدو کې راغلی هم دی.

اوس د امامیه شیعه وو (دولس ګونو خلفاوو لارویان) نظر ته راځو:

دوی د اهل بیتو لارویان دي او له دولس ګونو خلفاوو یې مراد، د اهل بیتو دولس ګوني امامان دي او په دې اړه ورته د نبوي سپېڅلي څوځات له لورې روایات راغلي، چې د دوی حدیثي ټولګې ترې ډکې دي، چې دا (علیهم السلام) دي:

۱-امیر المؤمنین علي بن ابی طالب

۲-حضرت حسن بن علي «السبط»

۳-حضرت حسین بن علي «سیدالشهداء»

۴-حضرت علي بن الحسین «زین العابدین»

۵-حضرت محمد بن علي «الباقر»

٦-حضرت جعفر بن محمد «الصادق»

۷-حضرت موسی بن جعفر «الکاظم»

۸-حضرت علي بن موسی «الرضا»

۹-حضرت محمد بن علي «الجواد»

---

[1] (سیوطي، تاریخ، ۱۲ مخ، د قاهرې د الفجالة الجدیرة چاپ.)

۱۰-حضرت علي بن محد «الهادي»
۱۱-حضرت حسن بن علي «العسكري»
۱۲-حضرت حجة بن الحسن، امام زمان عجل الله فرجه الشريف.

## د علي كرم الله وجهه د خلافت دلايل

پر تېرو احاديثو سربېره، د ثقلينو حديث هم د علي كرم الله وجهه خلافت جوتوي. نبي كريم صلى الله عليه و آله وسلم د هجرت پر يوولسم كال تر حجة الوداع روسته هم په «خم» نومې ډنډ كې يوه خطبه وويله، چې د «خم غدير» پر خطبې يادېږي.

امام ترمذي، له حضرت زيد بن ارقم (رض) روايتوي، چې آنحضرت وويل: «د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی.[1]»

امام ابن ماجه پخپل صحيح كې د دې خطبې يوه برخه پخپل سند، له حضرت برا بن عازب (رض) څخه روايت كړې:

«له رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم سره له حج نه راستانه او په لار كې تم شو او د جماعت د لمانځه امر يې وكړ، بيا يې د علي لاس پورته كړ او و يې ويل: ايا زه پر مؤمنانو تر ځانونو يې وړ نه يم؟ وويل شو: هو! و يې ويل: ايا زه پر هر مؤمن تر ځان يې وړ نه يم؟ وويل شو: هو! و يې ويل؛ نو د چا چې زه مولا يم، دا يې مولا دی، يا الله، دوست يې دوست وګڼه او دښمن يې دښمن.[2]»

او د امام احمد په مسند كې د براء بن عازب (رض) په روايت كې راغلي: په مسافرت كې له نبي كريم صلى الله عليه و آله وسلم سره وو او په خم غدير كې تم شو. منادي غږ كړ: د جماعت لمونځ كيږي. نبي مكرم صلى الله عليه و آله وسلم ته يې تر دوو ونو لاندې ټغر خور كو؛ نو آنحضرت صلى الله عليه و آله وسلم د ماسپښين لمونځ وكړ او علي يې له لاسه ونيو او و يې ويل: «ايا نه پوهېږئ، چې پر مؤمنانو تر ځانونو يې وړ يم؟ وويل شو: هو! و يې ويل: ايا نه پوهېږئ، چې زه پر هر مؤمن تر ځان يې ړومبی يم؟ وويل شو: هو! نو علي كرم

---

[1] صحيح ترمذي (۱۲\۲۹۸ مخ) ۳۷۱۳ ګڼه حديث.
[2] (ابن ماجه سنن (۱۱\۴۳ مخ) ۱۶ ګڼه حديث، باب: فضايل علي (ک).

الله وجهه يې له لاسه نيولی و، و يې ويل: د چا چې زه مولا يم؛ نو علي يې هم مولا دی. يا الله! دوست يې دوست وګڼه او دښمن يې دښمن وګڼه.
راوي وايي: تر دې روسته حضرت عمر بن خطاب (رض)، علي کرم الله وجهه وليد او مبارکي يې ورکړه، چې د ابوطالب زويه، سهار او بېګاه د هر مؤمن او مؤمنې مولا يې. [1] »
د «غدير حديث» د اهل سنتو عالمانو له اتيا لارو روايت کړی دی.[2]
او له دې حديث څخه پوهېدای شو، چې نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم مسلمانان، پر دوی د خپل ولايت ګواهان ونيول، چې و يې پوښتل: ايا نه پوهېږئ، چې پر مؤمنانو تر ځانونو يې وړ يم؟.... ايا نه پوهېږئ، چې زه پر هر مؤمن تر ځان يې ړومبی يم؟ او ځرګندېږي ځوک چې پر مؤمنانو د ړومبيتوب صفت او ځانګړنه لري؛ نو هرومرو د مؤمنانو مشر دی، چې نبي مکرم هم د مؤمنانو مشر دی او علي کرم الله وجهه يې، چې له ځان سره په دې صفت کې ورګډ کړ او و يې ويل: «د چا چې زه مولا يم؛ نو علي کرم الله وجهه يې هم مولا دی»
نو ځرګندېږي، چې تر ځان روسته يې د مؤمنانو مشري ورترغاړې کړې او له همدې لامله؛ شيعه هر کال د ذي الحجې اتلسمه، په دې اړه اختر کوي او د «غدير اختر» يې نوموي؛ خو اهل سنتو دا حديث په بله مانا نيولی او د خلافت مانا ترې نه اخلي؛ بلکې «مولی» يې پر دوست، رفيق او ملګري مانا کړی؛ نو ځکه يې له نظره، د حديث مانا دا ده:
«د چا چې زه دوست او ملګری يم؛ نو علي کرم الله وجهه يې هم دوست او ملګری دی!!»
حقيقت دا دی، چې مولی په عربي کې بېلابېلې ماناوې لري، ان چې (۱۷) ماناوې لري، چې يو يې «ازاد کړای شوی مريی» او «نوکر» دی؛ خو د قراينو له مخې، په دې حديث کې د «مولی» مانا؛ مشرتوب دی او له قراينو يې دا دي:
۱-[يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ[1]]

---

[1] (امام احمد حنبل، مسند (۴/ ۲۸۱ مخ)

[2] (د غدير حديث د پېژندنې لپاره وګورئ: علامه اميني، الغدير چې په شلو ټوکو کې په فارسي ژباړل شوی دی.)

ژباړه: او [د الله] استازیه! څه چې ستا د پالونکي له لوري درنازل شوي، (ټول يې خلکو ته) ورسوه او که داسې و نه کړې؛ نو د ده پيغام دې نه دی رسولی او الله دې د خلکو (له احتمالي زيانونو) ساتي. هو ! الله، "الله ناپېژاندو" ته سمه لار نه ورښيي.

لکه چې په بېلابېلو تفاسيرو کې راغلي:
دا آيت د غدير تر خطبې له مخه نازل شوی او مفهوم يې د الله له لوري يو مهم چار راښيي، چې لازم دي، خلکو ته ابلاغ شي او د آيت له توند لحنه هم څرګندېږي، چې دا يو مهم او ستر چار دی او موخه يې بيخي په دوستۍ او ملګرتوب کې نه رانغاړېږي[2].
٢-[حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ[3]]
ژباړه: پر تاسې يې (خوړل) حرام شوي دي: مرداره غوښه، وينه او د سرکوزي غوښه او هغه څاروي، چې بې له ((الله)) د بل په نامه ذبح شي او هغه چې په (زندۍ) کېدو او په ځوربدو يا له لوړې په راغورځېدو مړه شوي وي او يا هغه چې د کوم ځناور په ښکر ځيرې شوی وي او د داړن ښکاري څاروي پاتې شونې وي؛ خو داچې (په موقع کې ښکار شوي څاروي ته ورسئ، حلال او) سر يې غوڅ کړئ او هغه څاروي، چې د بوتانو لپاره (يا يې په مخکې) ذبح شوي وي او (همداراز) دا هم درته نارو ده، چې د پال (او جوارۍ) پر ځانګړيو غشيو د څاروي غوښه ټوټه ټوټه کړئ. دا ټولې چارې (ګناه او) فسق دي، نن کافران ستاسې د دين (له زواله) نهيلي شوي؛ نو څکه ترې مه وېرېږئ؛ بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ ! نن مې ستاسې دين دربشپړ کړ او خپله لورنه مې درتمامه کړه او اسلام مې ستاسې (تلپاتې) دين درته

---

[1] (مائده\ ٦٧)
[2] (واحدي، اسباب النزول، ١٣٥ مخ + رازي، تفسير کبير (١٢\ ۴٨ او ۴٩ مخونه)
[3] (مائده\ ٣)

غوره کړ (؛ نو ځکه د حلالو او حرامو کوم بندیزونه، چې درلگول شوي، عملي يې کړئ)؛ خو څوک چې د سوکړې او سختې لوږې په حال کې (حرام خوراک ته اړ) شو او د گناه نیت يې نه وي (؛ نو باك نشته، چې له منع شویو غوښو وخوري؛ ځکه) چې الله لورین ښښونکی دی.

ددې آیت په اړه، ډېرو مفسرينو ويلي: د غدير تر پېښې روسته نازل شوی، چې د «محمد صلی الله علیه و آله وسلم» د رسالت تامېدل راښيي او لکه چې بې له دې مهم چاره، رسالت تبلیغ او تمام شوی نه دی، چې دا یوازې د علي او اهل بیت له ولایته بل څه نه دي او دا له حقیقته ډېره لرې ده، چې د پېغمبر د رسالت د تبليغ تامول، له علي کرم الله وجهه سره د مينې په ښودلو کې راونغاړو.[1]

۳-دا چې نبي کريم صلی الله علیه و آله وسلم په سختو او مهمو شرايطو کې د غدير خطبه وويله، په تودې بېديا کې يې مسلمانانو ته (چې تر نوي زرو تو ډېر وو) د راټولېدو حکم وکړ او له دوی يې مخکې تر دې چې، د علي د ولایت منلو امر ورته وکړي، د الله او پېغمبر پر ولایت يې منښته واخسته؛ نو دا ټولې چارې راښيي، چې دا چار له علي سره په دوستۍ کولو کې رانغاړېږي؛ بلکې تر دې هم خورا مهم دی.

۴-تېرو احاديث او په تېره د «ثقلينو» حديث او هغه احاديث چې روسته به وويل شي، په ټولو کې په ټينگه د علي خلافت راښيي، چې د هيڅ شک او شبهې ځای نه پاتېږي.

## د علي کرم الله وجهه خلافت ته نور دلايل

په صحيح ترمذي کې له عمران بن حصين (رض) څخه روايت دی:

«رسول اکرم د علي په بولندوينې يو لښکر ولېږه، لښکر روان و او لکه چې يو پوځي پر يوې مينزې تېری وکړ. څلورو تنو اصحابو، نبي مکرم ته د علي له لاسه شکايت وکړ، چې د پوځي

[1] (سيوطي دارالمنثور، (۲/ ۲۵۹ مخ)+ بغداد تاريخ (۸/ ۲۹۰ مخ)

گناه پر علي ده. حضرت رسول غوسه ورته وویل: «له علي څه غواړئ؟ علي زما او زه له علي یم او تر ما روسته د هر مؤمن ولي دی.[1]»
[إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ[2]]
ژباړه: ستاسې ولي او پالندوی خو یوازې الله، استازی یې او هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.

د اهلسنتو ډېرو مفسرینو روایت کړی، چې دا آیت د علي کرم الله وجهه په اړه نازل شوی؛ هغه مهال یې چې په رکوع کې خپله گوته یو بېوزلي ته ورکړه. په صحیح بخاري کې له معصب بن سعد له پلاره یې (رضی الله عنهما) روایتوي چې:
رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم تبوک ته روان شو او علي کرم الله وجهه یې په مدینه کې خپل ځایناستی کړ؛ نو علي کرم الله وجهه وویل: رسول الله! ما کوچنیانو او ښځو ته خپل ځایناستی کوې. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «ایا خوښ نه یې، مقام دې راته داسې وي لکه هارون چې موسی ته و، خو بې له دې چې تر ما روسته بل پیغمبر نشته؟»[3]
او دا حدیث راښیي، چې هارون بې له نبوته، په بني اسرائیلو کې د موسی علیه السلام ټول منصبونه درلودل، چې قرآن د دې منصبونه په اړه وایي:
[وَاجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي[4]]
ژباړه: او له کورنۍ مې یو وزیر (مرستیال) راوټاکه؛
[هَارُونَ أَخِي[5]]

---

[1] (طبري تفسیر، (۶\ ۱۸۶) + واحدی اسباب النزول ۱۳۳ مخ+ حاکم حسکاني حنفي شواهد التنزیل (۱\ ۱۶۴ مخ) + انساب الاشراف (۲\ ۱۵۰ مخ، ۱۵۱ گڼه حدیث.)
[2] (مائده\ ۵۵)
[3] (صحیح بخاري (۵\ ۴۹۲ مخ) کتاب المغازي.)
[4] (طه\ ۲۹)
[5] (طه\ ۳۰)

ژباړه: رور مې هارون.
[اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي[1]]
ژباړه: ملا مې پرې ټينگه کړه؛
[وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي[2]]
ژباړه: او زما په کار کې يې رابرخوال کړه؛
[كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيراً[3]]
ژباړه: چې ستا ډېره پاکي ووايو؛
[وَنَذْكُرَكَ كَثِيراً[4]]
ژباړه: او تا ډېر ياد کړو؛
[إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيراً[5]]
ژباړه: ځکه ته هميش زموږ پر حالاتو څارن وې.

له دې آيتونو پوهېداى شو، چې هارون عليه السلام د موسى عليه السلام وزير، ملگرى او د امت په مشرتوب کې يې برخوال و.

او د علي دا وړتيا ددې له لامله وه، چې د نبي مکرم په ټولو يارانو (رضى الله عنهم) کې پوه و.

امام بخاري (رح) له حضرت ابن عباس (رض) څخه روايتوي، چې حضرت عمر بن خطاب (رض) وويل: «په موږ کې په قرآن لوستو کې ابى خورا غوره او په قضاوت- ورمندون کې علي دى.[6]»

---

[1] (طه\ ۳۱)

[2] (طه\ ۳۲)

[3] (طه\ ۳۳)

[4] (طه\ ۳۴)

[5] (طه\ ۳۵)

[6] (صحيح بخاري (۱۰۱٦ مخ) کتاب التفسير، باب قوله: «مان نسخ من ايه... »

او په حقیقت کې په ورمندون کې هغه خورا غوره وي، چې تر نورو پر احکامو او قوانینو ښه پوه وي او د پوهې د جوتولو لپاره یې بسیا ده، چې هغه په ټولو اصحابو کې د نبي مکرم د علم او حکمت د ښار ور و.
په مستدرک الصحیحین (۱۳\ ۱۲۲ مخ) کې له حضرت ابن عباس (رض) څخه روایتوي:
«رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل:
«زه د علم ښار یم او علي یې ور دی؛ نو چې څوک د علم ښار ته راننوځي، باید پر وره، یې راننوځي.»
په صحیح ترمذي (۱۲\ ۲۹۹ مخ) کې له احضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي:
«زه د حکمت ښار یم او علي یې ور دی.»
او په مستدرک الصحیحین (۱۳\ ۱۲۲ مخ) کې راغلي: رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم علي کرم الله وجهه ته وویل: «تر ما روسته، امت مې چې اختلاف-اړپېچ وکړ؛ نو ته به یې ور څرگند کړې.»
تر دې اوچت خو دا چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم له علي کرم الله وجهه سره دښمني، د نفاق نښه ښودلې ده.
په صحیح مسلم (۱۱ ۲۶۲ مخ) باب: حبِ علي کرم الله وجهه کې له علي کرم الله وجهه روایت شوی:
«پر هغه الله قسم، چې دانه یې وچوله او انسانان یې وپنځول، قسم چې اُمّي نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم راسره ژمنه وکړه، چې یوازې مؤمن به دې ښه گڼي او یوازې د منافق به بد راځې.»
او ان که پېغمبر خپل ځیناستی هم نه وای ټاکلی، ایا وړ نه ده، چې اسلامي امت خپلې مشرۍ ته اعلم او هغه غوره کړي، چې تر نورو ښه حق له باطلو بېلولای شي؟
مخکې مو وویل: علي کرم الله وجهه تر ټولو اصحابو پوه و او هره ستونزه یې هواري ته وروړه؛ لکه:
ابو داوود له ابن عباس (رض) څخه روایتوي:
حضرت عمر (رض) ته یې یوه لېونۍ زاني ښځه راوسته، حضرت عمر (رض) له ځینو سره مشوره وکړه؛ بیا یې امر وکړ، چې سنگسار یې کړي. علي کرم الله وجهه له هغه ځایه تېرېده و

يې پوښتل: څه خبره ده؟ وويل شو: د پلاني ټبر پر لېونۍ زاني ښځې د سنگسار حکم شوی دی. راوي وايي: علي وويل: راستنه يې کړئ. بيا په عمر پسې ورغی او و يې ويل: عمره! نه پوهېږې چې درې تنه بچ دي: لېونی چې روغ شي، پر خوب ويده چې راويښ شي او کوچنی چې عقلمن شي؟ و يې ويل: هو! و يې ويل: نو ولې دا ښځه سنگساروئ.
حضرت عمر (رض) وويل: نه پوهېږم. و يې ويل: نو خوشې يې کړئ. راوي وويل: عمر (رض) پر تکبير ويلو پيل کړل.[1]»
امام بخاري (رح) هم په خپل صحيح کې ددې داستان يوه برخه راوړې ده.[2]
پر دې سربېره، علي د زاهدانو پر امام مشهور شوی و او مړانه يې د ټولو پر خولو وه. د اسلام لومړنی سرښندوی و او د نبي مکرم په هرې غزا کې يې ستره ونډه درلوده.
د بدر په غزا کې يې په خپله توره، د قريشو دېرش تنه اتلان ووژل.
د احد او حنين په غزاگانو کې هغه تاريخي مړانه وکړه، چې ډېر اصحاب تښتېدلي وو او اتلانه يې له پيغمبر څخه دفاع وکړه او د انسانيت په تاريخ کې يې خپله خورا سرښندنه وکښله.
د خندق په غزا کې چې د مشرکانو اتل عمرو بن عبدو عامري، مسلمانان مبارزې ته راوبلل؛ نو په مسلمانانو کې چا ورسره د مبارزې جرئت نه درلود، حال دا، نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم درې ځل له مسلمانانو وغوښتل، چې جگړه ورسره وکړئ، دغه مهال، د علي کرم الله وجهه عمر تر نورو اصحابو لږ و؛ خو يوازې علي و، چې ډگر ته يې ورودانگل او و يې واژه.
د خيبر په غزا کې، الله تعالی دده په لاس د کلا ور پرانست، حال دا، د پيغمبر تر نورو اصحابو مستثنی و؛ ځکه بيخي يې په جاهليت کې بوتان نه ول لمانځلي او روزنه يې د بشريت د لومړي استاد او لومړني بشپړ انسان حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم پر غاړه وه او تر مړينې پورې يوه شېبه ترې جلا نشو، د مړينې پر مهال د نبي مکرم سر د علي

---

[1] (ابو داوود سنن (۴/ ۴۰ مخ)۴۳۹۹ گڼه حديث.)
[2] (۲ صحيح بخاري (۸/ ۲۰۴ مخ) کتاب المجانين.)

کرم الله وجهه په غېږ کې و او ټول عمر يې له نبي مکرم څخه پوهه او حکمت زده کړی و؛ نو په حق وړ و، چې د پېغمبر د علم او حکمت ښار او ور يې و.

امام بخاري په خپل سند، له ابن عمر (رض) څخه روايتوي: رسول اکرم د خپلو اصحابو ترمنځ روري جوړه کړه، علي په ژړا راغی او و يې ويل: رسول الله! د خپل اصحابو ترمنځ دې روري وکړه؛ خو زما دې له بل سره روري و نه کړه. رسول اکرم وويل: «ته مې په دنيا او آخرت کې رور يې.» [1]

تر دې اوچت خو لا دا، حضرت رسول، علي له ځانه ګاڼه، په بخاري کې راغلي چې علي ته يې وويل: «ته له ما يې او زه له تا يم.[2]»

علي تر ټولو اصحابو افضل و؛ ځکه فضايل يې تر نورو ډېر وو.

حاکم په خپل مستدرک (۱۳\ ۱۷۰ مخ) کې د امام احمد حنبل له خولې وايي:

«د پېغمبر يو صحابي هم، د علي کرم الله وجهه هومره فضايل نه لري»

په کنزالعمال (۱۱۳\ ۳۰ مخ) **۳۷۷۵۳** ګڼه حديث کې راغلي، چې نبي مکرم وويل: «الله امر راته وکړ، چې لور مې فاطمه، علي ته ورواده کړم» او له دې لامله، چې نبي مکرم د ډېر و اصحابو غوښتنه رد کړې، چې له فاطمې سره واده وکړي او د يوه ستر شرافت خاوندان شي؛ هغه فاطمه، چې د پېغمبر د تن ټوټه، د نړۍ د ښځو سرداره، د جنتي ښځو سروره او هماغه چې په غوسه يې، الله غوسه کېږي او څه سم ويل شوي: «که علي پيدا شوی نه وای؛ نو د فاطمې سيال به نه و.»[3]

---

[1] (صحيح ترمذي (۱۲\ ۲۹۹ مخ) ۳۷۲۰ مخ)

[2] (صحيح بخاري (۱۵\ ۴۳ مخ) کتاب الفضايل الصحابه.)

[3] (صحيح بخاري (۱۵\ ۴۳ مخ) کتاب الفضايل الصحابه)

نه باید د مشرۍ نصوص له پامه غورځول شوي وای[1].
موږ چې څه وویل، په څرګندو دلایلو مو د اهل بیتو د ولایت اړتیا جوته کړه، چې تر نبي مکرم روسته، د امت د مشرۍ لپاره امام علي او یوولس زامن یې دي.
اوس یوه مهمه پوښتنه رامنځ ته کېږي او هغه دا چې:
که دا روایات او احادیث د اهل بیتو د مشرۍ په اړه وي؛ نو ولې او څرنګه خلافت نورو ته ورسېد؟
ایا په رښتیا اصحابو د نبي مکرم لاروي نه کوله او امرونه یې نه منل؟
ددې پوښتنې ځواب ته، لومړی د اسلامي تاریخ مهمې پېښې یادوو، چې د اسلامي تاریخ د بهیر په ادلون بدلون کې یې ستر اغېز درلود او قضاوت- ورمندون یې لوستوونکیو ته پرېږدو.

**مهمې پېښې دا دي:**

۱-نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځینو اصحابو د وصیت له لیکلو منع کړ.
۲-ځینو اصحابو د اسامه په لښکر کې برخه وا نه خسته او د ده بولندوینه یې و نه منله.
۳-د سقیفې پېښه او له حضرت ابوبکر (رض) سره بیعت.
۴-د حضرت عمر (رض) خلیفه کېدل.
۵-د حضرت عثمان (رض) خلیفه کېدل.
٦-د زمانې پر خلیفه د ام المؤمنین راپاځېدل او د «جمل» جګړه.
۷-د حضرت معاویه بن ابوسفیان سرغړونه او د «صفین» پېښه.
۸-د حضرت علي شهادت.
۹-د سولې تړون او د امام حسن مجتبی (رض) شهادت.
۱۰-د کربلا خوځښت او د امام حسین (رض) شهادت.
دا هره پېښه تر یوې اندازې څېړو.

[1] د غدیر حدیث د پېژندنې لپاره وګورئ: اروابناد امیني، الغدیر چې په شلو ټوکو کې په فارسي ژباړل شوی دی.

ځینو اصحابو، نبي مکرم د وصیت له لیکلو منع کړ، امام بخاري په دې اړه په خپل صحیح کې شپږ احادیث روایت کړي، چې آریزه پېښه، د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات څلور ورځې مخکې وه. له ابن عباس (رض) څخه روایتوي:

«د پنجشنبې ورځ! او څه پنجشنبه تېره شوه! د پېغمبر ناروغي سخته شوې وه، و یې ویل: راشئ، یو مطلب درته ولیکم، چې روسته ترې بیخي بې لارې نشئ. په ناسته کې ګډونوالو یو له بل سره په لوړ غږ خبرې اترې وکړې، حال دا، روا نه ده، د یوه پېغمبر په مخ کې هم په لوړ غږ خبرې وشي. بالاخره یې وویل: څه پرې شوي؟ پرتې خو به نه وایي؟!! او په هر حال، خبرې یې نالیدې وګڼلې؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «ما پرېږدئ، پر کوم حال چې یم، تر هغه غوره یم، چې تاسې مې وربولئ.[1]»

په بل روایت کې له ابن عباس (رض) څخه روایتوي: هغه مهال چې حضرت نبي صلی الله علیه و آله وسلم د احتضار پر حال و، یوه ډله یې په کور کې راټوله شوې وه. نبي مکرم وویل: راشئ، یو څیز درته ولیکم، چې روسته ترې بې لارې نشئ. ځینو ګډونوالو وویل: د رسول الله درد زیات شوی او قرآن هم راسره دی، قرآن راته بس دی او بیا یې اختلاف وکړ او غږونه یې پورته شول، ځینو وویل: یو کاغذ ورکړئ، چې یو څه درته ولیکي، چې روسته ترې بې لارې نشئ او ځینو نورې خبرې کولې. چې خبرې اترې ډېرې شوې او اختلاف زور واخست، حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم وویل: پاځئ، وځئ!

عبیدالله وایي: ابن عباس (رض) تل ویل: مصیبت! ډېر سخت مصیبت هغه ورځ و، چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم یې پرېنښود، چې څه ورته ولیکي؛ ځکه پر هغه ورځ یې ډېره شخړه وکړه.[2]

او په درېیم روایت کې له ابن عباس څخه روایتوي: هغه مهال چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم د احتضار په حال کې و، یو ټولی د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم په کور کې و، چې عمر بن خطاب (رض) هم پکې و. نبي مکرم وویل: «هن! راشئ، یو څه

---

[1] (صحیح بخاري (۵\ ۵۱۱) کتاب المغازي، باب مرضی النبي ووفاته)

[2] (صحیح بخاري (۵\ ۵۱۲) کتاب المغازي، باب مرضی النبي ووفاته)

درته ولیکم، چې تر ما روسته بیخي بې لارې نشئ. بیا نو حضرت عمر (رض) وویل: «د پېغمبر درد زیات شوی او قرآن هم درسره دی، د الله کتاب راته بس دی!»
په کور کې ګډونوالو په شخړه لاس پورې کړ، یوې ډلې وویل: پرېږدئ، پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم درته یوه لیکنه وکړي، چې روسته ترې بیخي بې لارې نشئ او بلې ډلې، د عمر بن خطاب (رض) خبره وویله، چې شخړې او غږونو زور واخست؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: پاڅئ او وځئ!
عبیدالله وایي: ابن عباس (رض) هم همېشه ویل، مصیبت، ګرسره مصیبت پر هغه ورځ و، چې غالمغال او شخړو پرېنښود، چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم هغه مطلب ورته ولیکي.[1]
او په صحیح مسلم کې دا لفظ راغلی: «.... نو یې وویل: رسول الله پرتې وایي».[2]
او په بل روایت کې راغلي: «نو عمر (رض) یوه خبره وکړه، چې مانا یې دا وه: د پېغمبر درد زیات شوی دی. بیا یې وویل: موږ قرآن لرو او قرآن راته بس دی.[3]
وینئ چې په دې روایت کې «پرتې وایي» (یهجر) مودبانه شوی او راوي وایي: عمر (رض) یوه خبره وکړه، چې مانا یې دا وه، چې پېغمبر د درد د غلبې له لامله دا خبرې کوي!!
په ټېرو روایاتو کې له ځېرني ډاډمنېږو، چې یوازې حضرت عمر بن خطاب (رض) ویل، چې پېغمبر پرتې وایي، چې ځینو ګډونوالو اصحابو هم دا خبره تایید کړه او په پایله کې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم یې غوسه کړ او له غونډې یې وشړل او و یې ویل: قوموا عنی: ولاړ شئ! او رانه پاڅئ.
حقیقت دا دی، بېشکه د پېښې پایله دا ده، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ته سپکاوی شوی او الله پوهېږي، چې ددې روایت په لوستو ماته یو ستر ټکان و او زما په اند، چې ډېر اهل سنت له دې پېښې او خطرناکو پایلو یې هډو خبر نه دي.

---

[1] (صحیح بخاري (۱۷ ۳۸۹ مخ) کتاب المرضی، باب: قول المریض قوموا عنی)
[2] (صحیح مسلم (۱۴ ۱۷۵ مخ) ۲۱ ګڼه حدیث، کتاب الوصیه.)
[3] (ابوبکر جوهري، السقیفه، ۷۳ مخ + صحیح مسلم (۱۳ ۱۲۵۹ مخ) ۲۲ ګڼه حدیث)

ان ځینو وګړیو د سخت ټکان له لامله په پیل کې باورولای نشول او ډېر حیرانېدل ان ځینو قسمونه وخوړل، که په رښتیا، په بخاري کې دغسې یوه پېښه وي؛ نو تر دې روسته ددې کتاب په یوه روایت هم نه ډاډمنېږي او یو یې په پیل کې روایت ومانه (ځکه له صحیح بخاري روایت شوی و)؛ خو چې پوه شو، حضرت عمر (رض) یې تر ټولو ډېر، نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته په «پرتې ویلو» تورن کړی؛ نو ډېر غوسناک او روایته منکر شو؛ بلکې و یې ویل، تر دې روسته به نه پر صحیح بخاري او نه بل حدیثي کتاب ډاډمن نه شي، چې داسې صالح سلف تر پوښتنې ګروېګنې لاندې نیسي.

په هر حال، په دې حدیث کې د هېښنې- حیرانتیا خواله- راز دا ده، چې د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په ناسته کې پر ټولو ګډونوالو اصحابو اړین وو، چې بې ځنډه یې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم امر منلی وای، چې خپل روستی وصیت ورته ولیکي، چې دې وصیت تر پېغمبر روسته مسلمانان له هر ډول کوږوالي او بې لارۍ خوندي ساتل او د رسول امر یې منلی وای.

ایا کوم یو اهل سنت تمه لري، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له سترو اصحابو سره په روستۍ کتنه کې دوی هله وشړل، چې دغسې دردناکې خبرې یې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته وکړې، هغه خبرې چې یوازې یوه مانا یې درلوده، چې هغه «نووي» پر صحیح مسلم باندې په خپلې شرح کې راوړي، چې العیاذ بالله پېغمبر پرتې وایي.[1]

امام شرف الدین په دې اړه وایي:

«که د پېغمبر په دې خبره کې ځیر شو، چې وایي:

«کاغذ او قلم راوړئ، چې یو څه درته ولیکم، چې روسته ترې بیخي بې لارې نشئ»

او بله خبره یې چې د ثقلینو په حدیث کې کړې:

«زه په تاسې کې دوه څیزونه پرېږدم، که منګولې پرې ولګوئ، بیخي به بې لارې نشئ؛ د الله کتاب او ځوځات مې اهل بیت مې»؛

---

[1] (صحیح مسلم (۱۴/ ۱۷۴ مخ) د نووي له شرح سره، دارالشعب چاپ.)

نو مومو، چې په دواړه احاديثو کې موخه يوه ده او نبي مکرم د خپلې ناروغۍ پر مهال (چې د ژوند روستۍ ورځې يې وې) په تفصيل غوښتل، چې يو څه د ثقلينو په حديث کې پرې واجب شوي ول، ورته وليکي! خو له هغې دردناکې خبرې سره چې مخ شو؛ نو له ناچارۍ يې له خپلې موخې لاس پر سر شو، هسې نه ځينې وګړي، د نبوت د غندنې يو باب پرانځي؛ ځکه د ليکنې يوازېنۍ اغېز به تر رسول اکرم روسته فتنې او اړو دوړ ته لار پرانستې وای؛ ځکه تر دې روسته بلوا او اړو دوړ رادبره کېده، چې ايا نبي مکرم (العياذ بالله) پرتې ويلي يا يې نه دي ويلې؛ لکه چې دده په مخ کې يې اختلاف او غالمغال جوړ کړ او حال دا، پېغمبر ناروغ و، دوی اعلان وکړ، چې قرآن راته بس دی او د نبي مکرم له خبرې واوړېدل؛ لکه چې د دوی هېر شوي ول، چې الله تعالی د خپل ګران پېغمبر په اړه وايي:

[وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى[1]]

ژباړه: او نه د ځاني غوښتنو له مخې غږېږي

[إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى[2]]

ژباړه: (بلکې) خبرې يې يوازې وحې ده، چې ورته رالېږل کېږي.

[عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى[3]]

ژباړه: هغه ته پياوړي ځواکمن ورښوولي دي؛

[مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ[4]]

ژباړه: ددغو کليو د اوسېدونکيو کوم څه چې الله پر خپل استازي لورولي؛ نو دا يوازې د الله، استازي (د رسول الله) خپلوانو، پلارمړيو، مسکينانو او مسافرو لپاره دي، چې (دا ډېره شتمني) ستاسې د بډايانو ترمنځ لاس په لاس نشي او څه چې د (الله) استازي درکړي، وا يې

---

[1] (نجم\ ۳)

[2] (نجم\ ۴)

[3] (نجم\ ۵)

[4] (حشر\ ۷)

خلئ (او عمل پرې وکړئ) او چې له څه مو منع کوي؛ نو ډډه ترې وکړئ او د الله له (مخالفته) ځان وساتئ، چې الله سخت عذابی دی.
[إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ[1]]
ژباړه: بېشکه چې دا (قرآن) د عزتمن استازي [= جبرئیل امین] وینا ده.
[ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ[2]]
ژباړه: چې ډېر ځواکمن او د عرش د څښتن په نزد لوړپوړی دی.
[مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ[3]]
ژباړه: هلته بولندوی او امین دی.
[وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ[4]]
ژباړه: او ستاسې ملګری [= پیغمبر] لېونی نه دی.
[وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ[5]]
ژباړه: او په یقین هغه (د وحې امین = جبرئیل) په روښانه څنډه کې لیدلی دی.
[وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ[6]]
ژباړه: او هغه د غیبي وحې (په رسولو او تبلیغولو کې) کنجوس نه دی.
[وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ[7]]
ژباړه: او دا (قرآن) د شړلي شیطان خبره نه ده؛
[فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ[8]]

---

[1] (تکویر| ۱۹)
[2] (تکویر| ۲۰)
[3] (تکویر| ۲۱)
[4] (تکویر| ۲۲)
[5] (تکویر| ۲۳)
[6] (تکویر| ۲۴)
[7] (تکویر| ۲۵)
[8] (تکویر| ۲۶)

ژباړه: نو چېرې درومئ؟!
او په رښتیا ابن عباس (رض) څه ښه دا پېښه انځور کړې:
«او په رښتیا، مصیبت، ستر مصیبت دا و، چې د اختلاف د اړو دوړ له لامله یې پېغمبر پرېنښود، چې یو څه ورته ولیکي، چې روسته ترې بیخي بې لارې نشي.»
له دې ټولو مطالبو سره سره او په صحیح بخاري کې د ابن عباس (رض) د روایت له مخې، نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم هله له نړۍ ولاړ، چې دا وصیت یې وکړ:
«ما پرېږدئ، پر کوم حال چې یم، تر هغه غوره یم، چې تاسې مې وربولئ. او په هر حال د درېیو څیزونو وصیت یې وکړ: و یې ویل: مشرکان له جزیرة العربه وباسئ، له پلاویو سره هماغه چلن وکړئ، چې ما دوی ته ډالۍ ورکولې او له درېیم وصیت چوپ شو یا (راوي) وویل: هېر شوی مې دی.»!![1]
نبي کریم دا وصیتونه د خپل اهل بیتو او ځینو خپلوانو په مخ کې کړي، چې حضرت عبدالله بن عباس (د تره زوی یې) هم پکې و او دا وصیتونه د پنجشنبې ورځې تر مصیبت روسته، په څلورو ورځو کې په یوه ورځ و؛ خو هېښنده دا ده، چې درېیم وصیت (لکه چې څنګه یې بخاري روایتوي)، ابن عباس و نه غوښتل، رایاد یې کړي! او په هر حال، شیعه د اهل بیتو د روایاتو له لارې ویلي، چې هېر شوی وصیت یا هېر کړای شوی وصیت، یې بې د علي کرم الله وجهه له خلافته بل څه نه و.

[1] (صحیح بخاري (۵۱۱۱۵ مخ) کتاب المغازی، باب مرضی النبي)

## د «نص» په مقابل کې د اجتهاد بېلګه

**د اسامه په لښکر کې نه ګډون**

ټول مسلمانان خبر دي، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له رومیانو سره د جګړې لپاره، د اسامه بن زید په مشرۍ یو لښکر چمتو کړ، چې اسامه هغه مهال اولس کلن ځوان و او دا روستۍ جګړه وه، چې نبي مکرم یې امر وکړ او ټول مهاجرین او انصار یې ددې لښکر سرتېري کړل؛ لکه حضرت ابوبکر، عمر، ابوعبیده او سعد (رضی الله عنهم)[1]

په هر حال نبي مکرم امر وکړ، چې د اسامه لښکر دې حرکت وکړي؛ خو هغوی له تلو ډډه کوله او ځینو د اسامه پر مشرۍ اروړۍ ټکورۍ غږولې او دا امارت یې و نه مانه، چې دې چار حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم غوسه کړ، حال دا، سر یې تړلی و او له دوو ورځو ډېر ژوند یې نه و پاتې، دباندې راووت او پر ممبر یې یوه خطبه وویله، چې امام بخاري په خپل صحیح کې د ابن عمر (رض) له خولې روایتوي:

«نبي مکرم، اسامه پر یوه قوم امیر وټاکه؛ نو دده امارت یې و نه مانه، بیا آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: که پر قوماندانۍ یې پېغورونه کوئ، تر دې له مخه مو د هغه د پلار قوماندانې هم نه وه منلې او پر الله قسم، چې قوماندانۍ ته خورا وړ او ماته خورا ګران و او تر هغه روسته دا (اسامه) هم راته خورا ګران دی[2].»

بیا یې ډېر وهڅول او امر یې وکړ، چې د اسامه له لښکر سره یو ځای شئ؛ خو دوی ناغېږي او له تلو یې ډډه کوله او مخکې تر دې چې د اسامه لښکر حرکت وکړي، نبي کریم له نړۍ ولاړ.

**له دې پېښې څرګندېږي:**

---

[1] (خالد محمد خالد، حول الرسول د رجالو کتاب، ۴۸ مخ، اتم چاپ+ طبري تاریخ (۳\ ۱۸۴ مخ) د بیروت دارالسویدان چاپ+ ابن اثیر تاریخ (۲\ ۳۱۷ مخ) د بیروت د دارصادر چاپ+ ابن سعد طبقات (۴\ ۶۵- ۶۹ مخونه) د بیروت دارصادر چاپ)، چې پر دې مطلب ټول د سیرت او روایتونو خاوندان یوه خوله دي.

[2] (صحیح بخاري (۵\ ۳۸۷ مخ) کتاب المغازي، باب غزوه زید بن حارثه)

۱-ځینو اصحابو د نبي کریم د نص په مقابل کې اجتهاد وکړ او پلمه یې دا وه، چې حضرت اسامه (رض) کشر دی او نبي مکرم بېرغ ورسپارلی؛ که پر دې پېښه پوه شو؛ نو تر دې د سترو پېښو؛ لکه د علي کرم الله وجهه د خلافت په اړه به د ځینو د اجتهاد پر علت هم پوه شو.
۲-لږ عمري اسامه ته د قوماندانۍ ورکونه اصحابو ته یو سبق و، چې کړای شي، د کشر امارت او ریاست هم ومنئ؛ ځکه د هغه پر امارت د دوی اروړۍ او ټکورۍ آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم سخت غوسه کړی و.
۳-چې اسامه ته یې بېرغ ورکړ، پوهېده چې رحلت یې نژدې شوی او بېشکه پوهېده، چې تر رحلت روسته به یې پر خلافت شخړه وشي؛ نو ځکه په خپل حکمت او بې ساري درایت یې سترې څېرې او شخصیتونه، د اسامه په لښکر کې گډونوال کړل او امر یې وکړ، چې تر خپل رحلت مخکې په څو ورځو کې، لښکر روان شي، چې د خلافت په اړه، د شخړو لار بنده شي، دا خو لا څه چې په اړه یې اجتهاد وکړي!!
او په واقع کې علي کرم الله وجهه په ناروغۍ کې ورسره و او ترې جلا نشو او تر وفات روسته یې پر لمبونې لگیا و، چې مهاجرینو او انصارو د خلافت پر سر شخړه وکړه او د بني ساعده و په څېرگي کې راټول شوي ول؛ حال دا، د اسامه په لښکر کې یې له گډونه ډډه وکړه، چې همدوی د لښکر پوځیان هم وو او دا یې د نص په مقابل کې اجتهاد و؛ ځکه له هغه څه په اندېښنه کې و، چې ممکن د پیغمبر تر وفات روسته به راپېښ شي!!
په دې شان، هغه چې پر اصحابو د حضرت علي امامت زغملای نشي؛ نو څنگه پر ځان د اسامه د قوماندانۍ له منلو سرغړونه تفسیروي، سره له دې چې د الله استازي امر کړی و او دا چې د پنجشنبې ورځې ناورین او د اسامه د قومندانۍ د نه منلو په اړه د نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم ښېراوې، د نبي مکرم پر ژوند راپېښې شوې، چې دا یو ستر مصیبت و؛ نو اوس چې نبي مکرم له نړۍ تللی؛ نو څه به کېږي؟ (څه به دوی د الله تعالی له استازي سره له مخالفته ژغوري)

## سقیفه او له حضرت ابوبکر (رض) بیعت

هغه مهال چې حضرت علي او ځینې خپلوان یې د نبي کریم د غسل او کفن پر چارو بوخت وو، حضرت عمر بن خطاب (رض) د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم مړینه دروغ

وبلله او هغه یې په وژنې وگواښه، چې ووایي پیغمبر وفات شوی او مړینه یې تر هغې باور نه کړه، چې حضرت ابوبکر (رض) له مدینې بهر «سنح» څخه راستون شو.
امام بخاري په خپل صحیح کې له حضرت عایشې (رض) روایتوي: رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له نړۍ ولاړ او ابوبکر (رض) په «سنح» کې و، «عمر (رض) راپاڅېد او و یې ویل: په الله قسم، نبي مکرم له نړۍ تللی نه دی! عایشه بي بي وایي: ... ابوبکر (رض) راغی او د پیغمبر له بدنه یې پرده پورته کړه، ښکل یې کړ او و یې ویل: مور و پلار مې درځار، پر ژوندون او مړینې دې درباندې زېری وي، پر هغه الله قسم، چې زما ساه یې په واک کې ده، بیخي به بل مرگ در و نه رسي. په دباندې وتو کې یې حضرت عمر (رض) ته وویل: قسم خوړلیه! چوپ شه!»[1]
خو انصار په خپل څېرگي، د بني ساعده په څېرگي کې راټول شوي وو او سعد بن عباده (رض) یې خپل خلیفه وټاکه؛ او چې د اصحابو مشران؛ لکه حضرات ابوبکر، عمر، ابوعبیده (رضی الله عنهم) له دې مسالې خبر شول، سملاسي ورغلل او اعلان یې کړه، چې همدا موږ وړ یو. د مهاجرینو او انصارو ترمنځ سخته لانجه پیل شوه، په دې ترخ کې د انصارو مشر حضرت سعد بن عباده (رض) پاڅېد او و یې ویل:
«اما بعد؛ موږ د الله او اسلام ملاتړي یو او تاسې یوازې مهاجره ډله یاست (چې له پیغمبر سره مو هجرت کړی دی) او اوس ستاسې یوه ډله پاڅېدلې، چې موږ له خپل حق نه منع کړي او له دې چاره (خلافت) یې لرې وساتي[2]»!!
حضرت ابوبکر (رض) پاڅېد او د یوې وینا په ترخ کې یې د مهاجرینو ځانگړنې وویلې او خپل قریشي توب یې نورو ته دلیل کړ، چې په همدې دلیل تر نورو، د خلافت چار ته خورا وړ دي.
امام بخاري په خپل صحیح کې وایي:
«ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب او ابوعبیده بن جراح (رضی الله عنهم) ورغلل، غوښتل یې خبرې وکړي، خو ابوبکر (رض) پرېنښودل... بیا ابوبکر (رض) وویل: نه! خو موږ امیران یو

---

[1] (صحیح بخاري (۵\۱۳ مخ) کتاب فضایل الصحابه، باب ان لم تجد نبی فان ابوبکر)
[2] (صحیح بخاري (۸\ ۵۴۱ مخ) کتاب المحاربین من اهل الکفر، باب رجم الحبلی من الزنا)

او تاسې وزيران! هغوی منځومان عربان دي او حسب و نسب لري[1] .... او زه له دې دوو څخه يو تنو درته غوره کوم[2]؛ نو يا له عمر بن خطاب (رض) يا له ابوعبيده بن جراح (رض) سره بيعت وکړئ».[3]

د انصارو يو شخصيت حباب بن منذر (رض) دا وړانديز رد کړ او و يې ويل: «نه، پر الله قسم، نه يې منو، يو دې ستاسې امير وي او يو دې زموږ.»[4]

او په بل روايت کې د انصارو ځواب دا و:

د انصارو وياند ودرېد او و يې ويل: «... قريشو! له موږ دې هم يو امير وي او له تاسې دې هم يو امير وي.

بيا لانجې زور واخست، ان احتمال و، چې سخت اختلاف رادبره شي.[5]»

او حالت چې ډېر ګډوډ شو؛ نو د حضرت عمر بن خطاب (رض) ونډه پيل شوه، و يې ويل: عرب ځکه ستاسې رياست نه مني، چې پېغمبر له تاسې نه دی او چې څوک مخالفت کوي موږ اسناد لرو!

حباب بن منذر (رض) په ځواب کې وويل: «انصارو! په دې چار کې يوه اندازه تامل او سوچ وکړئ او ددې سړي او يارانو خبرې ته يې غوږ مه ږدئ؛ ځکه دا چار (خلافت) له تاسې سره ښايي.»

خو انصارو په خپلو کې اړپېچ وکړ، اسيد بن حضير (رض) د «اوس ټبر» مشر چې د «خزرج ټبر» له مشر سعد بن عباده (رض) سره مخالف و، له فرصته يې د ګټنې اعلان وکړ، چې مهاجرين تاييدوي او ژمنه يې وکړه، چې بيعت ورسره وکړي.

---

[1] (صحيح بخاري (۱۴\۵ مخ) کتاب فضايل الصحابه)

[2] (صحيح بخاري (۸\ ۵۴۲مخ) کتاب المحاربين من اهل الکفر)

[3] (صحيح بخاري (۵\ ۱۴ مخ) کتاب فضايل الصحابه)

[4] (صحيح بخاري (۵\ ۱۴ مخ) کتاب فضايل الصحابه)

[5] (صحيح بخاري (۸\ ۵۴۲ مخ) کتاب فضايل الصحابه)

عمر (رض) پاڅېد او ابوبکر (رض) ته یې وویل: لاس دې راوړاندې کړه، چې بیعت درسره وکړم او په دې توګه، عمر (رض) او د مهاجرینو او انصارو یوې ډلې بیعت ورسره وکړ او لکه چې امام بخاري په خپل سند، له حضرت عایشي بي بي (رض) روایتوي، چې عمر (رض) په ګواښ او ډار له خلکو، ابوبکر (رض) ته بیعت واخست.
حضرت عایشه (رض) وایي: «له هغو دوو خطبو یوه خطبه نه وه؛ خو دا چې الله پکې یوه ګټه ایښې وه، عمر خلک وډار کړل او که ترمنځ یې څه نفاق او درز وي؛ الله یې ستنوي».[1]
او پر هغه ورځ، حضرت عمر (رض) د سعد بن عباده (رض) په اړه[2] وویل: «... او پر سعد بن عباده (رض) مو برید وکړ او موږ تر پښو لاندې کړ؛ نو یو یې وویل: سعد بن عباده (رض) مو وواژه. عمر (رض) وویل: الله دې یې ووژني».[3]
د سقیفې غونډه د مهاجرینو او انصارو ترمنځ له اختلاف روسته، له حضرت ابوبکر (رض) سره په بیعت پای ته ورسېده.
د دواړو لوریو له خبرو اترو او استدلالونو څرګندېږي، چې شخړې جاهلي رنګ اخستی و، تر دې چې خلیفه عمر بن خطاب (رض) د ژوند په روستیو ورځو کې وویل:
«د ابوبکر (رض) بیعت یو بېړنی چار و؛ خو الله یې شر زموږ له سره لرې کړ.»
لکه چې امام بخاري په خپل صحیح کې له حضرت عمر (رض) څخه روایتوي:
«... څوک دې غره نشي، چې ووایي، په رښتیا، د ابوبکر (رض) بیعت یو بیړنې چار و او پوره شو. هو! د ابوبکر (رض) خلافت دغسې و؛ خو الله یې شر زموږ له سره لرې کړ.[4]»
ټول پوهېږي، چې حضرت علي کرم الله وجهه ، د بني هاشمو ملګري او نور اصحاب؛ لکه حضرات زبیر، طلحه، عمار، سلمان، مقداد، ابوذر او خزیمه (ذوالشهادتین)، خالد بن سعید، ابی بن کعب، ابوایوب انصاري او ... (رضی الله عنهم) له دې بیعته ناخبره ول او پر هغه ورځ، سقیفې ته ورغلي نه وو؛ ځکه ټول د نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم د رحلت پر ستر

---

[1] (صحیح بخاري (۵\ ۱۱۵ مخ) کتاب فضایل الصحابه)
[2] (چې له بیعته یې سرغړولی او بوډا و، د صحیح بخاري په روایت)
[3] (صحیح بخاري ۸\ ۵۴۲ مخ)
[4] (صحیح بخاري (۸\ ۵۴۰ مخ) کتاب المحاربین من اهل الکفر)

مصيبت اخته او د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د غسل او کفن پر چارو لګيا وو؛ حال دا، د سقيفې برخوالو، له حضرت ابوبکر (رض) سره د بيعت پر ټينګولو بوخت وو او علي کرم الله وجهه او ملګرو ته يې يوازې له حضرت ابوبکر (رض) سره د بيعت نه کولو لار پاتې وه؛ لکه چې د حضرت عمر بن خطاب (رض) له روايته ګټنه کېږي:

«رښتيا، موږ خبر وو، هغه مهال چې الله خپل پېغمبر له نړۍ بوت؛ خو انصارو مخالفت راسره وکړ او ټول د بني ساعده و په سقيفې کې راټول شوي وو او له موږ (مهاجرينو) هم علي کرم الله وجهه او زبير (رض) او د دواړو ملګرو زموږ مخالفت وکړ»[1].

امام شرف الدين په خپل کتاب المراجعات ۲۸۴ مخ کې ليکي:

«... امام علي سنجولې وه، چې نيوکه يې يوازې فتنه او اړو دوړ راولاړوي؛ نو ځکه يې ځان ته روا وبلله، چې حق يې ضايع شي؛ خو په هغو شرايطو کې فتنه راولاړه نشي؛ ځکه اسلام له هرې لورې فتنو راايسار کړی و؛ يو خوا، د پېغمبر تر رحلت روسته د مدينې د منافقينو او د مدينې د چاپېريال د بانډيځيانو زور ډېر شوی و، اسلام يې ګواښه او بلخوا د مسيلمه کذاب، طليحه بن خويلد افاک او سجاح دجاله په څېر فتنه ماران او همدغسې د فارس پاچايان، د روم قيصران او نور، مسلمانانو ته په څارنځي کې ناست ول او د اسلام واکمني يې ګواښله؛ نو طبيعي ده، چې حضرت علي له خپل حقه تېرېږي؛ خو بې له دې چې د خلافت په اړه، له خپل استدلاله لاس پر سر شي؛ نو ځکه علي کرم الله وجهه غوښتل، د خلافت په اړه، خپل حق وساتي او د هغوی په مقابل کې چې د خلافت په باب يې اجتهاد کړی (او له خپل اصلي بهيره يې اړولی) تر يوه بريده داسې ودرېږي، چې فتنه راولاړه نه کړي او د اسلام دښمنانو ته لاسوند ور نه کړي؛ نو ځکه په خپل کور کې کېناست او تر شېږو مياشتو يې هم پخپله او هم يې ملګرو له بيعته ډډه وکړه.»

او لکه چې د صحيح بخاري په روايت کې راغلي، جوتېږي، که له علي کرم الله وجهه سره زور وای او بې د فتنې له راولاړېدو يې خپل حق اخستای شو؛ نو دا چار يې کاوه.

حضرت عايشه (رض) په دې باب وايي:

---

[1] (صحيح بخاري (۸/ ۵۴۰ مخ) کتاب المحاربين من اهل الکفر باب رجم...)

«... فاطمه (س) د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات روسته شپږ میاشتې ژوندۍ وه، مېړه يې علي، د شپې شپې ښخه کړه او پخپله يې د هغې د جنازې لمونځ وکړ او ابوبکر (رض) ته يې د جنازې د لمانځه اجازه ور نه کړه او علي کرم الله وجهه ، د فاطمې (س) پر ژوندونې څو تنه ملګري درلودل؛ خو چې فاطمه (س) له نړۍ ولاړه، علي کرم الله وجهه یوازېتوب احساس کړ؛ نو له ابوبکر (رض) سره سولې ته چمتو شو او بیعت يې ورسره وکړ، که څه، په شپږو میاشتو کې يې بیعت ورسره نه و کړی؛ نو په ابوبکر (رض) پسې يې يو تن ولېږه او پېغام يې ورکړ:

ځان ته راشه او څوک مه راوله؛ ځکه ښه يې نه راتلل، چې عمر (رض) دې هم وي. عمر (رض) وويل: نه پر خدای قسم، نه باید چې ځان ته ورشې. ابوبکر (رض) وويل: ډارېږې، چې څه به راسره وکړي؟ پر الله قسم ځان ته ورځم.»[1]

امام شرف الدین د المراجعات کتاب په ۲۸۵ مخ کې د علي کرم الله وجهه دا چار دغسې تفسیروي:

«او که علي کرم الله وجهه د بیعت لپاره ورځغاستلی وای؛ نو نور هیڅ دلیل ورته نه پاتېده او شیعه وو د ویلو لپاره څه خبره نه درلوده؛ نو ځکه په خلافت کې يې د دین ساتنه او د خپل حق ساتنه راټوله کړه او په هر حال، د زمانې شرایط داسې ول، چې په توره يې مقاومت نشو کړای.... »

او دا حقیقت پوره څرګندوي، ان ابوسفیان څو ځل هڅه وکړه، علي کرم الله وجهه خپل حق اخستو ته اړ کړي او علي کرم الله وجهه ته يې ویل: «که اجازه راکړې، بېدیا به له سورو او وسلوالو ډکه کړم او ټولې لارې به پرې بندې کړم.[2]»

خو علي کرم الله وجهه دغسې مرسته نه مني؛ ځکه د ابوسفیان موخه دا ده، چې د فتنې لمبې بلې شي، جګړه ونښلي او د اسلام جرړه ووځي.

---

[1] (صحیح بخاري (۱۵ ۳۸۲ مخ) کتاب الغازي، باب غزوه خیبر)

[2] (خالد محمد خالد، خلفاء الرسول، ۴۱۸ مخ، اتم چاپ د بیروت د دارالفکر چاپ)

## ایا پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د حضرت ابوبکر (رض) خلافت ته څه اشاره کړې وه؟

ځینې وایي: ابوبکر (رض) ځکه خلافت ته وړ و، چې ابن الجوزي (رح) له علي کرم الله وجهه روایتوي:

«چې کله حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم له نړۍ ولاړ او لیدلي مې ول، چې پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم لا وړاندې، ابوبکر (رض) په لمانځه کې پر نورو ړومبی کړی و؛ نو ځکه موږ ابوبکر ړومبې وګاڼه.[1]»

پوره په ډاګه ده، چې دا روایت تش دروغ دي؛ ځکه علي کرم الله وجهه خو له زړه له ابوبکر (رض) سره مخالفت وکړ او تر شپږو میاشتو یې بیعت ورسره و نه کړ او سترو اصحابو هم ترې لاروي وکړه (لکه چې وویل شول) او که دا روایت سم وي؛ نو لازم دي، چې علي کرم الله وجهه لومړی تن وي، چې له ابوبکر (رض) سره یې بیعت کړی دی.

پر دې سربېره، نور دلایل هم شته، چې دا روایت، یومخې دروغ جوتوي!

۱-که نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم، حضرت ابوبکر (رض) خپل ځایناستی کاوه؛ نو د اسامه په لښکر کې به یې نه ورګډاوه.

۲-که دې روایت حقیقت درلودای؛ نو حضرت ابوبکر (رض) به په سقیفې کې استدلال پرې کړی وای؛ ځکه په هغه وخت کې یو پرېکوني دلیل ته اړتیا وه، چې شخړه پای ته ورسي او و مو لیدل، چې ددې پر ځای یې استدلال وکړ، چې قریش په حسب و نسب کې تر نورو عربانو مشهور دي!

۳-که دا روایت سم وي؛ نو ټول هغه احادیث تر پوښتنې لاندې راځي، چې د حضرت علي کرم الله وجهه پر خلافت ټینګار کوي؛ حال دا، بیخي دا احادیث جوت شوی او څه شک پکې نشته.

---

[1] (ابن الجوزي، صفوة الصفوة (۱۱ ۲۵۷ مخ) چاپ دارالوعی، حلب)

## د زماني د خليفه په مقابل کې د حضرت فاطمې دريځ

امام بخاري په خپل صحيح کې له حضرت عايشې (رض) روايتوي، چې کله بي بي فاطمه له نړۍ په داسې حال کې ولاړه، چې پر حضرت ابوبکر (رض) غوسه وه او له ميراثه يې بې برخې کړې وه.

حضرت عايشه (رض) وايي:

«... د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم لور فاطمې، د خپل پلار ميراث وغوښت، ابوبکر (رض) ورته وويل: پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ويلي: موږ ميراث نه پرېږدو، څه چې پاتېږي، صدقه ده؛ نو فاطمه غوسه شوه او له ابوبکر (رض) يې مخ واړو او تر مړينې ورسره مخ نشوه او تر رسول اکرم روسته، تر شپږو مياشتو ډېره ژوندۍ پاتې نشوه.

حضرت عايشه (رض) وايي: او فاطمې تل له ابوبکر (رض) غوښتل، چې په خيبر او فدک کې، د رسول الله ميراث او په مدينه کې يې صدقات ورکړي؛ خو ابوبکر (رض) له دې چار څخه ډډه کوله او ويل: د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم کړنې نه پرېږدم.[1]»

او هومره پر ابوبکر (رض) غوسه وه، چې علي کرم الله وجهه ته يې وصيت وکړ، چې تر وفات روسته يې بيخي ابوبکر (رض) ته اجازه مه ورکوه، چې د جنازې لمونځ يې وکړي، ان جنازې ته دې هم نه راځي[2]؛ نو ځکه حضرت علي کرم الله وجهه د شپې شپې خاورو ته وسپارله؛ لکه چې امام بخاري په خپل صحيح کې له عايشې (رض) روايتوي:

---

[1] (صحيح بخاري (۲۰۸/۴ مخ) کتاب الخمس، باب الفرائض)

[2] . د ژباړن ياددښت: په پښتنو کې مشهوره ده، که څوک، خصوصا مور له چا خپه او ناراضه وي او د خپل خپگان ژورتيا او ډېره ناخوښي څرگندوي؛ نو وصيت کوي: «که مړه شوم؛ نو مخ به مې ورته نه ښايئ» او د بي بي فاطمة الزهرا دغه وصيت، چې حضرت ابوبکر به مې په جنازه کې گډون نه کوي، زموږ د پښتنو له هغې مشهورې خبرې سره ورته ده: «که مړه شوم؛ نو مخ به مې ورته نه ښايئ» او دا يعنې، له حضرت ابوبکر نه، حضرت فاطمة الزهرا [چې رسول الله ويلي: د فاطمه الزهرا پر خپگان زه خپه کېږم او زما پر خپگان الله خپه کېږي] دومره خپه وه، چې ان تر خپل مرگ روسته يې هم خپل مبارکه څېره نه ورښودله.

بله خبره داچې: حضرت ابوبکر غوښتل چې د رسول الله د يادگار په مړينه کې په گډون، ځان ته نور سياسي مشروعيت هم ورکړي او د خليفه په نامه يې په دې جنازه کې گډون کاوه؛ خو داچې د پيغمبراکرم څېگرېوتې، په خپل ژوندون د حضرت ابوبکر خلافت په رسميت نه پېژنده؛ نو نه يې غوښتل يې چې مړينه

«... ابوبکر ورته د پېغمبر د میراث له ورکړې ډډه وکړه؛ نو فاطمه پرې غوسه شوه او تر مړینې یې ورسره خبرې و نه کړې او تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم روسته، شپږ میاشتې ژوندۍ وه او چې وفات شوه، مېړه یې علي، دشپې شپې ښخه کړه او اجازه یې ور نه کړه، چې ابوبکر یې د جنازې لمونځ وکړي او خپله یې د هغې د جنازې لمونځ وکړه.[1]»

**فدک** په حجاز کې یو کلی و، چې یهود پکې وسېدل او چې کله رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خیبر غزا وګټله، الله تعالی، د دښمنانو (یهودو) په زړونو کې ډار ورواچاوه؛ نو یهودو د فدک په سیمه کې له نبي مکرم سره جوړجاړی وکړ؛ نو ځکه فدک، د نبي مکرم ملک و؛ ځکه په جګړې تر لاسه شوی نه و، بیا نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم، خپلې لور فاطمې ته ورکړ.

پردې سربېره، د «خیبر خمس او صدقات» یې هم د پېغمبر ملک و او د چا حق پکې نه و او د حضرت ابوبکر (رض) د اند له مخې، فاطمې داسې څه غوښتل، چې حق یې نه و! او په دې اند، فاطمه یا ناپوهه وه، چې د رسول اکرم د میراث پر حکم نه پوهېده؛ لکه چې څرنګه ابوبکر (رض) پوهېده او یا دا چې دروغجنه وه؛ نوځکه داسې یو څیز ته یې تمه وه، چې حق یې پکې نه درلود.

خو حقیقت دا دی، چې د فاطمې په اړه دواړه حالته محال دي؛ ځکه زهرا هغه وه، چې الله یې په غوسه، غوسه کېده او هغه د مؤمنو ښځو او جنتي مېرمنو سروره وه او الله تعالی، له هر ډول چټلۍ خوندي ساتلې او سپېڅلې کړې وه.

امام بخاري په خپل صحیح کې له نبي کریم روایتوي:

*«فاطمې! ایا ښه دې نه راځي، چې د مؤمنو ښځو سروره یا ددې امت د ښځو سروره وسې؟[2]»

---

یې ددې لامل شي، چې حضرت ابوبکر د پېغمبراکرم د لور په جنازه کې په ګډون، خپل خلافت ته مشروعیت ورکړي. (سوچ په کار دی) او داچې ان نه یې غوښتل، د قبر زیارت ته په ورتګ یې ځان ته مشروعیت ورکړي؛ نو خپل مېړه [علي (ک)] ته یې وصیت وکړ، چې قبر مې هم مه ورښایئ.

[1] (صحیح بخاري (۵\ ۳۸۲ مخ) کتاب مغازي، باب غزوه خیبر)

[2] (صحیح بخاري (۸\ ۲۰۲ مخ) کتاب الاستئذان، باب من ناجی بین یدی الناس)

*«فاطمه مې د تن ټوټه ده، چا چې غوسه کړه، زه يې غوسه کړى يم»[1].
*«فاطمه د جنتي ښځو سروره ده[2]».
او ان که ومنو، چې فاطمه د نورو په څېر ده او په تېرو رواياتو کې يې، چې کوم فضايل راغلي، يو هم نه لري؛ نو همدومره بس دى، چې هغه د بشريت د استاد او لارښود لور او د علي مېرمن ده، چې ټول پرې گواهي ورکوي، چې تر ټول ښه پوه او اعلم دى؛ نو څکه دغسې يو وضعيت، له هغې د ناپوهۍ احتمال نفي کوي؛ څکه که فاطمې داسې يو څيز غوښتلاى، چې حق يې نه و او د ابوبکر (رض) د وينا له مخې، د پېغمبر ميراث هم چاته نه رسي؛ نو مناسبه وه، چې پلار يا مېړه يې پر دې مطلب پوه کړې وه، په تېره دا چې، پر ابوبکر (رض) د فاطمې غوسه، شپړ مياشتې اوږده شوه او دا يې تر نبي کريم صلى الله عليه و آله وسلم روسته ټول عمر و.
خو افسوس چې فاطمه- والعياذ بالله- دغسې وي؛ څکه هغه مهال چې خبره شوه، ابوبکر (رض) يې په فدک کې حق اخستى؛ نو د مهاجرينو او انصارو له يوې ډلې سره ابوبکر (رض) ته ورغله او يوه وينا يې وکړه، چې ټول يې وژړول، چې د وينا يوه برخه يې دا ده:
«... رښتيا، اوس تاسې ادعا کوئ، چې موږ ميراث او څه برخه نه لرو. ايا د جاهليت په حکم پسې ځئ او تر الله څوک ښه قضاوت کوي؛ البته مؤمنانو انسانانو ته (چې پر دې مطلب پوهېږي)، مسلمانانو افسوس درباندې! ايا د الله په کتاب کې راغلي، چې ته له خپل پلار يوسې او زه يې يو نه سم؟ ستر تور دې تړلى. او بيا يې دا آيت: [وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ [3]] ولوست.
ژباړه: او محمد (صلى الله عليه و آله وسلم) خو يوازې يو استازى دى او تر ده مخکې هم (ډېر) استازي تېر شوي؛ نو که ومري يا ووژل شي؛ ايا پر شا گرځئ؟! (او اسلام پرېږدئ، جاهليت او کفر ته ورستنېږئ؟!) او څوك چې (له خپلې گروهې) واوړي (؛ نو پوه دې شي،

[1] (صحيح بخاري (۵| ۷۵ مخ) کتاب فضايل الصحابه، باب مناقب فاطمه رضى الله)
[2] (صحيح بخاري (۵| ۷۴ مخ)
[3] [آل عمران ۱۴۴ آيت]

چې) الله ته هېڅ زيان وررسولای نشي او الله به ډېر ژر مننديانو (او زغمناکو) ته بدله ورکړي.

د قيله اولادې! له پلاره ميراث مې رانه په زور اخلي او تاسې يې وينئ، اورئ او خبره هم نه کوئ؛ حال دا، بسيا کسان ياست او وسله لرئ، د مظلوم بلنه اورئ او ځواب يې نه ورکوئ....[1]»

تر دې چې تېر شو، د رسول اکرم خبرې [مونږ وارث نه لرو] مانا دا نه ده چې پر پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د ميراث قانون نه تطبيقېږي؛ لکه څنگه چې ابوبکر (رض) اجتهاد کړی و؛ ځکه په قرآن کې راغلي:

[وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ وَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ[2]]

ژباړه: او سليمان د داوود پاتوړی شو او ويې ويل: ((خلکو! مونږ ته د مارغانو د ژبې [پوهېدل] راښوول شوي او هرڅه راکړای شوي، په رښتيا دا (راکړه) هماغه ښکاره برتري ده.))

او همدغسې، حضرت زکريا عليه السلام له الله تعالی غواړي، زوی ورکړي، چې ميراث ترې يوسي او په دې شان، الله تعالی، حضرت يحيی عليه السلام ورډالی کوي:

[يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا[3]]

ژباړه: چې زما او د يعقوب د ځوځات پاتوړی وي او پالونکيه! ټولمنلی يې وگرځوه.))

[يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَل لَّهُ مِن قَبْلُ سَمِيًّا[4]]

---

[1] (ابن اثير، منال الطالب فی شرح طوال الغرائب، ۵۰۴ مخ، مدني چاپ)

[2] (نمل\١٦)

[3] (مريم\٦)

[4] (مريم\٧)

ژباړه: زکریا! په رښتیا موږ د یو داسې هلك زېری درکوو، چې نامه يې یحیی ده او تر ده مخکې یې څوك همنامی نه و.

او په تېر آیت کې د «یَرِثُنِي» مانا دا نه ده، چې پېغمبري په میراث یوسي؛ ځکه نبوت او پېغمبري خو څه میراثي نه ده؛ نو د پېغمبر دا خبره [- لانورث] پر دې مانا ده، چې پېغمبرانو سره سپین نه دي زېرمه، چې روسته ترې نورو ته په میراث کې پاتې شي؛ لکه چې پاچایان او دنیا پالي یې کوي.
دا چې ابوبکر (رض)، حضرت فاطمه د پېغمبر له میراثه بې برخې کړه؛ نو ځینې له دې پېښې داسې ګټنه کوي، چې دا چار ددې لامل شو، چې علي کرم الله وجهه له حضرت ابوبکر (رض) سره له بیعت کولو ډډه وکړي؛ نه دا چې ځان شرعي او واقعي خلیفه بولي!! که رښتیا دغسې وي؛ نو ولې یو شمېر ستر اصحابو له بیعته ډډه وکړه او په علي پسې ولاړل؟! او د حضرت عایشې (رض) دا خبره څه مانا لري، چې یې ویل: «علي کرم الله وجهه په ابوبکر (رض) پسې څوک ولېږه، چې یوازې دې راشي او څوک دې ورسره نه راځي؛ ځکه د عمر (رض) په راتلو خوښ نه و»؟!
سره له دې چې عمر (رض) د پېغمبر د میراث په اختلافي مسالې کې هیڅ لاسوهنه نه درلوده! پر دې سربېره د میراث مساله ددې خنډ نه وه، چې حضرت علي او فاطمه (رضی الله عنهما) له ابوبکر (رض) سره له بیعت کولو ډډه وکړي.

## ایا د فاطمة الزهرا مړینه د جاهلیت مړینه وه؟!

امام بخاري په خپل صحیح کې له حضرت ابن عباس نه روایتوي، چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «چې څوک له خپل مشره خپه شو؛ نو باید صبر وکړي؛ ځکه که د یوه لوېشت هومره د واکمن پر ضد راپاڅي؛ نو مړینه یې د جاهلیت مړینه ده.»[1]

او په صحیح مسلم کې له نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه روایت شوی، چې یې وویل:

«چې څوک ومري او کوم بیعت ورترغاړې نه وي؛ نو مړ دی، د جاهلیت مړ.[2]»

او د امام احمد حنبل په مسند کې راغلي، چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي:

«چې څوک بې امامه ومري؛ نو د جاهلیت د مړیو په څېر مړ شوی دی.[3]»

دا درې احادیثه ټینگار کوي، چې چا له امیر یا امام سره بیعت نه وي کړی او ومري؛ نو مړینه یې د جاهلیت مړینه ده او دلته له امیر یا امامه مطلب؛ «مفترض الطاعه امام» دی، چې د الهي شرع له مخې باید لاروي ترې وشي او بې شکه فاطمه له نړۍ ولاړه، بې له دې چې له خلیفه ابوبکر (رض) سره بیعت وکړي او نه یوازې بیعت یې و نه کړ؛ بلکې پرې غوسه هم وه او وصیت یې وکړ، چې ابوبکر (رض) یې د جنازې لمونځ و نه کړي او ان په جنازه کې یې گډون هم و نه کړي.

امام بخاري په خپل صحیح کې له حضرت عایشې (رض) روایتوي: «... نو د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم لور غوسناکه شوه او پر ابوبکر (رض) غوسه شوه او د مړینې تر وخته غوسه وه، تر رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روسته شپږ میاشتې ډېره ژوندۍ نه وه... او چې مړه شوه، مېړه یې د شپې شپې ښخه کړه او اجازه یې ور نه کړه، چې ابوبکر (رض) یې د جنازې لمونځ وکړي او یوازې خپله یې د هغې د جنازې لمونځ وکړ.[4]»

---

[1] (صحیح بخاري (۹\ ۱۴۵ مخ) کتاب الفتن، باب سترون بعدی امورا تنکرو منها)

[2] (صحیح مسلم (۴\ ۵۱۷ مخ) چاپ دارالشعب، کتاب الاماره)

[3] (امام احمد حنبل، مسند، (۳\ ۴۴۶ مخ)

[4] (صحیح بخاري (۵\ ۳۸۲ مخ) کتاب المغازي، باب غزوه خیبر)

ایا څوک ادعا کړای شي، فاطمې د رسول الله پر لارښوونو عمل و نه کړ؛ ځکه د خلیفه ابوبکر (رض) پر کړنو یې زغم و نه کړ او اطاعت یې و نه کړ او نیوکه یې پرې وکړه او پرې غوسه شوه او دا چې وصیت یې وکړ، چې ابوبکر (رض) به یې د جنازې لمونځ نه کوي او په جنازه کې به یې هم برخه نه اخلي؛ نو دا یو څرګند دلیل دی، چې فاطمه نه یوازې د ابوبکر (رض) له حکومته یوه لویښت لرې وه؛ بلکې په کیلومترونو لرې وه؛ نو څوک ویلای شي، چې د فاطمې مړینه د جاهلیت مړینه وه؟!

فاطمه، د مسلمانانو د ټولو مذاهبو په خوله، د مؤمنو ښځو سروره او د جنتي مېرمنو سروره ده.

امام بخاري له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي چې و یې ویل: «فاطمې! ایا خوښه دې نه ده، چې د مؤمنو ښځو، سروره یا ددې امت د ښځو سروره وسې؟[1]

همدغسې و یې ویل: «فاطمه د جنتي ښځو سروره ده.»[2]

پر دې سربېره، رسول اکرم ویلي ول، چې د فاطمې په غوسې، غوسه کېږي او مانا یې دا ده، چې الله پر هغه غوسه کېږي، چې فاطمه پرې غوسه شوې وي؛ لکه چې په حدیث کې راغلي: «رسول اکرم وویل: فاطمه مې د تن یوه ټوټه ده؛ نو چې څوک یې غوسه کړي، زه یې غوسه کړی یم.[3]»

نو څوک څنګه ادعا کړای شي، د فاطمې مړینه د جاهلیت مړینه ده؟!

نو بې د مفترض الطاعه امام له بیعته، چې څوک ومري؛ مړینه یې د جاهلیت مړینه ده؛ نو دلته دوه احتماله دي:

۱-فاطمه د جاهلې وګڼو په څېر مړه شوې او ابوبکر (رض) واجب الطاعه امیر دی.

۲-د فاطمې مړینه د جاهلیت مړینه نه ده او ابوبکر (رض) یو امیر دی، چې اطاعت یې واجب نه دی.

---

[1] (صحیح بخاري (۸\ ۲۰۲ مخ) کتاب الاستئذان، باب من ناجی... )

[2] (صحیح بخاري (۵\ ۷۴ مخ) کتاب فضایل الصحابه)

[3] (صحیح بخاري (۵\ ۷۵ مخ) کتاب فضایل الصحابه، باب فضائل فاطمه)

## د حضرت عمر (رض) خلافت

چې حضرت ابوبکر (رض) ناروغ شو؛ نو عثمان بن عفان (رض) یې راوغوښت او ورته یې وویل: ولیکه؛ بسم الله الرحمن الرحیم، دا مسلمانانو ته د ابوبکر بن قحافه سپارښتنه ده، اما بعد! بیا ابوبکر (رض) بېسده شو؛ عثمان (رض) وکښل: اما بعد! ما تاسې ته عمر بن خطاب (رض) خلیفه کړ او هیڅ خیر درڅخه نه درېغوم، بیا ابوبکر (رض) په هوښ شو او و یې ویل: وینم چې وډار شوې، که په بې هوښۍ کې له نړۍ ولاړ شم؛ نو مسلمانان به اختلاف وکړي. و یې ویل: هو! ابوبکر (رض) وویل: الله دې د اسلام او مسلمانانو په پار اجر درکړي، بیا یې لیکلی کاغذ لاسلیک کړ.[1]

او روایت شوی، چې حضرت عمر (رض) همدا کاغذ په لاس کې نیولی و او خلکو ته یې وویل:

«خلکو! د رسول الله د خلیفه خبره واورئ او و یې منئ. په واقع کې زه درنه یو خیر هم نه درېغوم.[2]»

او په دې شان لکه چې څنګه عمر (رض) د سقیفې پر ورځ د ابوبکر (رض) ته په بیعت اخستو کې مهمه ونډه درلوده او په زور او ګواښ یې بیعت واخست او د انصارو د خپلمنځي اختلافه او دا چې رښتوني اصحاب، د نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم پر کفن او ښخولو بوخت وو، له دې فرصته په ګټې یې ابوبکر (رض) خلافت ته ورساوه؛ نو ابوبکر (رض) هم د ژوند په روستیو شېبو کې هماغه ونډه تر سره کړه، چې یوازې د دوو کلیمو په لیکلو یې خلیفه کړ.

سره له دې چې ابوبکر (رض) د وصیت په لیکلو کې بې هوښۍ ته ولاړ؛ خو په دې حال کې، چا هم و نه ویل چې ابوبکر (رض) د خپل لیک په کښلو کې پرتې (هذیان) وایي؛ بلکې عمر (رض) خو بیخي یوه شېبه هم شکي نشو، همغه عمر (رض)، چې نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم ته یې هغه دردناکه خبره وکړه، چې آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ترې وغوښتل، کاغذ راوړي، چې یوه څه ولیکي، چې تر ده روسته بیخي بې لارې نشي!!

---

[1] (طبري تاریخ (۳| ۴۲۹ مخ)+ ابن عساکر، دمشق تاریخ (۱۱۳| ۸۲ مخ)

[2] (طبري تاریخ (۳| ۴۲۹ مخ)

ابوبکر (رض) ادعا وکړه، تر ځان روسته يې؛ څکه د عمر (رض) نوم واخست، چې د مسلمانانو له اختلافه ډارېده او په دې شان، اهل سنت يې دا پلمه مني، که څه، له هغې شورا سره يې مخالفت کړی، چې ګروهن وو، بايد له دې لارې د مسلمانانو خليفه وټاکل کيږي.
او و به وينئ، چې څرنګه د حضرت معاويه بن ابوسفيان خلافت او ان د زوی يې يزيد هم مني، که څه، په زور د مسلمانانو پر اوږو سواره شو او د نېکچارو، په تېره د سپېڅليو اهل بيتو په وژنه، واکمنی ته ورسېدل.

**اوس دلته پوښتنه راولاړيږي:**

ولې اهل سنتو د نبي مکرم دا و نه منله، چې تر ځان روسته يو خليفه وټاکي او نصب يې کړي؛ خو د ابوبکر (رض) يې ومنله؟! په تېره دا چې د پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم تر وفات روسته، د اختلاف عوامل د ابوبکر (رض) تر زمانې ډېر وو؛ پر دې سربېره. داسې متون او نصوص شته، چې تر نبي کريم روسته اهل بيتو ته رجوع او د علي بن ابيطالب د خلافت ټاکنه رانبيي.

## د حضرت عثمان (رض) خلافت

چې حضرت عمر (رض) ټپي شو، ورته وويل شول: خليفه دې ټاکلی؟ و يې ويل: که ابوعبيده جراح (رض) ژوندی وای؛ نو خليفه کاوه مې او که د ابوحذيفه (رض) مولا سالم ژوندی وای، خلافت ته مې ټاکه[1]. بيا يې وويل: «ځينې ګروهن دي، چې د ابوبکر بيعت يې بې عقله چار و، چې الله يې شر د مسلمينو له سره لرې کړي او وايي د عمر (رض) بيعت هم په مشوره نه و؛ خو تر ما روسته دې خلافت بايد شورايي وي.[2]»
حضرت عمر (رض) زياتوي:
«ستاسې چار مې شورايي کړ او شپږو لومړنيو مهاجرينو ته مې پرېښود»، نومونه يې واخستل او و يې ويل: «حضرات علي، عثمان، طلحه، زبير، عبدالرحمان بن عوف او سعد بن ابی وقاص (رضی الله عنهم) مې وټاکل؛ نو که څلورو تنو يې، يوه ته رای ورکړه؛ نور دواړه دې

---

[1] (طبري تاريخ (۴\ ۲۲۷ مخ) چاپ: بيروت،دارالسويدان)
[2] (بلاذري، انساب الاشراف (۱\ ۵۸۳ او ۵۹۱ مخونه)

باید ورپسې ولاړ شي او که درې یوې خوا او درې بلې خوا ته شول؛ باید د عبدالرحمان بن عوف (رض) نظر په پام کې ونیول شي، واورئ او یې منئ....[1]»

له دې روایته معلومېږي، چې عمر (رض) د عبدالرحمان بن عوف (رض) رایه کچه او غوره کړه او دا د شورا درېمنی ډول دی، چې نظر پرې ورکوي او هم یې ابن عوف (رض) ته لارښوونه وکړه، چې که له چا سره بیعت کوي؛ نو شرط به یې دا وي، چې پر کتاب الله او نبوي سنتو سربېره، د شیخینو ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) پر سیرت هم عمل کوي.

لکه چې احتمال یې و، دا شپږ تنیزه شورا، په دوو برخو وویشل شوه، درې یوې خوا ته او دوه بل لوري ته شول: لومړی ډله علي، طلحه او زبیر ول او نوماند یې علي و او دویمه ډله سعد وقاص، عبدالرحمان بن عوف وو، چې عثمان یې نوماند و او په واقع کې علي کرم الله وجهه د شیخینو پر سیرت عمل کول و نه منل او و یې ویل: «زه پر کتاب الله، نبوي سنتو او خپل اجتهاد عمل کوم.[2]»

خو عثمان (رض) پر هغوی درې واړو شرایطو موافقه وکړه؛ نو ځکه خلافت وروليږدېد.

امام بخاري ددې پېښې یوه برخه، په خپل صحیح کې راوړې. له حسور بن محزمه روایتوي: «څه شپه تېره وه، چې عبدالرحمان (رض) مې ور وواهه، له خوب راپاڅېدم او و یې ویل: خوبوړی دې وینم. پر خدای قسم، دا درې ورځې کیږي، چې سم خوب مې نه دی کړی. په بیره ولاړ شه، زبیر (رض) او سعد (رض) راوله، دواړه مې راوستل، مشوره یې ورسره وکړه او بیا یې راوغوښتم او و یې ویل: علي راوله! را مې وست او د شپې تر روستیو ګړیو یې خبرې ورسره وکړې؛ بیا علي کرم الله وجهه په تمه ولاړ.

بیا یې وویل: عثمان راوله، عثمان (رض) راغی، د ګهیځ تر اذانه یې خبرې ورسره وکړې او چې د ګهیځ د جماعت لمونځ یې وکړ او هغه څو تنه د ممبر تر څنګ راټول شول، په حاضرو مهاجرینو، انصارو او د لښکر په قومندانانو پسې یې یو څوک ولېږه او راغلل چې راټول شول؛ نو عبدالرحمان (رض) شهادت ورکړ (شهادتین یې وویل) بیا یې وویل: امام بعد! علي! د خلکو په چار کې مې وکتل؛ و مې نه موندل، چې دوی له عثمانه واوړي؛ نو

---

[1] (طبري تاریخ (۴\ ۲۲۸ مخ) چاپ: بیروت، دارالسویدان)

[2] (خالد محمد خالد، خلفاء الرسول، ۲۷۲ مخ، اتم چاپ، دارالفکر، بیروت)

ځان خلافت ته مه چمتو کوه! بیا عثمان پاځېد او و یې ویل: زه د الله استازی او تر پېغمبر روسته د دوو خلفاو په سنتو بیعت درسره کوم، بیا عبدالرحمان بیعت ورسره وکړ او خلکو هم بیعت وکړ.[1]

او په دې شان، حضرت عمر (رض) چې خلافت ته کوم شرطونه (کتاب الله او د نبوي سنتو په څنګ کې، د شیخینو سیرت ته پاملرنه) کېښودل؛ نو په هماغه حال کې یې حضرت عثمان (رض) ته خلافت تثبیت کړ؛ ځکه یقین یې درلود، چې علي دې شرایطو ته غاړه نږدي او پوهېده، چې طلحه (رض) او زبیر (رض) هم له علي سره ولاړ دي؛ ځکه په سقیفه کې ورسره همفکري ول. له دې چې تېر شو، عمر (رض) هغې ډلې ته امتیاز ورکړ، چې عبدالرحمان پکې و، چې په ډاګه شي، چې دا نو څه ډول ادعایي شورا ده؟!

## د حضرت عثمان وژنه

د حضرت عثمان د وژنې په اړه ډېرې خبرې روایت شوي، په تېره، د هغې ډلې په اړه، چې خلک یې د هغه وژنې ته هڅول او هغه عوامل، چې دوی یې د هغه د وژنې ته اړ باسل؛ خو د وژنې واقعي تفسیر یې دا دی، چې عثمان (رض) له واکمنۍ ناوړه ګټنه کوله، خپل خپلوان یې والیان وټاکل او بې له حساب او کتابه یې بیت المال پرې ویشه، چې همدا چارې یې پر ضد د راپاڅېدو لامل شوې.

مشهور لیکوال خالد محمد خالد لیکي:

«... چا چې حضرت عثمان (نه علي) خلیفه کړ، پوهېده که علي خلیفه شي؛ نو عدالت به چلوي او شرعي احکام به پلي کوي او د حضرت عمر (رض) توندي به غځوي او ...[2]»

د خلیفه عثمان (رض) خپلوانو، د مسلمانانو په شتمنیو کې لوبې او په بیت المال کې یې بې ځایه لاسوهنې کولې، چې ځینې ګروهن دي، د امویانو واکمني، د عثمان (رض) د خلافت له پیله وه، چې دا مساله د ابوسفیان له خبرې هم څرګندېږي.

---

[1] (صحیح بخاري (۹؍ ۲۳۹ مخ) کتاب الاحکام، باب کیف یبایع الامام الناس)

[2] (خالد محمد خالد، خلفاء الرسول، ۲۷۶ مخ، اتم چاپ)

«امويانو! خلافت د غونډوسکي په څېر يو بل ته لاس په لاس کړئ، پر هغه چې ابوسفيان پرې قسم خوري، سوګند چې تر ننه درته ددې فرصت په لټه کې وم او بيخي به ستاسې بچيانو ته په ميراث ورسي.[1]»

په بل روايت کې ابوسفيان وايي:

«د غونډوسکې په څېر يې يو بل ته لاس په لاس کړئ، چې نه جنت شته او نه دوزخ.[2]»

او په دې ترخ کې، نامي اصحابو کرامو؛ لکه ابوذر غفاري، عبدالله بن مسعود او عمار ياسر (رضى الله عنهم) پرې نيوکه کوله، چې د خليفه له سخت او تونډ غبرګون سره مخامخېدل او سخته سزا يې ورکوله؛ لکه ابوذر (رض) يې «ربذي» ته وشړه؛ ځکه د شام پر والي حضرت معاويه يې نيوکه وکړه، چې سره سپين يې زېرمه کړي او د مسلمانانو په بيت المال کې اسراف کوي. زيد بن وهب (رض) وايي: له ربذې تېرېدم، چې ناڅاپه مې ابوذر (رض) وليد، ورته مې وويل: دا څه ځاى ته راغلى يې؟ و يې ويل: په شام کې مې له حضرت معاويه سره ددې آيت [والذين يكنزون الذهب والفضة ولا ينفقونها فى سبيل الله] په اړه اختلاف وکړ. حضرت معاويه وويل: دا آيت د کتابيانو په اړه نازل شوى دى. ما وويل: زموږ او د هغوى په اړه نازل شوى دى. په دې خبرو اترو بوخت وو، چې عثمان (رض) ته يې په ليک کې زما له لاسه شکايت وکړ. عثمان راته وليکل: مدينې ته راشه! مدينې ته ورغلم. خلک مې ښه راغلاست ته راغلل؛ ته وا مخکې يې ليدلى نه وم. عثمان (رض) ته مې د خلکو د ښه راغلاست قيصه وکړه، عثمان (رض) راته وويل: «که له دې خوشحاله يې، چې يوه لرې ځاى ته دې ولېږم، چې خلکو ته ډېر ګران شې!» او په دې شان يې دلته راولېږلم او که يو تن حبشي يې راباندې امير کړى واى، هرومرو مې د هغه اطاعت کاوه[3].

تر سعد بن وقاص (رض) روسته، حضرت عثمان (رض) خپل مېړنى رور؛ وليد بن عقبه د کوفې والى کړ، چې له بيت الماله اخستى مال يې بيرته بيت المال ته نه و راوړى؛ نو دا چې عبدالله بن مسعود په کوفه کې د بيت المال مسوول و؛ نو پر وليد يې نيوکه وکړه، عثمان

---

[1] (مسعودي، تاريخ (۲\ ۳۵۱ مخ) چاپ: مصر، دارالسعاده)

[2] (ابن ابى الحديد، د نهج البلاغې شرح (۱۹\ ۵۳ مخ)

[3] (صحيح بخاري (۲\ ۲۷۸ مخ) کتاب الزکاة)

(رض) چې خبر شو، خپل مريي ته يې امر وکړ، چې يې وواهه او د عبدالله بن مسعود (رض) هډوکي يې ورمات کړل.[1]
او عمار بن ياسر (رض) يې دومره په خپل مريي وواهه، چې چوره شو او گناه يې دا وه، چې بې د خليفه له اجازې يې د ابن مسعود د جنازې لمونځ وکړ او ښخ يې کړ!! دا ځکه نصيحت يې ورته کړی و، چې پرېنږدي خليفه يې د جنازې لمونځ وکړي.[2]
د خليفه د اسراف يوه بېلگه دا هم وه، چې مروان بن حکم ته يې د افريقا د ټولو عايداتو پينځمه ورکړه او که په دې اړه معلومات غواړئ؛ نو د علامه مودودوي خلافت او ملوکيت کتاب ولولئ.
نو ځکه عايشه ام المؤمنين پر خليفه سخته غوسه شوه او خلک يې د هغه وژنې ته وهڅول، تر دې چې و يې ويل: «اقتلوا نعثلا فقد کفر؛ ناپوه بوډا ووژنئ، چې کافر شوی دی.[3]» او په دې يې تورن کړ، چې نبوي سنت يې اړولي دي او دغسې د خليفه پر ضد عمومي پاڅون زور واخست، مدينوال ترې راتاو شول او له مصر، شام او کوفې د راغليو ډلو په ملتيا يې وواژه.

### له حضرت علي کرم الله وجهه سره بيعت

د حضرت عثمان (رض) تر وژنې او شهادت روسته، خلک پر حضرت علي راتاو شول، چې بيعت يې ورسره ومني او ورته يې وويل: «دا سړی ووژل او شهيد شو او د خلکو بايد يو مشر وي او موږ نن دې چار ته تر تا وړ نه وينو» او بيعت وشو.
او چې علي په خلکو کې د عدالت چلولو چار پېل کړ او د کمزوري او عښتلي ترمنځ يې مساوات او يو رنگتوب راوست او په قرآن مجيد کې يې راغلې الهي پوهې عملي کړي؛ نو

---

[1] (بلاذري، انساب الاشراف (۴/ ۲۶ مخ)+ يعقوبي تاريخ (۲/ ۱۷۰ مخ) چاپ: بيروت دار صادر)
[2] (ابن ابی الحديد، د نهج البلاغې شرح (۱/ ۱۹۹ مخ)+ يعقوبي تاريخ (۲/ ۱۷۱ مخ) چاپ: بيروت،دارصادر)
[3] (طبري تاريخ (۴/ ۲۷۷ مخ) د قاهرې د ۱۳۵۷ س چاپ+ ابن اثير، نهايه (۵/ ۸۰ مخ) چاپ: المکتبة الاسلاميه)

ځينو مخالفت ورسره وکړ او پر ضد يې راپاڅېدل، فتنې يې راولاړې کړې، لښکرې يې جوړې کړې او سرغړاندۍ يې اعلان کړې، چې مهمې يې د جمل او صفين پېښې وې.

## د جمل پېښه او د ام المؤمنين پاڅون

چې ام المؤمنين عايشه بي بي، د حضرت عثمان (رض) د وژنې او د علي کرم الله وجهه له بيعته خبره شوه، عبيدالله بن کلاب- چې همده خبره کړې وه- ته يې وويل: «کاش آسمان راپرېوتی وای؛ خو له علي کرم الله وجهه سره بيعت نه وای شوی. پر تا افسوس، پوهېږې، چې څه وايي؟»

عبيد ورته وويل: ام المؤمنينې! خبر خو هماغه و، چې درته مې ووايه.

عايشې (رض) په ويلو او چغو سر شوه. عبيد ورته وويل: ام المؤمنينې! څه درباندې شوي؟! پر الله قسم، بل څوک ترې وړ نه بولم؛ ولې يې مشرتوب بد منې؟ ام المؤمنين بيا چغې کړې او و يې ويل: «ستنه مې کړئ، ستنه مې کړئ» او مکې ته ستنه شوه او تل يې ويل: «پر الله قسم، عثمان مظلوم ووژل شو، پر الله قسم، د وينې بدل ته به يې راپاڅم»

عبيد ورته وويل: ولې؟ پر الله قسم، ته لومړۍ هغه څوک وې، چې خلک دې د هغه [حضرت عثمان] وژنې ته هڅول او همدا ته وې، چې ويل دې: «هغه بوډا ناپوهه ووژنئ، چې کافر شوی دی.»

عايشې (رض) وويل: توبه يې ترې وايسته، بيا يې وواژه. په هر حال، ما هم خبرې وکړې او هغوی هم او روستۍ خبره مې تر لومړۍ غوره ده! بيا مکې ته ولاړه او د جومات د وره په څنګ کې، خلک ترې راټول شول او و يې ويل: «خلکو! په حقيقت کې عثمان مظلوم وژل شوی، پر الله قسم، د وينې غچ ته يې راپاڅم.[1]»

او د عايشې ام المؤمنين (رض) دا غوسه، د طلحه او زبير (رض) له غوسې سره يو ځای شوه؛ ځکه حضرت علي کرم الله وجهه له دوی څخه د يمن او بحرين ولايت اخستی و؛ نو دوی هم له علي سره خپله ژمنه ماته کړه، مکې ته ورغلل، چې ام المؤمنين له علي سره جګړې ته

---

[1] (طبري تاريخ (۱۷۲\۵ مخ) + ابن اثير تاريخ (۲۰۶\۳ مخ)

وهڅوي؛ نو ځکه يې د عايشې بي بي پر مشرۍ، له يوه لوی لښکر سره بصرې ته حرکت وکړ او هلته جګړه ونښته، چې د «جمل جګړې» په نامه يادېږي، جګړه حضرت علي وګټله او په پايله کې طلحه (رض) او زبير (رض) او تر ۱۳ زرو ډېر مسلمانان هم ووژل شول او دا ټول د عايشې ام المؤمنين ددې بلنې ځار شول، چې د عثمان له وژوونکيو غچ اخلي، چې ادعا يې کړې وه، وژوونکي ټول د حضرت علي پوځيان وو.

په هر حال، دا به ځومره ښه وای، چې عايشې (رض) دا ګرسره مسايل خليفه ته پرېښې وای، په تېره دا چې، الله ورته امر کړی و:

[وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ[1]]

ژباړه: او پخپلو کورونو کې تم شئ

او هلهو د هغې له عثمان (رض) سره څه؟

حضرت عثمان (رض) خو اموي و او دا له بني تمېم وه؛ خو دا چې پاڅون يې يو بل علت ولري!!

او سره له دې چې دا پېښه ټولو پوښتنو ته يو ځرګند ځواب دی؛ خو رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم هم ددې فتنې وړاندوينه کړې وه او په تېرو وختونو کې يې عواملو ته اشاره درلوده.

عبدالله (رض) وايي: پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم په يوې وينا کې د عايشې خونې ته په اشاره درې ځل وويل: «دا د فتنې ځای دی او له دې ځايه د شيطان ښکر راوځي»[2].

عمار ياسر (رض) د عايشې (رض) دا کړنه د الله له اطاعته سرغړونه بولي. ابی زياد اسدي (رض) وايي:

«له عمار (رض) مې واورېدل چې و يې ويل: عايشه (رض) بصرې ته روانه شوه، پر الله قسم چې په دنيا او آخرت کې ستاسې د پېغمبر مېرمن ده؛ خو الله غواړي تاسې ازمېښت کړي، چې د الله منئ يا د عايشې؟[3]»

---

[1] (احزاب\۳۳)

[2] (صحيح بخاري (۴\۲۱۷ مخ) کتاب الخمس، باب ما جاء فی بيوت ازواج النبی)

[3] (صحيح بخاري (۹\ ۱۷۱ مخ) کتاب الفتن)

او ان تر دې پېښې وړاندې مشهوره وه، چې عايشې (رض) له علي كرم الله وجهه سره سخته دښمني درلوده، تر دې چې د علي كرم الله وجهه نوم اخستل پرې ښه نه لګېدل.
عبيدالله بن عتبه (رض) وايي: عايشې (رض) وويل: چې د نبي مكرم صلى الله عليه و آله وسلم ناروغي زياته شوه، له خپلو مېرمنو يې اجازه واخسته، چې د علاج لپاره زما په كور كې وي، اجازه يې وركړه. بيا نبي مكرم صلى الله عليه و آله وسلم په ځان پسې پښې راښكودې او دوو تنو له تخرګونو نيولى، ووت، په دوو تنو كې يو يې عباس و او يو يې بل څوک و.
عبيدالله (رض) وايي: دا خبره مې عبدالله بن عباس (رضى الله عنهما) ته وكړه. راته يې وويل: پوهېږې، هغه سړى څوک و؟ و مې ويل: نه! و يې ويل: هغه علي كرم الله وجهه دى[1].
او لكه چې عايشې (رض) څه چې د افک په پېښه كې له علي كرم الله وجهه اورېدلي وو، ددې كينې لامل و.
عبيدالله بن مسعود (رض) وايي:
«... علي بن ابى طالب ويل: يا رسول الله! څه الله خو درباندې سخته كړې نه ده او بې له دې (عايشې) خو نورې ښځې ډېرې دي[2].»
ستر شاعر احمد شوقي، د بيتونو په ترڅ كې، د علي كرم الله وجهه په اړه د عايشې (رض) كينه، انځور كړې ده:
«اى تېنګ ولاړ غره، چې نور غرونه ستا درون‍د پېتى نشي اوچتولاى، هغې پر اوښ سپرې ښځې درسره څه وكړل؟
ايا په رښتيا، د عثمان (رض) د وينې كسات اخستو ته راپاڅېده يا په زړه كې يې درته بل څه ول؟ هغه ژمنه ماتونه يې هېرو بيخي باورېداى نه شوه؟ خو څه بايد وكړو، چې د ښځو چل ول او مكر تېنګ غرونه دړې وړې كوي.
او ام المؤمنين كه څه، پاكه ښځه ده؛ خو په هر حال ښځه ده!!
يوازې له تاسې سره د اوږدې مودې كينې، په دې عمر او حال كې له كوره راوايسته.»

---

[1] (صحيح بخاري (۱\۱۲۳ مخ)كتاب الوضوء)
[2] (صحيح بخاري (۶\۲۵۲ مخ) كتاب التفسير)

## د عبدالله بن سبا افسانه

**د افسانې لنډيز دا دی:**

«د عبدالله بن سبا په نوم يو تن د يمن يو يهودي و، د حضرت عثمان (رض) په زمانه کې يې د مسلمانانو د غولولو لپاره اسلام راووړ. په اسلامي هېوادونو؛ لکه مصر، شام، بصرې او کوفې کې، د خپلو موخو په تبليغولو لګيا شو او خلکو ته يې زېرى ورکاوه، چې پېغمبر صلى الله عليه و آله وسلم راستنېږي او علي کرم الله وجهه يې وصي دى او حضرت عثمان (رض) يې د وصي حق غصب کړى دى. يوه ډله ورسره يو ځاى شوه او يو شمېر ستر اصحاب (رضى الله عنهم) او تابعينو؛ لکه عمار ياسر، ابوذر، محمد بن ابوحذيفه او نورو ورته مخه کړه، د حضرت عثمان (رض) وژنې ته يې يو ستر لښکر چمتو کړ او خليفه يې په کور کې وواژه. او په همدې شان ددې دروغجنې افسانې پېښې مخې ته درومي او ان د جمل جګړې ته رسي او عبدالله بن سبا خپلو لارويانو ته امر کوي، چې علي کرم الله وجهه او عايشه (رض) درنه خبر نشي او د دوى په لښکرو کې ننوځئ او د جګړې لمبې بلې کړئ او دغسې د جمل جګړه پېښه شوه».[1]

سيد مرتضى عسکري عراقي عالم په خپل کتاب (عبدالله بن سبا په ۴۷، ۷۱، ۷۶ مخونو) کې په مفصل ډول ددې افسانې دروغجنتوب جوت کړى او يادوي، چې جوړوونکى يې د کوفې يو تن سيف بن عمرو تميمى برجمي کوفي دى، چې پر ۱۷۰ س ومړ او ټولو تاريخپوهانو ترې دا افسانه روايت کړې ده. بيا دا داستان مشهور شو او په کلونو کلونو، د تاريخ په کتابونو کې خور شو، ان له مشهورو پېښو شوه، چې د چا پرې شک نه راځي! او لکه چې مسلمانانو او مستشرقو ليکوالو او تاريخپوهانو له ياده ايستلي، چې ددې افسانې جوړوونکى، تر يوه تن زيات نه و او دا راوي (سيف بن عمرو) د احاديثو د تېرو عالمانو په نزد دروغجن، جعل ساز او پر کفر او زندقتوب تورن دى.

ابوداود يې په اړه وايي: «څه ارزښت نه لري، يو تن دروغجن دى»

---

[1] (سيد مرتضى عسکري، احاديث ام المؤمنين ۲۷۲ مخ)

ابن عبدالبر وايي: «سيف، پرېښوول شوی دی او موږ يې حديث يوازې د وګړيو د پېژندنې لپاره روايتوو.»
امام نسايي يې په اړه وايي: «کمزوری دی، حديث يې پرېښول شوی دی؛ د ډاډ وړ نه دی او سم سړی نه دی»
طبري، ابن عساکر، ابن ابی بکر، له دې راوي روايتونه اخستي او نورو ليکوالو او تاريخپوهانو هم تر ننه، له طبري دا روايت اخستي دي».
دغسې داکتر طه حسين[1] او داکتر کامل مصطفی الشبيبي[2]؛ دواړو يو مخې د عبدالله بن سبا شتون نفې کړی دی.
او مشهوره ده، چې د «واحد خبر» روايات يوازې په علمي ګومان (ظن) کې ګټور دی او انسان يقين ته نشي رسولای، دا خو له څه چې، راوي ثقه او ډاډمن نه وي؛ بلکې په دروغو او زندقه هم مشهور وي.
نو آيا بيا يې هم روايات د منلو وي؟!
څنګه هغه «واحد خبر» ومنل شي، چې د خاوند دروغ يې جوت شوي او د مسلمانانو يوه ستره ډله تورنه کړي؛ خو څه چې په تواتر، له نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم رارسېدلي او ددې مطلب اپوته دي؛ خو بيا دې هم ناليدي وګڼل شي؟!
او دا د تاريخ له سترو ټوکو څنې دي، چې تشيع په يوه افسانوي سړي (عبدالله بن سبا) پورې تړي او ادعا وکړي، چې د علي کرم الله وجهه د وصايت مفکوره يې رادبره کړې ده؛ حال دا، بې شبهې او څرګند نصوص او متون جوتوي، چې د اهل بيتو لاروي يوازې نږه محمدي اسلام دی. تاسې خو د همدې کتاب په تېرو مخونو کې د امامت او مشرتوب نصوص ولوستل، چې ايا عبدالله بن سبا ويلي:
«په تاسې کې دوه ګرانبيه څيزونه پرېږدم، که منګولې پرې ولګوئ، بيخي به بې لارې نشئ، کتاب الله او عترت اهل بيت مې»؟
«د چا چې زه مولا يم، نو علي يې هم مولا دی»؟!

---

[1] [الفتنة الکبری (۱ا ۷٦۰ مخ)]
[2] [الصلة بين التشيع و التصوف (۱ا۴٦ مخ)]

ایا ابن سبا د دولس گونو امامانو پر خلافت قایل شوی دی؟
او دا څه ملنډې دي، چې ادعا کوي، چې یو تن یهودي، له «عینه» راځي او په منافقت، خپل اسلام اعلانوي، بیا دا ټول مهم او خارق العاده چارې کوي، ان مسلمانان پوځیان یو له بل سره جنگوي؛ خو څوک ترې خبر نه وي؟!!
ایا معقوله ده، چې یو یهودي راشي او علي تېر باسي؟! هغه علي چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم یې په اړه ویلي:
«زه د حکمت ښار یم او علي یې ور دی.»
بې شکه چې څوک دغسې ادعا وکړي، سخت بې لارې دی او په سرگردانۍ او بې لارۍ کې ډوب دی.

### د صفین جگړه او له حق خلافته سراغړاندي

د جمل تر پېښې روسته، حضرت علي کرم الله وجهه له خپل لښکر سره د حضرت معاویه بن ابوسفیان د ځپلو لپاره شام ته ولاړ، دواړه لښکرې په فرات کې سره مخ شوې. حضرت علي په پیل کې وغوښتل، چې پېښه په سوله ییزه ډول او بې جگړې پای ته ورسي؛ خو حضرت معاویه د علي استازي ته وویل: «لرې شئ! زه بې له تورې بل څه نه لرم» !![1]
او دغسې دواړه لښکرې سره ونښتې او د علي کرم الله وجهه په لښکر کې چې د بریا نښې رابرسېره شوې؛ نو حضرت معاویه یو چل وکړ او خپلو پوځیانو ته یې وویل چې قرآنونه په نېزو او تورو کې پورته کړي. که څه، حضرت علي کرم الله وجهه د دسیسې او چل د خنثی کولو لپاره په کار لاس پورې کړ (ځکه پایله یې د بري شاته غورځول وو)؛ خو په خواشینۍ چې په خپل لښکر کې یې خبره و نه منل شوه او د «منځگړي» منلو ته یې اړ کړ. حضرت علي کرم الله وجهه د خپل لښکر له لوري په منځگړتوب کې د ابوموسی اشعري له استازیتوب سره مخالفت وکړ؛ ځکه کمزوری او بې تدبیره و؛ نو و یې ویل: «زه یې نه منم چې ابوموسی دې منځگړتوب ته ورشي؛ ځکه د عمرو عاص چلونه نشي خنثی کولای.[2]»

---

[1] (ابن صباغ مالکي، الفصول المهمه، ۸۳ مخ، چاپ: دارالاضوا)
[2] (ابن الجوزي، تذکرة الخواص، ۷۹ مخ)

او ان علي کرم الله وجهه خو هغه د کوفې له ولایته هم لرې کړی و او په دې ډول، د مخکېنۍ سنجول شوې طرحې له مخې او د حضرت علي په لښکر کې د حضرت معاویه له نفوذي ډلې سره په همغږۍ (چې منځګړتوب یې غوښته او ابوموسی یې خپل استازی کړی و) یې پر حضرت علي منځګړتوب وتپه او پایله یې د حضرت علي د وړاندوینې له مخې، د حضرت معاویه پر ګټه پای ته ورسېده، چې سوکه سوکه یې وضعیت پر ګټه مخې ته تله؛ حال دا، حضرت معاویه د ځان د واکمنۍ لپاره د مسلمانانو د پر حق خلیفه پر ضد سرغړونه کړې وه.
ما به له دې پېښې مخکې ډېر تعجب کاوه او اندېښمنېدم، چې له دواړو لوریو له ۹۲ زرو تنو ډېر وګړي ووژل شول او چې پوښتل مې؛ ځواب دا و: «دا یوازې د دوو تنو سترو اصحابو ترمنځ یوه فتنه وه، دواړو اجتهاد وکړ، که چا په حق اجتهاد کړی وي، دوه اجرونه لري او بل چې تېروتی؛ نو یو اجر لري او لازمه نه ده په اړه یې زیات فکر وکړو؛ ځکه په تېر امت پورې یې اړه درلوده، چې تللي، اجر او سزا یې خپله وه او په تاسې پورې اړه نه لري»!!!
او له دې لارې نه پرېږدي، چې په وینا یې له دې فتنې پرده پورته شي؛ نو ځکه د اهل سنتو له نظره دا مسله یوه نه هوارېدوونې معما ده او مستشرقینو ته لار پرانزي، چې زموږ د دین په اړه هر څه ووای، ان ځینې یې وایي، په اسلام کې تناقص او ټکر شته او رسول الله دې حدیث ته اشاره کوي:
«که دوه تنه مسلمانان په توره یو له بل سره ونښتل، وژوونکی او وژل شوی دواړه په دوزخ کې دي.»
او دا د اهل سنتو له خبرې سره په ټکر او تعارض کې دی، چې وايي، په صفین کې دواړه جنګي لوري مسلمانان دي او مشران یې دوه تنه ستر اصحاب وو!!
ولې دومره ټینګار لرئ، چې حق له باطله بېل نه کړئ؟!
ولې حقیقت نه ویل کېږي؟
ایا په رښتیا دا نه هوارېدوونې معما ده؟!
په هر حال، که مطلب له چا نه پټ وي او غواړي، د حضرت معاویه له واقعیته خبر شي؛ نو زموږ دلایلو ته دې غوږ ونیسي او بیا قضاوت لوستوونکیو ته پرېږدو.

مسلم په خپل صحيح کې د علي کرم الله وجهه له خولې روايتوي: «پر هغه الله قسم، چې دانه يې وچوه او خلک يې وپنځول، د «اُمّي» پېغمبر دا ژمنه راسره ده، چې يوازې د مؤمن به ښه ايسي او د منافق به بد ايسي.[1]»

دا خو له څه کوې چې څوک ورسره د جګړې لپاره لښکر راباسي؟

د واجب الطاعه امام پر خلاف د سرغړاندی په اړه د اهل سنتو څه حکم دی؟!

په صحيح بخاري کې د حضرت معاويه بن ابوسفيان ددې فساد په اړه اشاره شوې:

ابوسعيد خدري (رض) وايي: د نبوي جومات يوه يوه خښته مو وړه؛ خو عمار دوې دوې وړې؛ نو آنحضرت پرې تېر شو او په خپل مبارک لاس يې له عمار دوړې او خاورې لرې کړې او ورته يې وويل: «افسوس پر عمار، چې بې لارې ډله به يې وژني، عمار دوی الله ته رابولي او دوی يې دوزخ ته وربولي.»[2]

او د پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم دا وړاندوينه عملي شوه؛ ځکه عمار (رض) د علي کرم الله وجهه تر بيرغ لاندې په صفين کې وجنګېد او شهيد شو.

په مستدرک الصحيحين کې له خالد العربي روايتوي:

زه او ابوسعيد خدري، حذيفه (رض) ته ورغلو. و مو ويل: د عبدالله پلاره! د فتنې له اړه دې چې له رسول الله څه اورېدلي راته ووايه. حذيفه (رض) وويل: رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: له قرآن سره حرکت وکړئ او په بهير کې يې شئ. و مو ويل: که خلکو اختلاف وکړ؛ نو له چا سره شو؟ و يې ويل: هغه ډلې ته وګورئ چې د سميه زوی (عمار) پکې دی؛ نو هماغه غوره کړئ؛ ځکه هغه د الله له کتاب سره خوځي او په رښتيا، له رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم مې واورېدل، چې عمار ته يې وويل: «ابويقظانه! تر هغې نه مرې، چې له سيده لارې کږه شوې ډله دې ووژني.[3]»

---

[1] (صحيح مسلم (۱ا ۲۶۲ مخ) ۷۸ ګڼه حديث. دارالشعب چاپ، کتاب الايمان باب: حب علی کرم الله وجهه من الايمان)

[2] (صحيح بخاري (۴ا ۵۲ مخ) کتاب الجهاد، باب مسح الغبار عن الراس فی سبيل الله.... )

[3] (مستدرک الصحيحين (۲ا ۱۴۸ مخ) چاپ: دارالکتاب العربی)

د حضرت معاويه بن ابوسفيان دا انحراف او فساد ناڅاپي نه و؛ ځکه له هغې ورځې (د حضرت عمر په زمانه کې) چې د شام والي شو، هلته يې ډېرې ماڼۍ او شنه ځايونه جوړ کړل او د حضرت عثمان (رض) پر وخت يې لا پراختيا ورکړه، چې د هغه (حضرت معاويه ) په څېر چا ته اسانه نه و، چې لاس ترې واخلي او هغه (حضرت معاويه ) سل په سلو کې يقين درلود، چې حضرت علي کرم الله وجهه به يې له ولايته لرې کړي؛ نو دا جايدادونه به ترې اخلي او تر نورو مسلمانانو به پر کوم امتياز ورته قايل نشي.

د ابوذر غفاري (رض) داستان خو مو مخکې ولوست، چې پر حضرت معاويه يې د اسراف له لامله نيوکې کولې، چې په پايله کې يې حضرت عثمان ربذې ته وشړه.

زيد بن وهب وايي: «په ربذه کې پر ابوذر (رض) تېر شوم. و مې ويل: چا دلته راوستې يې؟ و يې ويل: په شام کې مې دا آيت ولوست:

{وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ[1]}

مؤمنانو! (د کتابيانو) ډېر عالمان او راهبان (= شيخان) د خلکو مالونه په ناروا خوري او د الله له لارې (يې) منع کوي او هغوی چې سره او سپين زر زېرموي او د الله په لار کې يې نه لګوي؛ نو له دردناك عذابه يې خبر کړه!

حضرت معاويه وويل: دا آيت زموږ په اړه نه دی؛ بلکې د کتابيانو په اړه دی! و مې ويل: زموږ د دواړو په اړه نازل شوی دی[2]. ددې خبرې سزا دا وه، چې ابوذر (رض) يې ربذې ته وشړه؛ حال دا، نبي کريم (رض) د ابوذر (رض) په رښتينتوب ګواهي ورکړې ده: «... تر ابوذر ډېر رښتين څوک نشته.[3]»

له دې داستانه څرګندېږي، چې حضرت معاويه خپل اسراف او بې ځايه لګښت ته مخونه ورکوي او د قرآن له تفسير سره لوبې کوي. او تر دې خو غټ مصيبت دا دی، چې امام بخاري په خپل صحيح کې يو فقيه ترې جوړ کړی.

---

[1] توبه\ ۳۳

[2] (صحيح بخاري (۶\ ۱۴۶ مخ) کتاب التفسير، باب: قوله والذين يكنزون الذهب)

[3] (صحيح ترمذي (۱۳\ ۲۱۰ مخ) مناقب ابوذر+ امام احمد حنبل مسند (۲\ ۱۷۵ مخ)

له ابن مليکه روايتوي: حضرت معاويه تر ماخوستن لمانځه روسته، يو رکعت نفل لمونځ وکړ. هلته د ابن عباس مولا و، منډه يې کړه او ابن عباس ته يې دا پېښه وويله: ابن عباس وويل: «کار پرې مه لرئ؛ ځکه د رسول الله له اصحابو ځنې دی.[1]»
او په بل روايت کې: «... و يې ويل: په واقع کې هغه يو فقيه دی»!!![2]
البته که پوه شو، حضرت معاويه ۲۰ کاله د مسلمانانو خليفه او مخکې ترې د شام والي و؛ نو لوستونکي به و انګېري، چې خپلو چارو ته يې د مخونې لپاره څومره احاديث جوړ کړي او يا يې د خپلو جناياتو پټولو ته څومره روايات په نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم پورې تړلي دي؛ خو په هر حال، خپله وسه يې وکړه؛ خو تاريخ او حديث يې په ټوليز ډول په خپله ګټه وا نه ړولای شول، چې د دغسې يو خليفه په حقيقي پېژندنې کې هيڅ شک پاتې نشي، هماغه چې ان اميرالمؤمنين يې هم ورته ووايه!!
په واکمنۍ کې د حضرت معاويه بن ابوسفيان خوی او چلن کورنۍ جرړې درلودې؛ لکه چې پلار يې له حضرت عثمان (رض) سره له بيعت روسته ده ته وويل: «امويانو! خلافت د غونډوسکې په څېر يو بل ته ورکړئ، پر هغه چې ابوسفيان پرې قسم خوري، تل مې درته ددې ورځې هيله کوله او هيلمن يم، هرومرو اولادونو ته مو ورسي.[3]»
او په بل روايت کې يې زيات کړي: «... څه دوزخ او جنت خو نشته».
او دا هغه حقيقت ته اشاره ده، چې دا کورنۍ يې د اسلام منلو ته هله اړ کړه، چې مکه سوبه شوه او ټولو وسېدوونکيو يې اسلام ته مخه کړه.
دې بل روايت ته وګورئ، چې دوی څنګه په اکراه او ناخوښۍ مسلمانان شول.
عبدالله بن عباس (رض) وايي:

[1] (صحيح بخاري (۵\ ۷۳ مخ) کتاب فضايل الصحابه، باب ذکر معاويه)
[2] (صحيح بخاري (۵\ ۷۴ مخ)
[3] (مسعودي، مروج الذهب (۲\ ۳۵۱ مخ)

«ابوسفیان وویل: پر الله قسم، تل خوار او ذلیل وم او یقین مې درلود، چې امر یې څرګندېږي (د پېغمبر اسلام اعلانېږي) تر دې چې الله مې اسلام په زړه کې دننه کړ؛ خو ترې کرکجن وم.[1]»

نو ابوسفیان چې په خوله د داسې خبرې کولو جرائت ولري؛ نو که خپل زړه یې راسپړلی وای؛ نو په رښتیا څه به یې ویل؟ امام مسلم په خپل صحیح کې، د حضرت معاویه په اړه د نبي کریم حدیث روایتوي:

یوه ورځ رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ابن عباس (رض) ورپسې ولېږه چې راشي او ورته وکښي. ابن عباس (رض) ولید، چې خواړه خوري، راستون شو او پېغمبر یې خبر کړ. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم بیا ورپسې ولېږه، بیا هم ابن عباس (رض) ولیدل چې خواړه خوري، درې ځل دا تګ راتګ وشو. په پای کې پېغمبر وویل: الله دې یې په خېټه نه مړوي.[2]»

په صحیح مسلم کې راغلي: رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «... حضرت معاویه یو ګدا دی، چې پیسې نه لري.[3]»

او د امام احمد حنبل په مسند کې راغلي، چې پېغمبر د حضرت معاویه او عمرو عاص په اړه وویل: «یا الله، دوی په فتنه کې واړوه او جهنم ته یې ولېږه.[4]»

او ډېر روایات شته، چې د امیرالمؤمنین (!) حضرت معاویه د هندې ځیګر خورې د زوی حقیقت رابرسېروي، چې په دې نړۍ کې یې کړنې په دې پای ته ورسېدې، چې خپل شل کلن، فاسق او شرابخور زوی یې تر ځان روسته، د مسلمانانو خلیفه کړ او نه یوازې له امام

[1] (صحیح بخاري (۴\ ۱۲۲مخ) کتاب الجهاد)

[2] (صحیح مسلم (۱۵\ ۴۶۲ مخ)، ۹٦ ګڼه حدیث، کتاب البرو الصدقه والاداب، باب من لعنه النبی، چاپ دارالشعب (د نووي له شرح سره)

[3] (صحیح مسلم (۱۳\ ٦۹۳ مخ) ۴۷ ګڼه حدیث، کتاب الطلاق، باب المطلقه البائن لا نفقه لها، دارالشعب چاپ)

[4] (امام احمد حنبل مسند(۱۴\ ۴۲۱ مخ) چاپ: داراحیاء التراث العربي)

حسن سره یې د سولې تړون مات کړ؛ بلکې له الله او رسول الله سره یې په مخالفت لاس پورې کړ او د شیخینو سنت او ان اهل سنت چې څه سنتونه یادوي، ټول یې ولتاړل.

## د حضرت علي کرم الله وجهه شهادت

د نهروان جګړه د حضر علي کرم الله وجهه روستۍ جګړه وه، دا جګړه له هغې ډلې سره وه، چې په صفین کې یې پر حضرت علي باندې منځګړتوب وتپه؛ خو څو ورځې روسته پښېمانه شول او خپله ژمنه یې ماته کړه او له حضرت علي سره یې خپل بیعت نالیدی وګاڼه او پر ضد یې راپاڅېدل، چې د «خوارجو» یا «مارقینو» په نامه مشهور شول. حضرت علي کرم الله وجهه په جګړه کې ورباندې بریالی شو؛ خو منځګړتوب له ماتې سره مخ شو او حضرت علي کرم الله وجهه ځان د شام له سرغړاندو سره مبارزې ته چمتو کاوه؛ چې په دې ترڅ کې یو تن خوارج «عبدالرحمان بن ملجم» پر څلوېښتم هجري کال د رمضان میاشتې پر نولسمه، د سهار لمانځه په سجده کې د کوفې په جومات کې د تورې ګوزار پرې وکړ، چې له لامله یې شهید شو.

د حضرت علي کرم الله وجهه خلافت پنځه کاله و او تر ګوزار روسته درې ورځې سخت ناروغ و، چې په دې ورځو کې یې امامت خپل زوی امام حسن ته پرېښود، چې روسته د امت د مشرۍ مسوولیت ورترغاړې شي او دا وصیت له دې لامله نه و، چې امام حسن یې زوی و یا دا چې له نظره یې خلافت ته وړ و؛ بلکې پر الهي لارښوونې یې عمل کول و، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته یې دولس ګوني امامان ټاکلي و، چې دویم یې امام حسن (رضی الله عنه) و.

## د سولې تړون او د امام حسن (رض) شهادت

د حضرت علي کرم الله وجهه تر شهادت روسته، امام حسن (رض) ممبر ته وخووت او کوفیانو ورسره د پېغمبر د خلیفه او د امت د امام په نامه بیعت وکړ؛ خو تر شپږو میاشتو ډېره موده اوختې نه وه، چې شام ته د حضرت علي کرم الله وجهه د شهادت خبر ورسېد او حضرت معاویه یو ستر لښکر کوفې ته راوخوځاوه، چې په خپله د مسلمانانو د چارو واګې واخلي او امام حسن (رض) تسلیمۍ ته اړ کړي. امام حسن (رض) بې له سولې بله لار نه

درلوده، چې له حضرت معاویه سره د سولې تړون وکړي او له هغو علتونو او عواملو، چې امام یې دې سولې ته اړ کړ، یو خوا یې د پوځیانو نظام له منځ تللی و، د عراق دننی وضع ګډه وډه وه او هم د روم سترې امپراطورۍ د اسلام د ځپلو لپاره وسله وال لښکر چمتو کړی و؛ نو ددې لاملونو په پامنیوي، که د امام او حضرت معاویه ترمنځ جګړه نښتې وای؛ بېشکه نه امام بریالی کېده او نه حضرت معاویه او بریا یوازې د روم د امپراطورۍ وه او په دې شان، امام د سولې په منلو، هغه ستر خطر له مخې لرې کړ، چې اسلام یې ګواښه.

د سولې د تړون مادې دا دي:

۱-حسن بن علي (رض) حکومت او د چارو واګې حضرت معاویه ته په دې شرط سپاري، چې د قرآن او نبوي سنتو د قوانینو له مخې به عمل کوي.

۲-د حضرت معاویه تر مړینې روسته، خلافت د امام حسن (رض) ځانګړی حق دی او که کومه پېښه ورته وشوه؛ نو خلافت یې خپل رور امام حسین (رض) ته ولېږدول شي.

۳-علي کرم الله وجهه ته دې پر ممبرونو او نورو ځایونو کې هر ډول کنځل او بې ادبي منع شي.

۴-د کوفې په بیت المال کې دې پینځه میلیونه درهمه د امام حسن تر څارنې لاندې ولګي او پر حضرت معاویه لازم ده، چې امام حسن (رض) ته هر کال یو میلیون درهمه د بیت المال له لګښته راولېږي، چې امام یې د جمل او صفین په جګړو کې د هغو پوځیانو کورنیو ته ورکړي، چې د علي په مشرۍ شهیدان شوي دي.

۵-حضرت معاویه دې ژمن شي، چې د یوې ډلې خلک به هم نه ځوروي او ژمن شي، چې ددې تړون ټولې مادې په ځیر عملي کړي او خلک پرې ګواه ونیسي.

خو امام حسن (رض) په (۵۰) س شهید شو او مېرمنې جعدې یې په زهرو وواژه، چې د اشعث بن قیس لور ده (چې له علویانو سره یوه مخالفه کورنۍ وه) او د پېښې اصلي عامل حضرت معاویه بن ابوسفیان و، چې یو لک درهمه یې ورولېږل او ژمنه یې ورسره وکړه، که امام مسموم کړي؛ نو خپل زوی یزید ته به یې ورنکاح کړي.

په هر حال معاوبه بن ابوسفیان د امام حسن (رض) له شهادته خورا خوشحاله شو؛ ځکه هغه یې د خپلو موخو د عملي کېدو (په تېره د اموي کورنۍ د واکمنۍ په لار کې) ستر خنډ باله

او دا دی اوس له نړۍ تللی او په دې شان، حضرت معاویه خپلو موخو ته ورسېد او په زوره یې خپل چټل زوی، پر اسلامي امت، خپل ځایناستی وټپه.

دا چار له شورا سره څه اړیکه لري، چې اهل سنت د خلافت لپاره پرې ګروهن دي؟!

ایا دوی د اهل بیتو د امامانو خلافت په دې دلیل نه ردوي، چې باید خلافت شورایي وي؟!

ایا دا دلیل کېدای نشي (چې د دوی په نظر) که خلافت شورایي نه وي؛ نو مشروعیت نه لري؟!

نو څرنګه د یزید خلافت مشروع او پر ځای بولي؟!

او څرنګه یې امیرالمؤمنین مني؟!

اوس نو یوه ګړۍ تامل وکړه، چې زموږ د اسلامي تاریخ د ځینو تورو پاڼو او هم د یزید بن معاویه د ژوند له حالتو خبر شې.

## د کربلا خوځښت

### او د امام حسین (رض) شهادت

پر (۵۰) س د امام حسن تر وفات روسته، عراقیانو امام حسین ته لیکونه واستول، چې حضرت معاویه د مسلمانانو له مشرتوبه لرې کړي؛ خو امام حسین په ځواب کې ورته وکښل، چې د تړون له مخې دا چار نشي کړای؛ خو حضرت معاویه په شل کلنې واکمنۍ کې تر ځان روسته، د یزید خلافت ته لاره چاره جوړوله، چې پر مؤمنانو یې امیر کړي او په دې شان یې نه یوازې له امام حسن سره کړی تړون ماتاوه؛ بلکې د اهل سنتو له نظر سره یې هم مخالفت کاوه؛ ځکه دوی خو ګروهن دي، چې خلافت باید شورایي وي او «صلاح او تقوا» هم د خلیفه کېدو شرط بولي، اوس وګورئ، چې حضرت معاویه د مسلمانانو په حق کې څومره ستر جنایت کړی، چې ورپسې اموي او عباسي خلفاوو یې پر پل پلونه کېښوول او داسې کړنې یې وکړې، چې د هغوی او زموږ د پېر د فاسقو واکمنو ترمنځ توپیر نه کېږي. (البته موږ ګروهن یو، هغه انحرافي سنن او دودونه چې مخکښیو، په تېره معاویه بن ابوسفیان رادېره کړل، چې د اسلامي هېوادونو د اوسنیو چارواکیو له خیانتونو سره بېخي پرتلنوړ نه دي او په حق ویلای شو، دوی چې پر هرې ګناه لاس پورې کوي، هغه تېر بې لارې غاصبان پکې ګډونوال دي؛ ځکه په آر کې، همغوی د الله قانون او د پېغمبر سنت واړول او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یې له هرې تګې برګې کار واخست او په ډاګه یې د قرآن له احکامو سره په مبارزې لاس پورې کړ او داسې جنایتونه یې وکړل چې د تاریخ پاڼې یې تورې کړي، چې نه یوازې د ښښنې وړ نه؛ بلکې تر قیامته د ټولو مجرمینو له ګناهونو سره پرتلنوړ نه دي.)

پر (٦٠) س د حضرت معاویه تر مړینې روسته، یزید خلیفه شو او ماڼۍ یې د فسق و فجور مرکز شوه. هغه د مسلمانانو د ټولو ډلو په منښته او اقرار؛ په ډاګه شراب څښل او په شپنیو ناستو کې نشه کېده او انحرافي شعرونه یې ویل او یزید ځکه دا چارې کولې، چې هغه یو نصراني دایۍ روزلی و او تاریخپوهان لیکي، چې یزید، ګناهکار، زورور، شرابخور، چړچه مار، مسرف، بې حیا او لنډ پاری و. روایت شوی، چې یوه ورځ یې د جمعې د ورځې لمونځ پر چهار شنبه وکړ او د شرابو د ډېرې نشې له لامله یې د ګهیځ لمونځ څلور رکعته کړ او دغسې بې لارېتوبونه یې ډېر پر ژوند لیدل شوي، چې دلته یې د ویلو ځای نه دی او موږ یې

یوازې بېلګې راواخستې، چې پر هغو شرایطو یوه رڼا واچوو، چې ولې امام حسین (رض) د یزید پر ضد پاڅون یو واجب چار ګاڼه.
د یزید په واکمنۍ کې اسلامي احکام او سنن په مسخ او ورکېدو ګواښل کېدل او امام حسین (رض) بې د اسلام د ژوندي ساتلو بله انګېزه نه درلوده او چورلټ خلافت ته د رسېدو انګېزه یې نه درلوده؛ ځکه پوهېده، چې شته وضعیت، د امویانو د واکمنۍ د ټینګېدو لپاره ښه فرصت دی، په تېره دا چې عراقیانو ورسره ژمنه ماته کړه او له امویانو یې ډار زیات شو. (د یادونې وړ ده، چې خلافت د امام حسین (رض) واقعي حق و او که ورته د رسېدو وس یې درلود، هېڅکله یې سرغړونه ترې نه کوله؛ ځکه دا یو حق و، چې الله ورته ټاکلی و او د تېرېدو وړ نه و؛ لکه چې محترم لیکوال هم ورته اشاره کړې، چې د هغه وخت شرایط داسې ول، چې خلافت ته رسېدل محال وو او پخپله امام حسین هم د خپل خوځښت په پیلامه کې، د شهادت پرېکونې هوډ درلود او په هر حال، سیدالشهدا د فساد پر ضد پاڅون وکړ او په خپل سور مرګ یې، د اسلام مړاوې ونه بیا راټانده کړه او دا د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خبرې مانا ده چې یې ویل:
«حسین مني و انا من حسین؛ حسین زما څخه دی او زه له حسین څخه یم» (ژباړن)
امام حسین کربلا ته نژدې، په یوه وینا کې د خپل پاڅون علت داسې اعلانوي:
«خلکو! چې څوک یو ظالم واکمن ویني، چې د الله حرام، حلالوي او الهي ژمنې ماتوي او د رسول الله له سنتو سره مخالفت کوي او د خدای له بندګانو سره په ګناه او تېري چلي؛ خو نه په علم او نه وینا مخالفت ورسره نه کوي، حق دی چې خدای یې له دې ظالم واکمن سره یو ځای په دوزخ کې واچوي.»
همدغسې و یې ویل:
«خلکو! دوی په شیطان پسې تللي او له لوراند خدای یې سرغړاندي کړې او پر ځمکه یې فساد راولاړ کړی او الهي سننو ته یې شا کړې او د مسلمانانو بیت المال یې ځانته ځانګړی کړی، دوی د خدای حرام، حلال او حلال یې حرام کړي او تر ټولو خو زه وړ یم، چې مخالفت ورسره وکړم.»
امام حسین (رض)، چې د کوفیانو پر ژمنې ماتونې پوه شو؛ نو خپل اهل بیت او یاران یې راټول کړل او ورته یې وویل:

«شیعه وو مې راسره ملاتړ و نه کړ؛ نو چې څوک ځي، هرومرو دې ولاړ شي، چې زما له لوري پرې څه پړه نشته.»
نو ځینې سست عنصري له ښي او کیڼ اړخ خپاره واره شول او یوازې ډېر لږ شمېر مخلص یاران یې- چې له مکې او مدینې ورسره راغلي وو- پاتې شول.
په هر حال امام، پر خپل هوډ ټینګ پاتې شو او په کوم همت یې چې له مکې حرکت کړی و، له خپلو یارانو، روڼو، اولادونو، د تره زامنو او خپلوانو سره- چې شمېر یې تر اتیاوو زیات نه وو- را روان شو او یو شاعر یې د حال ژبه داسې بیانوي:
«که د محمد صلی الله علیه و آله وسلم دین زما په وژنه ژوندی پاتېږي؛ نو ای تورو، را و مې نغاړئ»
او په دې شان، د کوفې والي؛ عبیدالله بن زیاد، د عمر بن سعد په مشرۍ یو لښکر (چې په ځینو روایاتو کې شمېر یې ۳۲ زره تنه و) ورولېږه او ورسره مخ شو.
طبیعي ده، یزید بن معاویه چې دغسې یو ځواکمن ځواک چمتو کړی و، د شمېر له مخې، د دغسې ډېرې لږې ډلې د وژنې لپاره بس و.
هو! پر هغه ورځ (د عاشوار پر ورځ) د اهل بیتو کړاو او مظلومیت پوره په ډاګه و؛ لکه چې یزید بن معاویه په دې بې رحمانه وژنه، غوښتل، د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د غوښتنې بدله ورکړې چې قرآن یې له ژبې وایي: «ووایه! هیڅ بدله درڅخه نه غواړم؛ خو له اهل بیتو او خپلوانو سره مې مینه وکړئ.»
تاریخ پر هغه ورځ ډېرې زړه بګنوونکې منظرې ولیدې، چې څوک یې پر حقیقت او تل نشي پوهېدای. تر دې ډېر، د امام د تیخور زوی عبدالله مصیبت دی، چې امام په غېږ کې ونیو او ډګر ته روان شو او اموي لښکر ته مخامخ ودرېد او ورته یې یو غړپ اوبه وغوښتې، چې سختې تندې راختې و. امام غوښتل د دوی ویده وجدان راویښ کړي او انساني ننګېرنه پکې راوپاروي؛ خو نه یوازې کوم انسانیت ترې و نه لیدل شو؛ بلکې په پوره بې رحمۍ او سخت زړۍ یې په غشي ویشت او د امام په غېږ کې یې شهید کړ او په دې شان به د حسین (رض) یو یو یار او اهل بیت د مني د پاڼو په څېر، پر ځمکه رالوېدل او شهیدانېدل، ان نوبت خپله حضرت امام حسین ته ورسېد. امام حسین روستۍ تن و، چې په دې خونړۍ جګړه کې شهید شو.

هغو پلیدو، ان د حسین (رض) پر وژنه (چې جنتي ځوانانو ښاغلی و) هم بسیاینه و نه کړه؛ بلکې مبارک سر یې له تنې ورجلا کړ او د نورو شهیدانو له سرونو سره یې یو بل ته ډالۍ کول، د دوی سرونه یې پر نېزو هسک کړل او شام ته یې یزید بن معاویه ته ولېږل؛ خو بیا هم یو شمېر مسلمانان ټینګار کوي، چې امیرالمؤمنین یې ونوموي!! ولا حول ولا قوة الا بالله.
دا پېښه د امام حسین (رض) د سترو ارمانونو ښودونکې ده، چې امام یې د عملي کولو لپاره خوځښت رادبره کړ، چې یو ستر اسلامي لیکوال؛ «داکتر عمر عبدالرحمان» یې په اړه وایي:
«د حسین شهادت یې تر ژوندي پاتېدو،ې زر وارې مهم او ستر و.»
او په دې حال، په خواشینۍ سره، چې ځینې لیدل کېږي، چې د امویانو له انحرافي تبلیغاتو ځار شوي او ددې ستر اوښتون- انقلاب ارزښت راکموي او اپوټه یې ښیي؛ لکه چې شیخ الاسلام (!) ابن تیمیه وایي:
«امام حسین په دې پاڅون، په اسلامي امت کې یوه فتنه راولاړه کړه؛ ځکه د مسلمانانو له خلیفه یې سرغړونه وکړه!! او پر ضد یې راپاڅېد!!
او که له دې شیخ الاسلام (!) وپوښتو، چې حضرت معاویه څنګه د حضرت علي له اطاعته سرغړونه وکړه او پر ضد یې راپاڅېد، وایي: چې دا یوه فتنه وه، چې د دوو تنو ترمنځ رامنځ ته شوه او دواړه بې ګناه دي او د علي پر ضد د عایشې (رض) پاڅون او سرغړونه هم دا شان ده.
دا زموږ په اسلامي تاریخ کې د زښتې زیاتې اړونې یوه بېلګه ده، که نه د اهل سنتو دغسې نالیدي ګڼل، څرنګه تفسیرولای شو، چې د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم اهل بیت په خورا ناوړه بڼه ربړول او وژل کېږي.
البته همدا کرښه، چې حضرت معاویه او زوی یې وکاږله؛ نور اموي او عباسي پاچایان هم پرې ولاړل او هر ډول مخالفت یې پر همدغه شان سخت ځپه، په تېره چې اهل بیت یې تر همېشه تعقیب او څارنې لاندې وو، چې ربړونه، وژنه، زورزیاتی او کډوالي د اهل بیتو په برخه شوه.
بېشکه نن موږ په خپل اسلامي تاریخ کې له سره کتنې ته اړ یو، چې په ځېر تېرې پېښې وارزو؛ ځکه له اوسنیو اسلامي مذاهبو سره ټینګ تړاو لري او په دې شان، بې له دې چې د کومې ډلې حق ولتاړو، پر حقیقت یې پوهېدای شو؛ ځکه د دې پېښو د پیدایښت له لامله

مسلمانان له نړه محمدي اسلامه لرې شول او بېلابېلې ډلې يې جوړې کړې، چې هره يوه ځانته ناجيه او ژغورنده ډله وايي! او په دې زمانه کې خو څوک هڅه‌و انتظار نه لري، چې له اسمانه به وحې او الهام راشي او ژغورنده ډله به په نښه کړي او په واقع کې، خدای عقل راکړی، چې ښه او بد پرې بېل کړو او خدای عقل پر خپلو بندگانو حجت کړی او له پټو سترگو تلو يې منع کړي يو:

[وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُواْ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلاَ يَهْتَدُونَ[1]]

ژباړه: او چې کله دوی ته وويل شي: ((د هغه څه پر لوري چې الله نازل کړي [قرآن] او د استازي لوري ته [يې] ورشئ. )) وايي: ((هماغه لار راته بس ده، چې موږ خپل پلرونه پرې موندلي)) که څه پلرونه يې په هېڅ نه پوهېدل او له سمې لارې ناخبره ول (؛ نو بيا هم ورپسې ځي)؟ !

[أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ بَلْ جَاءهُم بِالْحَقِّ وَأَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ[2]]

ژباړه: يا وايي چې ليونتوب پرې لگېدلی دی (داسې نه ده)؛ بلکې (پيغمبر) حق (دين) وروړی او ډېر يې له حق سره کرکجن دي (او ترې تښتي).

او خدای راته امر کړی، وړاندې تر دې چې د چا خبره ومنو؛ څېړنه او پلټنه وکړو.

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ[3]]

ژباړه: مؤمنانو! که کوم فاسق يو ستر خبر درته راووړ؛ نو (په اړه يې) څېړنه وکړئ، هسې نه په ناپوهۍ کې کومې ډلې ته زيان ورسوئ او (بيا) پر خپلو کړنو پښېمانه شئ.

او دا ظلم نه يوازې د نبوي کورنۍ په اړه و؛ بلکې بې له دوی نور هم د اموي زورزياتۍ او استبداد بلهار شوي ول؛ لکه حضرت عبدالله بن زبير (رض)، چې تاريخ يې په بيت الله کې

---

[1] (مائده\١٠۴)

[2] (مؤمنون\ ٧٠)

[3] (حجرات\٦)

د وژنې (له بدنه یې دده پوټکی وایست) بوږنوونکی صحنه کښلی او ان د بیت الله سپېڅلتیا هم ددغسې بدې کړنې مخه ونشوه نیوای.
حال دا، په جاهلیت کې ددې ځای درناوی کېده او نه یوازې انساني وینه تویول یې ناروا ګڼل، چې د ځارویو هم او دا لا څه چې د عبدالملک بن مروان په پېر کې، د ده خونړي والي؛ «حجاج» کعبه په منجنیق وایشته او د حرم بې ګناه مجاوران او پاسوالان ووژل شول.
حسن بصري (رح) په دې اړه وایي: «که عبدالملک بې د حجاج له ګومارنې بله ګناه نه درلوده؛ نو همدا ورته بس ده!»
حضرت عمر بن عبدالعزیز (رح) هم وایي:
«که ټول امتونه، خپل ظالمان راولي؛ خو موږ یوازې حجاج راولو؛ نو پر دوی به زموږ تله وردرنه شي».
او پر دوی سربېره، ولید بن عبدالملک، په خوار سپین سترګۍ، د الله تعالی کتاب څېرې کوي او....
ایا دغسې چارې، ددې کړنو د عاملینو د مسلمانۍ دلیلېدای شي، دا خو لا څه چې د مسلمینو خلیفه او امیرالمؤمنین وي؟!!

## دویمه برخه

## د اصحابو عدالت

د اهل سنتو او شیعه وو ترمنځ یوه ستره اختلافي او تر ټولو نازکه او حساسه مساله د اصحابو عدالت او د عدالت کچه او درجه یې ده؛ ځکه اهلسنت ګرسره اصحاب عادل بولي او هیڅ ډول نیوکه پرې روا نه ګڼي؛ بلکې کوم احادیث یې چې له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه نقل کړي، سل په سلو کې یې سم ګڼي او په اړه یې ځان ژمن بولي.

«نووي» پر صحیح مسلم د خپلې شرحې په سریزه کې، صحابي داسې معرفي کوي:

«هر مسلمان چې د یوې شیبې لپاره یې پېغمبر لیدلی وي، صحابي دی او دا پر خپل ځای سمه ده او احمد بن حنبل، بخاري او ټول د احادیثو لیکوال پر همدې ګروهه دي.[1]»

خو شیعه په دې باور دي، چې ټول اصحاب د عدالت او اعتبار په یوه درجه کې نه دي او نیوکه پرې روا ده او په دې اړه، له کتاب او سنتو دلایل لري او دا یو تور دی، چې ځینې ناپوهان یې په شیعه وو پورې تړي، چې ګڼې شیعه ګرسره اصحاب کافر بولي یا یې کنځي؛ ځکه پر صحابي نیوکه، د تکفیر پر مانا نه ده او که نیوکه پر قانع کوونکیو دلایلو وي؛ نو دا دومره ډنډورې د څه لپاره دي؟ په اصحابو کې داسې مؤمنین دي، خدای تعالی په قرآن کریم کې ستایلي دي:

[لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا[2]]

ژباړه: په رښتیا، الله له مؤمنانو هغه وخت خوشحاله شو، چې تر ونې لاندې یې بیعت درسره وکړ؛ نو (الله) پوه شو، چې په زړونو کې یې څه دي؛ نو ځکه یې پرې ډاډ راښکته کړ او په بدل کې یې ((نژدې بریا)) ورپر برخه کړه؛

---

[1] (صحیح مسلم، دنووي له شرح سره (۱۱\۲۸ مخ) چاپ: دارالشعب)

[2] (فتح\۱۸)

ارواښاد لطف الله صافي ددې آيت په اړه ويلي:

«د خدای تعالی ستاینه هغه مؤمنان رانغاړي، چې تر ونې لاندې، په بیعت کې حاضر وو او هلته شته او حاضر منافقین؛ لکه عبدالله بن ابی او «اوس خولي» پکې رانغاړلېږي.»

نو دا آيت هغه وګړي نه رانغاړي، چې بيعت يې نه دی کړی او هم د بيعتوونکيو مؤمنانو عاقبت په خير نه راښيي؛ ځکه خدای تعالی يوازې د دوی له بيعته خوښي څرګنده کړه؛ يعنې د دوی دا بيعت يې ومانه، چې بدله به يې ورکړي؛ خو له دې بيعتوونکيو د خدای رضايت ددې لازمه نه ده، چې همېشه به ترې راضي وي. ددې خبرې دليل د خدای وينا ده چې وايي:

[إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا[1]]

ژباړه: په حقيقت کې څوك چې له تا سره بيعت کوي، يوازې له الله سره بيعت کوي او د لاسونو له پاسه يې د الله (د قدرت) لاس دی؛ نو چاچې ژمنه ماته کړه؛ نو ايله يې پر خپل زيان ماته کړې ده او څوك چې له الله سره کړې ژمنه پوره کړي؛ نو ژر به ستره بدله ورکړي.

نو که د همېش لپاره الهي رضا د دوی پر برخه وه او په رښتيا هم په بيعت کوونکيو کې داسې څوک نه پيدا کېده، چې خپل بيعت مات کړي؛ نو د آيت دې برخې (فمن نکث فانما ينکث على نفسه) مانا نه درلوده.[2]

او په اصحابو کې داسې وګړي هم شته، چې رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم تر خپل وفات روسته د هغوی د ارتداد او په قيامت کې يې د هلاکت خبر ورکړی دی.

د صحيح بخاري دا روايت چې له سهل بن سعد (رض) يې روايت کړی، واورئ چې وايي:

«له نبي مکرم نه مې واورېدل چې و يې ويل: «زه به تر تاسې ړومبی د (کوثر) ډنډ پر غاړه يم؛ نو چې څوک راغی او له ډنډ څخه يې وڅښل، بيخي به تږی نشي او په حقيقت کې ځينې

[1] (فتح\ ١٠)

[2] (لطف الله صافي، «مع الخطيب فى خطوطه العريضه» ١٢٠ مخ)

اقوام به راته راشي، چې پېژنم یې او هغوی مې هم پېژني، بیا زما او د هغوی ترمنځ بېلتون راځي.»

راوي وايي: او همدغسې مې واورېدل، چې آنحضرت وویل: «زه وايم: هغوی له ما څخه دي، نو راته ویل کېږي: ته نه پوهېږي، چې ستا تر وفات روسته یې څرنګه په دین کې ادلون بدلون راووړ؛ نو وایم: هغه دې د خدای له لورنې لرې وي، چې تر ما روسته، په دین کې ادلون بدلون وکړي او مرتد شي.[1]»

همدغسې روایت دی، چې رسول اکرم خپلو اصحابو ته د خبرو په ترڅ کې وویل:

«زه تر تاسې وړاندې «ډنډ» ته ورځم. داسې سړي راته راولي، چې زه دوی ته ځان ورنږدې کوم؛ خو له ما شړل کېږي؛ نو وایم: پالونکیه! اصحاب مې دي! ماته وایي: نه پوهېږې، چې تر تا روسته یې څه کاني وکړې.[2]»

دا دواړه احادیث، چې تر رسول اکرم روسته، ارتداد او په احکامو کې ادلون بدلون ته اشاره کوي او د ټینګار لپاره رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم، له یهودو او نصاراوو سره ورته کړي، چې د الله کلام یې اړولی و.

ابوسعید خدري (رض) روایتوي، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «په حقیقت کې تاسې لوېشت په لوېشت او ذراع ذراع[3] د مخکنیو په دودونو پسې ځئ، ان که هغوی د سرموښکې په سوړه ننوځي، تاسې هم ورپسې ورننوځئ. و مو ویل: ای رسول الله! یهود او نصارا؟ و یې ویل: نو څوک؟»[4]

په اصحابو کې داسې هم دي چې الله یې په اړه ویلي:

[وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ[5]]

---

[1] (صحیح بخاري (۹\ ۱۴۴ مخ) کتاب الفتن، باب واتقوا فتنة...)

[2] (صحیح بخاري (۹\ ۱۴۴ مخ) کتاب الفتن)

[3] [= د منځنې ګوتې له سره تر څنګله پورې اوږدوالي ته وايي]

[4] (صحیح بخاري (۹\ ۳۱۵ مخ) کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة)

[5] (جمعه\ ۱۱)

ژباړه: او چې پېرپلور یا څه بوختیا وویني (؛ نو) وردرومي او تا ولاړ پرېږدي، ووایه: ((څه چې له الله سره دي، تر بوختیا او پېرپلور غوره دي او الله ډېر غوره روزي ورکوونکی دی.))

دا آیت د هغو اصحابو په اړه نازل شوی، چې له شام نه یې د کاروان د راتلو غږ واورېد؛ نو حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم یې د جمعې د ورځې د خطبې ویلو پر حال پرېښود او یوازې دولس تنه ورسره پاتې شول.

حضرت جابر بن عبدالله وایي: «د جمعې پر ورځ مدینې ته کاروان راغی، له پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم سره وو، ټول خلک خپاره واره شول؛ یوازې دولس تنه پاتې شول؛ بیا خدای دا آیت نازل کړ: (وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا...[1])

د احد په غزا کې، په همدې شمېر اصحاب له پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم سره پاتې شول او نور وتښتېدل، چې نبي مکرم له ناچارۍ د دوی د هغې ورځې له کړو وړو کرکه او برائت اعلان کړی.

برا بن عازب (رض) وایي: «حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم عبدالله بن جبیر (رض) د پلي ځواک بولندوی کړ. هغوی وتښتېدل، پېغمبر د تېښتې پر مهال راوبلل؛ خو دولس تنه ورسره پاتې شول.[2]»

حضرت انس (رض) وایي: «تره مې انس بن نضر د بدر په غزا کې نه و؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ته یې وویل: له مشرکینو سره ستا په لومړۍ جګړه کې نه وم او که خدای یو ځل په جګړه کې د ګډون برخه راکړي، پر خدای و به ښیم، چې څرنګه وجنګېږم؛ نو د احد غزا راورسېده او مسلمانان وتښتېدل. نبي مکرم وویل: خدایه! د دوی له چلنه، له تا ښښنه غواړم او د آنحضرت مراد خپل اصحاب وو.[3]»

او د حنین پر ورځ د اصحابو تېښته خورا ناوړه او بدرنګه وه؛ ځکه په زرګونو تنه وو او خدای پر دې کار پړه کړل:

---

[1] (صحیح بخاري (۱۶ | ۳۹۱ مخ) کتاب التفسیر)

[2] (صحیح بخاري (۱۶ | ۶۷مخ) کتاب التفسیر، باب قوله تعالی والرسول یدعوکم فی اخرام.)

[3] (صحیح بخاري (۱۴ | ۴۷مخ) کتاب الجهاد، باب قوله: من المؤمنین رجال... )

]لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ[1]]

ژباړه: په رښتيا الله په ډېرو ځايونو کې ستاسې مرسته کړې ده (او پر دښمن بريالي شوئ) او د حنين (د غزا) پر ورځ (يې هم مرسته درسره وکړه،) چې د خپل شمېر پر زياتوالي غره وئ؛ خو څه گټه يې در و نه رسوله او پراخه ځمکه دربانديې تنگه شوه؛ بيا مو (دښمن ته) شا ورواړوله او وتښتېدئ.

[ثُمَّ أَنَزلَ اللّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَذَلِكَ جَزَاء الْكَافِرِينَ[2]]

ژباړه: بيا الله خپله ډاډېنه پر خپل استازي او پر مؤمنانو نازله کړه او هغه لښکر يې راکوز کړ، چې تاسې نه ليده او کافران يې پر رنځ او کړاو اخته کړل او همدا د کافرانو سزا ده!

او په اصحابو کې داسې کسان هم شته، چې الله يې په اړه ويلي:

[مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ[3]]

ژباړه: له هېڅ پېغمبر سره دا نه ښايي، چې (له دښمنانو د سر د بيې اخستو لپاره) بنديان ونيسي، چې د دښمن په وينه ځمکه خړوب کړي (او د جگړې پر سيمه پوره لاسبرى شي) تاسې دنيوي ناپايښته گټه غواړئ (او ښه مو ايسي، چې ډېر بنديان ونيسئ او د فديې په اخستو يې ازاد کړئ) او الله (روستۍ موخه او د) اخرت (پاينې چارې درته) غواړي او الله ناماتی حکيم دی.

---

[1] (توبه\ ٢٥)

[2] (توبه\ ٢٦)

[3] (انفال\ ٦٧)

[ لَّوْلاَ كِتَابٌ مِّنَ اللّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ[1] ]
ژباړه: که د الله مخکېنی قانون او حکم نه وای (چې بې خبرونې یو امت ته هم سزا نه ورکوي؛) نو د بې وخته بندیانو نیولو په پار هرومرو ستر عذاب دررسېده.

دا آیت د هغې ډلې اصحابو په حق کې نازل شوی، چې د بدر غزا په مقدماتي سلامشوره کې یې نظر دا و، چې د ابوسفیان کاروان ونیسي؛ حضرت حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم د بدر تر غزا وړاندې مشوره ورسره کړې وه، چې جګړې ته خپله لېوالتیا او چمتو کېدنه و ارزوي؛ خو دوی پر جګړې د کاروان نیول ړومبي وګڼل.
په اصحابو کې داسې هم وو، چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم ټپسوري کړل؛ ځکه ټبرپالي یې کوله او په ماغزو کې یې جاهلي هوسونه تېرېدل. د جابر بن عبدالله (رض) روایت ته ځیر شئ:
«په یوې غزا کې وو، چې یو تن مهاجر یو انصاري په لغته وواهه. انصاري وویل: انصارو! چېرې یاست؟ مهاجر وویل: مهاجرینو! چېرې یاست؟ چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم دا غږونه واورېدل؛ و یې ویل: دوی ولې جاهلي شخړې راژوندی کوي؟»[2]
او نژدې وو، چې همدې جاهلي شخړې، د اوس او خزرج (انصاري ټبرونه) چورلټ د جګړې پر درشل ودروي.
حضرت عایشه (رض) وایي: «... سعدبن معاذ پاڅېد او و یې ویل: رسول الله! پر خدای قسم، د هغه له چاره ببنه درنه غواړم، که هغه د اوس له ټبره و؛ نو ببشکه چې سر مې ورپرې کاوه او که زموږ له خزرجي رونو و؛ نو چې امر دې کړی وای؛ نو ستا امر مو عملي کاوه.

---

[1] (انفال\ ٦٨)
[2] (صحیح بخاري (٦\ ٣٩٧ مخ) کتاب التفسیر، باب قوله: سواء علیهم... )

سعد بن عباده چې د خزرج مشر و او تر دې له مخه یو نېکچاری سړی و؛ خو عصبیت پکې راوپارېد، راپاڅېد او و یې ویل: پر خدای قسم، دروغ دې وویل: پر خدای هرومرو یې وژنم، ته منافق یې چې د منافقینو خبرې کوې.
او دغسې، د اوس او خزرج ټبرونه غوسه شول او نژدې وو، چې سره ونښلي او په همدې حال کې، حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم پر ممبر و، له ممبره راکوز شو او د غلي کېدو امر یې ورته وکړ، غلي شول او پخپله هم چوپ شو.»[1]
او په اصحابو کې داسې هم ول، چې علي یې دښمن ګاڼه، هماغه چې دښمني یې د نفاق نښه وه (لکه چې مخکې وویل شول) له ابوبریده (رض) روایت شوي:
«پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم، علي په خالد پسې ولېږه، چې خمس واخلي او علي مې دښمن ګاڼه... نو خالد ته مې وویل: دا نه ګورې؟! او چې پېغمبر ته ورغلم، دا خبره مې ورته وکړه. آنحضرت وویل: بریده! علي دښمن ګڼې؟ و مې ویل: هو! حضرت وویل: دښمن یې مه ګڼه؛ ځکه برخه یې تر خمس ډېره ده.[2]»
په اصحابو کې داسې کسان هم وو، چې د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم امرونه یې نالیدي ګڼلي او مخالفت یې ورسره کړی، د بېلګې په ډول: اسامة بن زید (رض) یې ورته بولندوی کړ؛ خو دوی دا امر و نه مانه.
ابن عمر (رض) وایي: «پېغمبر یو لښکر چمتو کړ او اسامه بن زید (رض) یې ورته بولندوی کړ. ځینو یې قومنداني و نه منله. نبي مکرم وویل: که قومنداني یې و نه منئ، تر دې له مخه، تاسې د هغه د پلار له قومندانی سره هم مخالفت کړی و.»[3]
په اصحابو کې داسې کسان هم وو، چې نبي مکرم له خپلې غونډې وشړل، هغه مهال چې امر یې وکړ؛ کاغذ او دوات راوړئ، چې دوی ته روستۍ وصیت ولیکي؛ خو دوی اعتراض وکړ او د امر د منلو پر ځای یې آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم پر «پړتو» ویلو تورن کړ.

[1] (صحیح بخاري (۳|۵۰۸ مخ) کتاب الشهادات)
[2] (صحیح بخاري (۵|۴۴۷ مخ) کتاب المغازي)
[3] (صحیح بخاري (۵|۵۷ مخ) کتاب فضائل الصحابه، باب: مناقب زید)

سعيد بن جبير له ابن عباس څخه روايتوي: «د پنجشنبې ورځ! او د پنجشنبې ورځ څه ورځ وه! بيا يې دومره وژړل، چې اوښکو يې ورلاندې کاڼې لامده کړل. و مې ويل: ابن عباس! د پنجشنبې پر ورځ څه و؟ و يې ويل: د پيغمبر ناروغي سخته شوه، و يې ويل: يو کاغذ راوړئ، چې يو مطلب درته وکښم چې روسته ترې بيخي بې لارې نشئ. ناڅاپه يې په شخړو لاس پورې کړ. سره له دې چې نه ښايي د هيڅ پيغمبر په مخکې شخړه وشي او و يې ويل: څه پرې شوي؟ پرتې وايي؟!! و يې پوښتئ. حضرت رسول صلى الله عليه و آله وسلم وويل: ما پريږدئ، پاڅئ (ځئ) چې څه ته مې رابولئ (پر څه مې چې تورنوئ) تر هغه مې حالت غوره دی.[1]»

او په اصحابو کې داسې کسان هم وو، چې د حضرت رسول صلى الله عليه و آله وسلم تر وفات روسته يې د رياست لپاره شخړې وکړې، ان ځينو وړانديز وکړ، چې دوه تنه اميران دې وي، يو د مهاجرينو او بل د انصارو او دا جوتوي، که څه، مسلمان شوي وو؛ خو له هوسونو يې لاس نه و اخستی. چې تفصيل يې د سقيفې په پيښه کې تېر شو. همدغسې په اصحابو کې، ابوهريره او حضرت معاويه هم دي، چې ددې کتاب يوه برخه ورته ځانگړې شوې ده، چې په ځير يې ولولئ.

ښايي اهل سنت، د صحابي مقام څکه دومره لوړوي، چې له نبي کريم سره يې ليده کاته او ناسته پاسته شوې ده؛ خو دا امتياز د پيغمبر تر مېرمنو اوچت نه دی؛ حال دا، الله د پيغمبر صلى الله عليه و آله وسلم د مېرمنو په اړه وايي:

[يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً[2]]

ژباړه: د پيغمبر مېرمنو! له تاسې چې څوک څرگند ناروا کار وکړي (؛ نو) عذاب يې دوه گرايه کيږي او دا (کار) الله ته اسان دی.

او همدغسې د رسول اکرم پر خلاف د عايشې (رض) او حفصې (رض) د نقشې په اړه وايي:

---

[1] (صحيح بخاري (۴/ ۲۶۰ مخ) کتاب الخمس، باب اخراج اليهود من...)

[2] (احزاب/ ۳۰)

[إِن تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا وَإِن تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلَاهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمَلَائِكَةُ بَعْدَ ذَلِكَ ظَهِيرٌ[1]]
ژباړه: كه تاسې دواړه (د پيغمبر مېرمنې له خپل كاره) توبه وباسئ (؛ نو درته غوره ده؛ ځكه په دې چار كې) ستاسې د دواړو زړونه (د الله او د هغه د استازي له اطاعته) كاږه شوي دي او كه دواړه د پيغمبر پر خلاف لاس يو كړئ (زيان وررسولای نشئ)؛ ځكه الله يې په خپله مرستندوی دی او تر ده روسته يې جبرائيل، د مؤمنانو صالح او پرښتې ملاتړې دي.

[ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَةَ نُوحٍ وَامْرَأَةَ لُوطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدَّاخِلِينَ[2]]
ژباړه: الله كافرانو ته د نوح مېرمن او د لوط مېرمن بېلگه كړې (چې) دواړه زموږ د دوو نېكو بندگانو تر (پالنې او نكاح) لاندې وې؛ خو دواړو خيانت ورسره وكړ؛ نو له دې دواړو (پيغمبرانو) سره د دوی اړيكو د الله (د عذاب په مقابل كې) څه گټه ور و نه رسوله او ورته وويل شول: ((له نورو ننووتوونكيو (دوزخيانو) سره اور ته ورننوځئ.))

په هر حال، مطلب دا دی، چې له رسول اكرم سره ډېر ملگرتوب او ناسته پاسته، د ملگرو د مقام او د ايمان د درجې د اوچتېدو نه لاملېږي؛ ځكه پر هغو رواياتو سربېره، چې د نبي كريم د اصحابو په اړه وويل شو، له مېرمنو يې دې ته ورته او ان تر دې سخت روايتونه شوي دي.
ابن عباس وايي: «يو كال تېر شو او په دې لټه كې وم، چې په يوه فرصت كې له حضرت عمر څخه د هغو دوو ښځو په اړه وپوښتم، چې د پيغمبر صلى الله عليه و آله وسلم پر ضد يې نقشه كاږلې وه؛ خو ترې ډارېدم، تر دې چې يو ورځ يو كور ته ننوت او تر سترې ونې لاندې كېناست او چې له دې ځايه راووت و مې پوښتل: راته يې وويل: عايشه او حفصه. بيا يې وويل: موږ په جاهليت كې ښځو ته پر څه ارزښت قايل نه وو؛ خو چې اسلام راغی او خدای ښځې يادې كړې، و مو لېدل، چې دوی پر موږ حق لري، بې له دې چې پخپلو چارو

[1] (تحريم\٤)
[2] (تحريم \ ١٠)

کې ترې ګټه واخلو. په هر حال یوه ورځ مې له خپلې ښځې سره څه خبرې اترې شوې او هغې راته تونده خبره وکړه، ورته مې وویل: اصل و نسب دې ښه نه دی! و یې ویل: دا خبره ما ته کوې، حال دا، لور دې، رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ځورووي! بیا په حفصې پسې ولاړم او ورته مې وویل: باخبر، هسې نه، د خدای او رسول یې سرغړونه وکړې.[1]»

له حضرت عایشې (رض) روایت دی:

«رسول اکرم له زینب (د جحش لور) سره شات خوړل او څه وخت ورسره پاتېده. ما او حفصې یوه دسیسه جوړه کړه، چې هره یوه ژر ورغلو، ورته وایو: تا «مغافیر[2]» خوړلي او له خولې دې د هغه بوي راخیژي. آنحضرت وویل: نه، داسې نه ده! بلکې له زینب سره مې شات خوړلي او بیا به یې نه خورم، قسم درکوم چې بل څوک خبر نه کړې.[3]»

همدغسې له عایشې (رض) نقل شوي:

«د پیغمبر مېرمنې دوې ډلې وې: یوه ډله د عایشې، حفصې، صفیې او سوده او بله د ام سلمې او نورو[4]»

بیا هم له عایشې بي بي روایت دی چې:

زما له هغو ښځو سره کینه وه، چې ځان یې (بې مهره او بې شرطه) پیغمبر ته ورباښه او ویل مې: ایا دا کېدای شي یوه ښځه ځان (بې مهره او شرطه) وبښي؟، چې د احزاب ۵۱ آیت نازل شو:

[تُرْجِي مَن تَشَاء مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَن تَشَاء وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ذَلِكَ أَدْنَى أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَا آتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا[5]]

---

[1] (صحیح بخاري (۷| ۴۸۹ مخ) کتاب اللباس)

[2] [د یوې ځانګړې ونې خوندور کنډ دی، چې ډېر لږ پیدا کېږی]

[3] (صحیح بخاري (۶| ۴۰۴ مخ) کتاب التفسیر، باب ایهاالنبی لم تحرم)

[4] (صحیح بخاري (۳| ۴۵۴ مخ) کتاب الهبه)

[5] (احزاب| ۵۱)

ژباړه: که ته غواړې د هرې يوې مېرمنې (نوبت) ځنډولی شې او چې هره يوه غواړې؛ نو له ځان سره يې ساتلی شې او که له دوی له هرې يوې، چې تا ځان گوښه کړی (؛ نو که) بېرته يې راوغواړې؛ نو پر تا څه گناه نشته (په دې غوراوي او واک کې) ډېر نژدی دی، چې سترگې يې يخې (او خوشحاله) شي او خپه نشي او ستا په ورکړه ټولې خوشحاله شي او څه چې ستاسې په زړونو کې دي، الله پرې پوهېږي او الله پوه زغمناك دی.
همدغسې عايشه (رض) وايي:
«د خديجې خور (هاله د خويلد لور) حضرت رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم ته د راتلو اجازه وغوښته، آنحضرت ته خديجه ورياده شوه؛ نو و يې ويل: خدايه! هاله د خديجې خور! په دې خبره مې کينه راوپارېده او و مې ويل: څه شوي، چې د قريشو يوه بوډۍ يادوې؟ هغه خو وخته مړه شوې او له منځه تللې او خدای درته تر هغه غوره ښځه درکړې ده؟!»[1]
حضرت عايشې ځکه له خديجې سره کينه کوله، چې خديجې د پېغمبر پر ټولو ښځو غوراوی درلود؛ هغه وه، چې د پېغمبر بلنه يې هغه وخت تصديق او ومنله، چې ټولو دروغجن گاڼه، ايمان يې پرې راووړ او پر هغه مهال، چې ټولو خلکو ترې ځان لرې کاوه؛ نو خديجې بې بې خپله ټوله شتمني، د نبي مکرم په لار کې ولگوله او پېغمبر يوازې له همدې اولادونه درلودل؛ نو ښايي همدا چار وي، چې عايشه يې سخته کينې ته اړ کوله، په تېره چې د خديجې تر وفات روسته هم نبي مکرم يادوله او د هغې ځانگړنې يې يادولې او دا د عايشې د خبرې پر خلاف څيزونه دي، چې په تېر روايت کې يې وويل: خدای تر هغې غوره ښځه درکړې ده!!
له حضرت عايشې روايت شوی:
«د خديجې هومره مې د پېغمبر له بلې ښځې سره دومره کينه نه وه، حال دا، ليدلې مې نه وه؛ خو پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ډېره يادوله، ان د خديجې د خيرات لپاره يې پسه

[1] (صحيح بخاري (۵\۱۰۵ مخ) کتاب: مناقب الانصار، باب: تزويج النبي خديجه و فضلها)

حلالاوه او پر خلکو یې ویشه او کله مې ورته ویل: ایا په دنیا کې دې تر خدیجې بله مېرمن نشته؟! خو ویل یې، چې خدیجه داسې وه او هاغسې وه او له هغې مې اولاد و.[1]»

یو دلیل چې ځینې پرې استناد کوي او د ګرسره اصحابو پر عدالت ګروهنېږي، ادعا کوي، چې نبي مکرم ویلي دي: «اصحاب مې ستوري دي؛ نو چې په هر یوه پسې ولاړ شئ، لار مو موندلې ده»

او په بل روایت کې: «... د هر یوه خبرې ته غوږ کېدئ...»

سره له دې چې اهلسنت په ډاګه د ټولو اصحابو پر عصمت باور نه لري؛ خو څوک چې دا روایت مني او سم یې بولي، هرومرو د ټولو اصحابو عصمت مني؛ ځکه نبي مکرم بې جهته، بې له څه قید و شرطه، د چا دلاروۍ امر نه کوي- لکه چې په دې ادعا یې روایت کې راغلي دي- حال دا د ګناه احتمال پکې شته.

او په دې شان، تېر روایات چې د ډېرو اصحابو عدالت تر پوښتنې لاندې نیسي او ټکنی کوي، غالبا د هغو اصحابو په اړه دي، چې ډېره موده، له آنحضرت سره وو، هغوی خو لا څه کوې چې مازې پیغمبر یې لیدلی او په اصحابو کې شمېرل کېږي؟!

په رښتیا دا مبالغې د څه لپاره دي؟

او ایا دا شونې ده، څوک له نبي کریم سره په یوې شېبې کتنې، د عدالت او تقوا خاوند شي؛ حال دا، عدالت او تقول خو له آنحضرت څخه په نږه لاروۍ او اطاعت او ښه نیت تر لاسه کېږي؟!

او ښايي دا ټکر او تناقض چې له انساني عقل او بشري فطرت سره اړخ نه لګوي، هله رابربنډ شي، چې د اهلسنتو ځینې عالمان؛ لکه ابن تیمیه، حضرت معاویه بن ابوسفیان پر زاهد خلیفه حضرت عمر بن عبدالعزیز (رحمة الله علیه) غوره بولي؛ دا ځکه چې حضرت معاویه ، له اصحابو ځنې و او دا بل تابعي دی؛ حال دا، عمر بن عبدالعزیز (رح) په تقوا او عدالت مشهور و او اېوټه حضرت معاویه په فتنه ګرۍ او اړو دوړ مشهور و او له امیرالمؤمنین علي سره یې د صفین جګړه رادبره کړه.

---

[1] (صحیح بخاري (۵\۱۰۴ مخ) کتاب: مناقب الانصار، باب: تزویج النبي خدیجه)

پر دې سربیره، عمر بن عبدالعزیز (رح) په اهلسنتو کې د راشدینو خلفاوو په پینځم خلیفه کې شمېرل کېږي او دا پخپله د حضرت معاویه پر نه رشد او دې ستر دلیل دی او په پایله کې، د هغه چا د نه ودې دلیل دی، چې یوازېنی امتیاز یې له پېغمبر سره صحبت کول دي.
ښه ده، وپوښتم:
د کوم یوه درجه لوړه ده؟ چا چې پر حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم ایمان راووړی او په لس گونو اسماني معجزې یې ترې لیدلي یا هغه چې بې د معجزو له لیدو یې اسلام منلی دی؟!
حقیقت دا دی، چې زه د اصحابو د تقوا د درجې په اړه ددې هومره مبالغې لپاره کوم تفسیر نه موم. د ټولو اصحابو عدالت یې ددې لپاره خور کړی، چې د هغه چا پر مخ ور وتړي، چې پر ځینو اصحابو نیوکې کوي، چې خلافت یې له شرعي واقعي حقوالو او خاوندانو لرې کړ او په دې توگه، اهلسنت ټول هغه ټینگ دلایل ردوي، چې د مسلمانانو د مشرتوب او امامت لپاره د اهلبیتو حقیت او غوراوی جوتوي[1]؛ یوازې په دې دلیل چې گرسره اصحاب عادل دي او هر چار یې سم بولي که څه، گناه وي!!
هغوی چې دغسې باطله مفکوره دود کړه، دلیل یې دا و، چې د اهل بیتو د امامانو شتون یې خپلې واکمنۍ ته گواښ گڼه؛ ځکه د اهل بیتو پر حق پوره پوهېدل؛ نو یوازېنی چاره یې دا وه، چې پر هغو آیاتونو او احادیثو د نابا‌وری او مغالطې پردې واچوي، چې د اهلبیتو مقام او منزلت څرگندوي او په عین حال کې د ټولو اصحابو مقام تر دې بریده لوړ کړي، چې اهلبیتو ته امتیاز پاتې نشي؛ هماغه امتیاز چې وړتیا یې ورکړه، چې د خدای له لوري غوره کړای شي او د رسول اکرم تر مړینې روسته، د خدای له لوري، د اسلامي امت مشرتوب ورپرېښودل شي؛ نو ځکه، هغه روایت یې چې په پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم پورې تړلی او ټولو اصحابو ته په ستوریو قایل دي؛ اصطلاحات او منځپانگه یې د رسول اکرم له دې سم حدیثه اخستې، چې وایي:

---

[1] [په دې باب د اردني حقوقپوه احمد یعقوب حسین د عدالت صحابه کتاب ولولئ چې په پښتو هم د حقوقي کره کتنې په نامه ژباړل شوی دی (ژباړن)]

«ستوري له ډوبېدو څخه د ځمکوالو ژغورندوی دي او زما اهل بیت، له اړپېچ څخه د امت ژغورندويان دي؛ نو که د عربو کوم ټبر مې له اهل بیت سره مخالفت وکړي؛ نو د ابلیس ګوند به وي.[1]»

د ګرسره اصحابو پر عدالت د ګروهې يو منفي اغېز دا دی، چې د اسرائيلياتو او مسيحيانو په څېر خرافي او بې بنسټه روايات په حديثي ټولګو کې ننوتي، چې اسلام ته د پېغور لپاره کاروليږي. دا روايتونه يې ځکه منلي، چې اصحابو روايت کړي او اصحاب هم ټول عادلين دي، که څه، د ګناه احتمال پکې دی؛ لکه چې په تېرو رواياتو کې مو ستاسې له نظره تېر کړل.

---

[1] (حاکم، مستدرک الصحيحين (۳/ ۱۴۹ مخ)

## درېيمه برخه
## شيعه او قرآنکريم

شيعه په دې باور دي:

«قرآن، الهي وحې ده، چې له متعال خدای پر عزتمن پېغمبر يې نازل شوی او د ټولو ځيزونو ځرګندنه پکې شوې او د نبي مکرم تلپاتې معجزه ده، چې بشريت ورسره- د بلاغت، فصاحت، منځپانګې، حقايق او لوړو معارفو له پلوه- له مقابلې او سيالۍ بېوسه دی او بيخي اړونه، بدلون او تبديل پکې نشي کېدای او دا کوم قرآن، چې راسره دی او تل يې لولو، هماغه قرآن دی، چې پر نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم نازل شوی او چې څوک بې له دې کومه ادعا لري؛ نو دروغجن يا غلط شوی يا تېروتی دی او بېشکه چې دوی ټولو سمه لار نه ده موندلې؛ ځکه قرآن، د خدای کلام دی، چې باطل ورته له وړاندې روسته او منځه نشي ورننوتلای.»[1]

د حديثپوهانو شيخ، محمد بن علي قمي په «صدوق» مشهور په دې اړه وايي:

«د قرآن په اړه زموږ ګروهه، چې د متعال خدای له لوري پر پېغمبر يې حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم نازل شوی، همدا د خلکو په لاس کې شته قرآن دی، چې تر دې ډېر هيڅ نشته.... او چې څوک پر موږ تور لګوي او وايي، چې موږ تر دې پر ډېر ګروهن يو؛ نو دروغجن دی.[2]»

او د مطلب د ټينګار لپاره، د اخوان المسلمين د يوه عالم استاد «بهنساوي» خبرو ته غوږ ږدو، چې وايي:

«... انثا عشري جعفري شيعه د هغه پر کفر ګروهن دي، چې قرآن يې اړولی (کمو زيات کړی يې دی)؛ هماغه قرآن چې اسلامي امت، له صدرِ اسلامه تر ننه پرې يوه خوله دی او اجماع يې پرې کړې ده... او دا کوم قرآن چې له اهلسنتو سره دی، هماغه قرآن دی، چې د شيعه وو په جوماتونو او کورونو کې دی.»

---

[1] (اروابناد آية الله مظفر- عقائد الاماميه، ۴۱ مخ، درېيم چاپ)

[2] (اعتقادات الصدوق، ۹۳ مخ)

او د خپلو خبرو په ترخ کې، د شیعه وو د معاصر وخت د یوه مجتهد اروانباد ابوالقاسم خویي په خبره یې استناد کړی، چې وايي:

«په مسلمانانو کې مشهوره ده، چې په قرآن کې هیڅ ډول اړونه نشته او دا کوم قرآن چې له موږ سره دی، هماغه قرآن دی، چې پر پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم بې له زیاتی کمي نازل شوی دی.[1]»

شیخ محمد غزالي، د عقیدې او اسلامي شریعت په دفاع کې کتاب لیکلی وايي:

«له یوه مې واورېدل، چې په یوه عام مجلس کې یې ویل: شیعه یو بل قرآن لري، چې زموږ له قرآن سره توپیر لري او کمی زیاتی پکې شوی دی. ورته مې وویل: دا قرآن چېرې دی؟ چې د تاریخ په اوږدو کې یو بنیادم او پیري هم دا نسخه تر لاسه نه کړه؟ ولې تورونه لګوئ؟... او ولې پر خلکو او وحې دروغ تړئ؟![2]»

د شیعه وو په حدیثي کتابونو کې، چې د قرآن د اړونې په باب کوم دروغ روایتونه راغلي او ځینې پرې استناد کوي، غندل او رد شوي دي، چې دوه ګرایه یې د اهل سنتو په صحاحو کې هم راغلي دي.

بخاري په خپل سند له حضرت عایشې (رض) روایتوي:

«رسول اکرم یو تن ولید، چې د شپې قرآن لولي؛ نو و یې ویل: خدای دې پرې ولورېږي، پلانی او پلانی آیت یې راياد کړ، چې له پلاني او پلاني سورته مې غورځولی و» !!![3]

ښکاره ده، چې هیڅوک په هیڅ ډول دا روایت نشي تصدیقولای؛ ځکه دا روایت خو ښيي، چې د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ټول قرآن یاد نه و یا دا چې ځینې آیاتونه یې هېر کړي وو!!

بخاري له زید ثابت (رض) څخه روایتوي، چې د توبې سورت یوه برخه یوازې له خزیمه انصاري سره وه، چې د قرآن د راټولو پر وخت ترې واخستل شوه!

---

[1] (السنة المفترى علیها، ٦٠ مخ)

[2] (استاد محمد غزالي، دفاع عن العقیده والشریعة)

[3] (صحیح بخاري (٥٠٨١٦ مخ) کتاب: فضل القرآن، باب: نسیان القرآن)

«د قرآن جلا جلا نسخې مو چې استنسا خولې، د توبې سورت يو آيت ورک شوی و، چې اورېده مې، رسول الله لوسته او دا آيت يوازې له خزيمه انصاري سره و، چې رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم يې شهادت د دوو مؤمنانو له شهادت سره برابر کړی و» او آيت دا دی: «رجال صدقوا ما عاهدو الله عليه...[1]»

او په بل روايت کې له زيد بن ثابت (رض) څخه راغلي:

«... قرآن مې له پوټکيو، ليکنو او د سړيو له سينو او حافظو څخه راټولاوه، تر دې چې د توبې سورت دوه آيتونه مې و نه موندل، چې يوازې له خزيمه انصاري سره وو او له بل چا سره په هيڅ ځای کې نه موندل کېدل.»[2]

دا روايت چېرې او په تواتر د قرآن نقل چېرې؟!!

د اهلسنتو په صحاحو او مسانيدو کې، په ډاګه د قرآن د اړونې په باب روايت راغلی، چې يو يې هم ابن عباس له حضرت عمر بن خطاب څخه روايتوي:

«عمر بن خطاب مې وليد، چې زموږ لوري ته را روان دی. سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل ته مې وويل: هغه به نن شپه داسې خبرې وکړي، له کومې ورځې چې خليفه شوی تر اوسه يې نه دي کړي؛ خو زما خبره يې و نه منله او و يې ويل: څه خبرې به وکړي، چې تر اوسه يې نه دي کړي؟ په هر حال، عمر راغی او پر ممبر کېناست، موذنان چوپ شول، ودرېد او د خدای تر ستاينې روسته يې وويل: امام بعد! همدا اوس به درته يوه خبره وکړم، چې فعلا ويل يې الهي تقدير شوی، نه پوهېږم ښايي اجل مې رارسېدلی وي؛ نو چا چې ښه واورېده او پوه شو، چېرې چې ولاړ شي، خلکو ته دې يې ووايي او چې څوک وډار شو، چې ښه پرې پوهېدای نشي؛ نو اجازه ورته نه ورکوم، چې دروغ راپورې وتړي. په حقيقت کې متعال خدای، محمد صلی الله عليه و آله وسلم په حق راولېږه او کتاب يې پرې نازل کړ او له نزل شويو آيتونو يو هم د «رجم آيت» و، چې و مو لوست او پرې پوه شو. رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم رجم وکړ او تر هغه روسته، موږ هم رجم وکړ او ډارېږم که څه موده تېره شي، يو څوک ووايي: پر خدای قسم د خدای په کتاب کې خو د رجم آيت نه وينم او په

[1] (صحيح بخاري (٦١ ٢٩١ مخ) کتاب التفسير، باب فمنهم من قضی نحبه)

[2] (صحيح بخاري (٦١ ١٦٢ مخ) کتاب التفسير، باب لقد جاءكم رسول...)

دې ډول یوه الهي فریضه پرېښودل شي، چې خدای نازله کړې او د خدای په کتاب کې رجم حق دی، پر هر نارینه او ښځه چې واده یې کړی وي او زنا وکړي او څرګند شهادت پرې ورکړای شي یا لوری دوه ځانې شي او یا منښته وکړي.»[1]

او بل روایت: حضرت عمر بن خطاب غوښتل (چې د خپلې ادعا له مخې) له قلمه لوېدلی آیت ورزیات کړي؛ خو د خلکو له خبرو ډارېده!

«حضرت عمر وویل: که د خلکو ډار نه وای، چې ویل یې عمر د خدای په کتاب کې زیاتونه وکړه؛ نو په رښتیا، په خپل لاس مې د رجم آیت لیکه او منښته مې کوله او د څلورو تنو شاهدانو روسته یې امر کاوه، چې زنا کار رجم کړئ.»[2]

او د ادعا آیت یې دا دی: «والشیخ والشیخة اذا زنیا فارجموهما البتة؛ یعنې که بوډا او بوډۍ زنا وکړه؛ نو هرومرو یې رجم کړئ.[3]»

او ابن ماجه هم په خپل صحیح کې نقل کړی دی.

په هر حال، موږ ګروهن یو، کوم قرآن چې راسره دی، بیخي او بې له څه شکه، هیڅ ډول کمی زیاتی پکې نه دی راغلی؛ لکه چې خلیفه شکمن شوی او شونې ده، ددې شک علت یې واقعاً د رجم آیت وي؛ خو د کتابیانو په تورات کې نه په قرآن کریم کې.

د ابن عمر دې روایت ته پام وکړئ چې وایي:

«نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته یې یهودي نر او ښځه راوستل، چې زنا یې کړې وه. آنحضرت یهود وپوښتل: له دوی سره څه کوئ؟ و یې ویل: مخونه یې توروو او وربځې یې ورخریيو. و یې ویل: که رښتیا وایئ؛ نو تورات راوړئ او و یې لولئ. تورات یې راووړ او پر هغه یې ولوست، چې پرې راضي وو، د لوستو په ترڅ کې یو ځای ته ورسېد، چې سملاسي یې پرې لاس کېښود. آنحضرت وویل: لاس پورته کړه. چې لاس یې پورته کړ؛ نو د رجم آیت یې پکې تر سترګو شو. بیا هغو دواړو وویل: یا محمده! سمه ده، دوی باید رجم کړو؛

---

[1] (صحیح بخاري (۸| ۵۳۹ مخ) کتاب المحاربین من اهل الکفر، باب رحم الحبلي)

[2] (صحیح بخاري (۹| ۲۱۲ مخ) کتاب الاحکام، باب الشهادة تکون عندالحاکم)

[3] (ابن ماجه، سنن (۲| ۸۵۴ مخ) ۲۵۵۳ ګڼه حدیث)

خو پخپلو کې مو پټه کړې وه او تاسې ته مو نه ول ويلي؛ نو امر يې وکړ، چې دواړه رجم کړي.[1]»

حضرت عمر بن خطاب د قرآن او تورات ترمنځ تېروتی و، چې په تورات کې د رجم راغلی آيت يې په تېرو کې په قرآن کې ګاڼه، چې ددې تېروتنې احتمال ابوبکر جزائری په خپل کتاب «هذه نصيحتی الی کل شيعی» را اخلي:

«... او څنګه د منسوخ او اړول شويو کتابونو لوستل جايز دي، حال دا، رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم عمر بن خطابويني، چې په لاس کې يې د تورات کاغذ دی او په تونده ورته وايي چې:

ايا تاسې ته مې د خدای سپېڅلی او څرګند کتاب نه دی راوړی؟ نو رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په دې نه راضي کېږي، چې عمر، ان د تورات کاغذ ته وګوري.[2]»

او له خليفه حضرت عمر څخه هم نقل شوي چې و يې ويل: «او همدغسې د خدای په کتاب کې مو ولوستل: له پلرونو مو مخ مه اړوئ، چې له دوی لرې کېدنه کفر دی...!!»[3]

او دا آيت هم د تېر آيت په څېر بيخي د خدای په کتاب کې نشته.

له عبدالله بن مسعود (رض) څخه روايت شوي، چې پر «والليل اذا يغشی» آيت يې د «الذکر والانثی» دوه کلمې ورزياتې کړي، علقمه وايي:

«والليل اذا يغشی» عبدالله څرنګه لوسته؟ ما ورته ولوستل: «والليل اذا يغشی. والنهار اذا تجلی. الذکر والانثی»

و يې ويل: پر خدای قسم، حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم دا آيت راته دغسې زده کړ! له ژبې يې زما ژبې ته لېږدول شوی دی»!![4]

---

[1] (صحيح بخاري (۹\ ۴۷۶ مخ) کتاب التوحيد باب ما يجوز من تفسير التوارة)

[2] (ابوبکر جزائری، «هذه نصيحتی الی کل شيعی»)

[3] (صحيح بخاري (۸\ ۵۴۰ مخ) کتاب المحاربين من اهل الکفر، باب رجم الحبلي)

[4] (صحيح بخاري (۵\ ۶۳ مخ) کتاب فضائل الصحابه)

او په دې شان، بخاري ددغسې رواياتو په رااخستو موږ له نوي تناقض او دوه ګونتوب سره مخوي؛ ځکه روایتوي چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم مسلمانانو ته امر وکړ، چې قرآن له عبدالله بن مسعود څخه زده کړئ.

له ابن عمر (رض) څخه روایت دی چې:

«رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د قرآن لوست، له څلورو تنو زده کړئ او لومړی یې د عبدالله بن مسعود نوم واخست.»

یا یې وویل: «قرآن له څلورو تنو زده کړئ: عبدالله بن مسعود، سالم د ابوحذیفه مولا، ابی بن کعب او معاذ بن جبل.[1]»

نو رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم راته څنګه امر کوي، چې د قرآن لوست له هغه زده کړو، چې یاد یې نه دی؟

ددې پوښتنې ځواب بخاري او لارویانو ته یې پرېږدو، چې د ټولو رواياتو پر سموالي يې ګروهن دي.

او په صحیح مسلم کې هم دغسې څیزونه کتل کېږي.

حضرت عایشه بي بي ویلي: «څه چې له قرآنه نازل شوي، لس وارې رضاع ښيي او د خدای رسول له دنیا ولاړ؛ خو په قرآن کې دا آیتونه لوستل کېدل[2]»

او د عایشې بي بي دا ادعا، د هغه پر ضد څرګند رد دی، چې دغسې روایات منسوخ بولي، که نه د عایشې ادعا څه مانا لري، چې دا آیتونه لوستل کېده، حال دا چې پېغمبر له دنیا تللی و؟! ابوالاسود یې له پلاره روایتوي:

«ابوموسی اشعري، د بصرې درې سوه قاریان راولېږل او یوه خبره یې ورته دا وه: چې اوږدوالی او شدت یې د توبې سورت هومره او زما په ذهن کې یوازې دا آیت یې پاتې دی: «لو کان لابن آدم و ادیان من مال لابتغی و ادیا ثالثا، ولا یملا جوف ابن آدم الا التراب.[3]»

---

[1] (صحیح بخاري (۵\۶۳ مخ) کتاب فضائل الصحابه)

[2] (صحیح مسلم (۲\۱۰۷۵ مخ) ۲۴ ګڼه حدیث، چاپ: داراحیاء التراث العربي، کتاب الرضاع)

[3] (صحیح مسلم (۲\۷۲۶مخ) کتاب الزکاة، ۱۱۹ ګڼه حدیث، چاپ: داراحیاء التراث العربي، باب لو ان لا بن آدم و ادیین لابتغی ثالثاً)

«که بنیادم دوه ناوه شتمني ولري؛ نو پر درېیمی پسې ځي او یوازې خاوره یې خېټه ډکوي!!»
او د سیوطي په اتقان کې روایتونه دي، چې قرآن ۱۱۲ سورتونه درلودل، یا دا چې د «حقد» او «خلع» دوه سورتونه پرې ورزیاتوي!![1]
او په دې اړه ډېر مطالب شته؛ خو په همدومره یې بسیا کوو.
اوس نو د دغسې روایاتو په شتون کې، یو شیعه ادعا کړای شي، چې د اهل سنتو قرآن نیمګړی یا زیات دی؛ ځکه د دوی په خپلو حدیثي ټولګو کې دغسې روایات موندل کېږي؟! بیخي ادعا نشي کړای؛ ځکه د اهلسنتو په صحاحو په تېره صحیح بخاري او صحیح مسلم کې یې چې د قرآن د اړونې په باب روایتونه راغلي؛ نو دلته دوه لاملونه دي:
یا دا چې دا روایتونه سم دي؛ خو راویان یې تېروتي؛ لکه د رجم په آیت کې تېروتنه.
یا دا چې دا روایت لکه د ځینو نورو روایاتو په څېر سم نه دي؛ نو لازم دي، چې د بخاري او مسلم په کتابونو کې له سره کتنه وشي.
نو د شیعه وو په حدیثي ټولګو کې، چې د قرآن د اړونې په اړه کمزوري روایات راغلي او ځینې پرې استناد کوي، چې ګوندې شیعه د قرآن پر اړونې ګروهن دي؛ نو اوس دا پوښتنه پخپله اهلسنتو ته اوړي، چې د دوی په کتابونو کې خو تر هغوی ډېر دا روایات راغلي؛ نو څنګه نورو ته ګوته نیسي!
په رښتیا، د چا کور چې د ښېښې وي، نه ښایي، د نورو په ډبرو وولي.

[1] (جلال الدین سیوطي، الاتقان فی علوم القرآن، ۶۵ مخ، چاپ: المکتبة الثقافیه، بیروت)

## څلورمه برخه

## د نبوي سنتو په اړه د سني او شیعه و نظر

ځینې ناپوهان پر شیعه وو تور لګوي، چې دوی د حضرت رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له سنتو منکر دي، چې دا یوه چټي خبره ده، موږ په دې اړه د اهل سنتو د یو شمېر پوهانو نظریات رااخلو:

شیخ محمد ابوزهره (رح) په خپل کتاب «الامام الصادق» کې لیکي:

«دوی ته متواتر او پر له پسې سنت حجت دی او په حجیت کې یې بیخي څه مخالفت نشته او تواتر د دوی په نزد د پرېکنده علم لام دی... او بېشکه د پېغمبر د سنتو له حجیته انکار (چې په تواتر رارسېدلي وي) کفر دی؛ ځکه انکار یې، له رسالته نته ده؛ خو د امامانو د خبرو له حجیته منکرېدل، کفر نه ګڼل کېږي؛ بلکې فسق دی.[1]»

شیخ محمد غزالي (رح) په خپل کتاب «دفاع عن العقیده و الشریعة ضد مطاعن المستشرقین» کې لیکي:

«... او له دې فتنه مارو او دروغ پالو څنې، هغوی دي، چې ډنډورې خوروي، چې شیعه د «علي» لارویان او سنیان د «محمد» لارویان دي او شیعه «علي» رسالت ته خورا وړ بولي او ګروهن دي، چې رسالت، په تېرو کې بل ته ورکړای شوی دی!! چې دا ښکاره چټیات او ناوړه دروغ دي»

زیاتوي:

«شیعه د محمد پر رسالت ګروهن دي او د علي شرافت په دې کې بولي، چې همدې پېغمبر ته ور منسوب او د هغه پر سنتو یې منګولې لګولي او هغوی د نورو مسلمانانو په څېر، په پیل او پای کې، د دې صادق امین (پېغمبر) د ستریا په څېر، بل انسان نه ویني... نو څنګه پر دوی دا دروغ تړل کېږي؟![2]»

---

[1] (ابوزهره، الامام صادق)

[2] (غزالي، دفاع عن العقیده والشریعة)

سني او شیعه د نبوي سپېڅلیو سنتو او ترې د لاروی په اړه یو خوله دي؛ خو تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم روسته کهول ته د سنتو د لېږد په څرنګوالي کې اړپېچ لري، چې د ډاډمنېدو پر څرنګوالي پوه شي.
د اهل سنتو په نزد بسیا ده، چې د حدیث سند له یوه (ثقه او) ډاډمنه بل ډاډمن ته ولېږل شي، چې یوه صحابي ته ورسي؛ ځکه د ګرسره اصحابو پر عدالت ګروهن دي او دوی ته صحیح بخاري او صحیح مسلم، هومره سم کتابونه دي، چې بیخي شک پکې نشته او د سموالي او ډاډ له اړخ یې د قرآن کریم درجې ته رسولي، که نه؛ څه مانا لري، چې اهلسنت ددې دواړو کتابونو د منځپانګو په منلو، ځان ژمن بولي او ددې خبرې د پخلي لپاره، د شیخ ابوعمرو بن صلاح هغه خبره رااخلو، چې پر صحیح مسلم، د نووي د شرح په سریزه کې یې کړې ده:
«مسلم رحمة الله چې ددې کتاب (صحیح مسلم) پر سموالي حکم کړی؛ بیخي سم دی، همدغسې بخاري هم د خپل کتاب پر سموالي قضاوت کړی؛ ځکه امت منلی دی؛ خو هغه یې چې مخالف وي (دا دریځ یې پر اجماع او یو خوله توب) څه اغېز نه لري.»
زیاتوي:
«... امت یې په اجماع کې له تېروتنې معصوم او پاکلمنی دی.[1]»
خو د شیعه وو شرط دا دی، چې لومړی د حدیث سند د اهل بیتو یو امام ته ورسي او د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دې خبره استناد کوي، چې: «زه په تاسې کې دوه ګرانبیه څیزونه پرېږدم، که منګولې پرې ولګوئ، بیخي به بې لارې نشئ؛ د الله کتاب او ځوځات مې اهل بیت.[2]»
او خدای تعالی وایي:
[إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً[3]]
ژباړه: الله خو یوازې دا غواړي چې له تاسې کوروالو؛ ((اهل البیت = نبوي کورنۍ)) ناپاکي لرې کړي او پوره مو سوتره کړي.

---

[1] (صحیح مسلم، دنووي له شرح سره (۱۱\۱۴ مخ) دارالشعب چاپ)
[2] (صحیح ترمذي (۱۱۳\۲۰۱ مخ) باب: مناقب اهل بیت النبی (ص)، چاپ: دارالکتاب العربي)
[3] (احزاب\۳۳)

بل شرط يې دا دی، چې روايت د خدای کتاب ته ور وړاندې کوي، ورپسې په متن او سند [منځپانگه او لاسوند] کې ځيرنه کوي، بيا يې له هغو رواياتو سره پرتله کوي، چې پرېکنده متواتر رارسېدلي وي او په پای کې روايت، د عقل په کچه هم تلي او هر روايت چې له دې شرطونو يو و نه لري؛ نو په اخستو کې يې تامل (او درنگ) کاروي.

شيعه د احاديثو څلور آريزې ټولگي لري:

- کافي
- من لا يحضره الفقيه
- استبصار
- تهذيب.

او په دې کتابونو کې راغلي روايات بايد وڅېړل شي؛ ځکه سم او ناسم پکې شته او شيعه ددې کتابونو د ټولو روايتونو پر سموالي گروهن نه دي؛ ځکه د شيعه وو په نزد، يو کتاب هم له قرآن سره (د سموالي او اعتبار له پلوه) برابريدای نشي؛ لکه چې شيخين؛ بخاري او مسلم هم د خپلو صحيحينو په اړه دغسې باور لري.

سيد محمد حسين جلالي په «مصادر الحديث عند الشيعه الاماميه» کتاب کې د «کافي» د احاديثو د سموالي او ناسموالي په اړه ليکي:

«په کافي کې گرسره (۱٦۱۲۰) احاديثه دي، چې ۹۴۸۵ يې کمزوري، ۱۱۴ يې حسن، ۱۱۸ يې ډاډمن او موثق، ۳۰۲ يې قوي او ۵۷۰۲ يې سم دي.»

او دا څرگندونه راښيي، چې شيعه عالمان څرنگه د کافي زرگونو احاديث کمزوري کوي؛ نو دا هغوی ته يو سم او منطقي ځواب دی، چې وايي، کافي شيعه وو ته داسې دی؛ لکه چې اهل سنتو ته صحيح بخاري دی.

ځينې وايي:

چې د کافي نوم «صحيح کافي»! دی چې دا هم ډانگ پېيلي دروغ دي او پر دغسې تور، د کافي پر ځينو کمزوري روايتونو، گرسره شيعه غندي او وايي، چې دا يې صحيح کتاب دی؛ نو ټول شيعيان يې مني!!

## د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم د پاکلمنتوب په اړه د دواړو ډلو نظر

ځيني تورونه لګوي چې شيعه خپل امامان تر حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم لوړ ګڼي؛ خو ما ته د خپلو څېړنو په پايله کې جوته شوه، چې تر اهل سنتو، شيعه خورا رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته په درناوي قايل دي.

شيعه نبوي سنت سپېڅلي ګڼي او د هغه پر کفر ګروهن دي، چې د نبي مکرم له کوم حکمه منکر شي او حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم لومړنی او روستنی غوره بولي او پر دولس ګونو امامانو ځکه منګولې لګوي، چې د پېغمبر سنتو ته د رسېدو لپاره خورا ډاډمنه لار ده او د رسول اکرم د عصمت او پاکلمنتوب په اړه هره نيوکه غندي او په اند يې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم تر نبوت وړاندې روسته په ټولو دنيوي او اخروي چارو کې له تېروتنې معصوم دی.

اهل سنت هم رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم لومړنی او روستنی غوره بولي؛ خو يوازې يې په ديني چارو کې معصوم بولي، چې په اند يې، دا چارې د رسالت په تبليغولو پورې اړوند دي او بې له دې، په نورو مسايلو کې د بل انسان په څېر، کله تېر وځي او کله پر سمه وي.

مخکې تر دې چې دا خبر وغندو، د نبي مکرم د عصمت په اړه د اهلسنتو ځينې وېناوې رااخلو:

حضرت عايشه (رض) وايي:

«... چې په حرا غار کې و، ناڅاپه يې حق وموند او پرښته پرې راکوزه شوه او ورته يې وويل: ولوله. نبي مکرم وويل: لوستلای نشم او په ډېر زحمت او درې ځل ويلو يې «اقرا» ولوسته او روسته کور ته راستون شو، بدن يې لړزېده او خديجې ته راغی او و يې ويل: څه راباندې واچوئ، څه راباندې واچوئ؛ نو پټ يې کړ او ډار ترې ولاړ. بيا يې وويل: خديجې! پر ما څه شوي؟! خديجې له ځان سره «ورقه بن نوفل بن اسد بن عبدالعزی بن قصی» ته بوت، چې د خديجې د تره زوی و، چې په جاهليت کې نصراني و او په عربي يې کتاب کښه، چې تر وسې يې انجيل هم له مخې وليکه؛ خو پر هغه ورځ بوډا او ړوند شوی و. خديجې ورته وويل: د تره زويه! راشه د وراره دې واوره! ورته وويل: وراره! څه وينې؟ پېغمبر ورته خپل

ليدلي وويل: ورقه وويل: دا هماغه الهي ناموس دی، چې پر موسی نازل شو! کاش زه هغه مهال يو ژوندی ښاخ وای، چې قوم دې تا له ښاره شړي. پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ورته وويل: دوی مې شړي؟!!![1]»

ايا معقوله ده، چې رسول اکرم نه پوهېده، چې پرې نازل شوي، نبوت دی او ورقه بن نوفل نصراني پوه کړ، چې څه شوي دي؟!!

حضرت عايشه (رض)، په خپل روايت کې يو بل عجيبه مطلب هم روايتوي، چې په لوستو يې بدن لړزېږي:

«... څه موده روسته ورقه ومړ او پر پيغمبر څه وخت وحې رانه غله، چې ډېر خپه شو او خپګان دومره ډېر شو، چې څو ځل يې هوډ وکړ، ځان د لوړ غره له څوکې راګوزار کړي او چې د غره څوکې ته به ته، چې ځان راګوزار کړي؛ نو جبرئيل ورته ځان ښووه او ورته يې ويل: يا محمد! ته په حق د خدای استازی يې او په دې خبره يې خپګان راکمېده، ډاډمنېده او راستنېده. او لنډه دا، څه وخت به تېر شو او وحې به پرې نه راتله، پر هماغه چار يې لاس پورې کاوه، غره ته به تله او جبرئيل ورته ځان ښووه او هغه ورته خبره کوله.[2]»

ايا شونې ده، څوک ومني، چې د رسول اکرم ټول قرآن زده نه و؛ نو وګوره، چې بخاري له حضرت عايشې دغسې روايتوي:

«رسول اکرم په جومات کې د يوه سړي له خولې قرآن واورېد؛ نو و يې ويل: خدای دې وبښي له پلاني او پلاني سورت مې، چې پلانی او پلانی آيت غورځولی و، راياد يې کړ.[3]»

او دا ادعا يې چې روا ده، پيغمبر تېروځي، له جابر بن عبدلله (رض) روايتوي:

«د خندق په غزا کې، عمر بن خطاب، پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ته ورغی او و يې ويل: يا رسول الله! پر خدای قسم، غوښتل مې لمونځ وکړم؛ خو و مې ليدل چې لمر لوېدلی دی، هومره چې روژه تي پرې روژه ماتولای شي. رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم

[1] (صحيح بخاري (۹۱ ۹۲ مخ) کتاب التعبير، باب اول مابدی به رسول الله)

[2] (صحيح بخاري (۹۱ ۹۳ مخ) کتاب التعبير)

[3] (صحيح بخاري (۸۱ ۲۳۴ مخ) کتاب الدعوات، باب: قوله تعالی و صل عليهم)

وویل: پر خدای قسم، له یاده مې وتلي، چې لمونځ وکړم! بیا پیغمبر کوز ناو ته ولاړ او زه هم ورسره وم؛ نو پر اودس یې د مازیګر لمونځ وکړ، چې لمر لوېدلی و او بیا یې د ماښام لمونځ وکړ.[1]»

ابوهریره (رض) وایي:

«لمانځه ته لیکې جوړې شوې؛ پیغمبر راغی او چې پر خپل ځای ودرېد؛ نو یاد یې شو، چې جنب دی، راته یې وویل: پر خپل ځای وسئ، ستون شو، غسل یې وکړ اوبه یې له سره څڅېدې، چې راستون شو او تکبیر یې ووایه او لمونځ یې راکړ.[2]»

همدغسې ابوهریره (رض) وایي:

«پیغمبر د ماسپښین دوه رکعته لمونځ راکړ، بیا یې سلام وګرځاوه او جومات ته د مخامخ لرګي پر لوري ورغی او لاس یې پرې کېښود او پر هغه ورځ، په خلکو کې ابوبکر او عمر هم وو؛ خو وډار شول، چې خبره ورسره وکړي. خلک په بیړه ووتل او نبي مکرم ته یې وویل: قصر (دوه رکعتي) لمونځ دې وکړ؟ او په خلکو کې یو تن و، چې نبي مکرم ورته د «ذوالیدین» غږ کاوه، نو یې وویل: رسول الله! هېر دې شول یا قصر دې کړ؟ آنحضرت وویل: نه مې هېر شوي او نه مې قصر کړی. وویل شول: هو! رسول الله، هېر مو شول. آنحضرت وویل: «ذوالیدین رښتیا وایي.[3]»

او چار تر دې رسي، چې د اهل سنتو د ادعا له مخې، یو یهودي پر پیغمبر کوډې کوي؛ نو پیغمبر خیال کوي، چې یو چار یې کړی، حال دا، کړی یې نه دی او له عایشې بي بي پوښتي، چې وحې پرې راغلې که نه؟ ایا خپلو مېرمنو ته یې سر ورښکاره کړی که نه؟!!!

عایشه (رض) وایي:

«یوه موده تېره شوه، چې پیغمبر ګڼله خپلو مېرمنو ته تللی، حال دا، نه و تللی! یوه ورځ یې راته وویل: عایشې! خدای په یوه چار کې زما نظر وغوښت، خپل اند مې ورته وواېه: دوه تنه راغلل؛ یو مې پښو ته او بل مې سر ته کېناست، پښو ته ناست مې هغه بل ته وویل: پر دې

---

[1] (صحیح بخاري (۱۱ ۳۴۹ مخ) کتاب الاذان، باب قول الرجل للنبی ما صلّینا)

[2] (صحیح بخاري (۱۱ ۱۶۸ مخ) کتاب الغسل، باب اذا ذکر فی المسجد ان جنب)

[3] (صحیح بخاري (۸ ۵۷ مخ) کتاب الاداب، باب ما یجوز من ذکر الناس)

سړي څه شوي؟ و يې ويل: کوډې پرې شوي! و يې ويل: چا پرې کړي؟ و يې ويل: لبيد بن عاصم»!!![1]

او هم عايشه (رض) وايي:

«پر رسول الله يو ډول کوډې شوې وې، چې انګېرله يې، يو چار يې کړی؛ حال دا، کړی يې نه و، ان يوه ورځ راسره و، خدای يې وباله او خدای ځواب ورکړ، بيا يې وويل: عايشې پام دې وي، چې خدای په يو چار کې زما نظر وغوښت او خپل نظر مې ورته ووايه»؟!![2]

شيخ محمد عبده (رح) دا ټول روايات ردوي او غندي؛ ځکه د خدای تعالی له دې وينا سره په ټکر کې دي:

[أَوْ يُلْقَى إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا وَقَالَ الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلاَّ رَجُلاً مَّسْحُوراً[3]]

ژباړه: يا يې کومه خزانه په واک کې نه پرېوځي يا يې يو بڼ درلودای، چې (بې غمه) يې ترې خوړای؟!)) او مشرکانو وويل: ((تاسې خو ايله په يوه کوډو وهلي سړي پسې روان ياست!))

(والعياذ بالله) د نبي مکرم د شهوتپالنې په اړه امام بخاري په خپل صحيح کې له ابوهشام څخه روايتوي:

«چې رسول الله ناروغ و، پر خپلو ښځو ګرځېده او ويل يې: سبا چېرې يم؟ سبا د چا په کور کې يم؟ او دا ټول له دې لامله و، چې ډېر لېوال و، چې د عايشې کور وي! عايشه وايي: چې پوه شو سبا زما کور دی؛ نو آرام شو.» !!![4]

حضرت عايشه بي بي وايي:

«چې رسول الله به سفر ته تله؛ نو پخپلو ښځو کې يې پچه اچوله، چې د چا پچه به راووته، له ځان سره يې بوته او هرې مېرمن ته يې ورځ او شپه وېشلې وه او يو ځل سودې د زمعې لور،

---

[1] (صحيح بخاري (۸\ ۵۷ مخ) کتاب الاداب، باب ان الله يامر بالعدل والاحسان)

[2] (صحيح بخاري (۷\ ۴۴۴ مخ) کتاب الطب، باب السحر)

[3] (فرقان\ ۸)

[4] (صحيح بخاري (۵\ ۷۷ مخ) کتاب فضائل الصحابه، باب فضل عايشه)

خپله ورځ و شپه عايشې ته وروبښله او په دې توګه يې غوښتل چې د پېغمبر رضايت تر لاسه کړي.[1]»
له دې دوو رواياتو څرګندېږي، چې حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم هره ورځ او شپه يې خپلې يوې مېرمنې ته ځانګړې کوله؛ بل روايت له دې مطلب سره په ټکر کې دی.
حضرت انس بن مالک (رض) وايي:
«رسول اکرم به د شواروز په يوه ساعت کې يولسو تنو مېرمنو ته ورته، راوي وايي: انس ته مې وويل: دومره وس يې درلود؟ و يې ويل: پخپلو کې به مو ويل، چې د دېرشو تنو زور ورکړای شوی دی»!!
[عَبَسَ وَتَوَلَّى. أَن جَاءهُ الْأَعْمَى. وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى. أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرَى[2]]
ژباړه: تريو ټنډی شو او مخ يې واړاوه، (له دې لامله) چې هغه ړوند ورغی او ته څه خبر يې؟ ښايي وده ومومي [، پاك شي او د تقوا لار خپله کړي]، يا پند واخلي؛ او پند ورګټور شي.

همدغسې اهل سنت وايي چې پورتني آيتونه د پېغمبر د پړې او تېسورۍ لپاره نازل شوي؛ ځکه هغه مهال چې ړوند عبدالله بن مکتوم ورغی؛ نو تريو ټندی شو او مخ يې ترې واړو او د اهلسنتو د رواياتو له مخې لامل يې دا و، چې رسول الله له عتبة بن ربيعه، ابوجهل، عباس بن عبدالمطلب، ابی او امية بن خلف سره پر خبرو بوخت و، چې دين ته يې راوبولي او اسلام راوړو ته يې هيلمن و، پر دې وخت ابن مکتوم (رض) له پېغمبر وغوښتل، چې څه خدای ورښوولي، ده ته يې هم ورزده کړي او يو سورت ورته ولولي او دا چې خبره يې وربرې کړې وه؛ نو نبي مکرم خپه او تريو ټندی شو او په خپل زړه کې يې وويل: اوس دا شخصيتونه انګېري، چې لارويان يې ړانده او مريان دي؛ نو ځکه يې تر مخ واړو او ورسره پر خبرو اترو شو!!

---

[1] (صحيح بخاري (۳\ ۴۶۲ مخ) کتاب الهبه، بابا هبة المرأة لغير زوجها)
[2] (عبس\ ۱-۴)

شیعه بیخي دا مطلب نه مني او وایي: دا آیت د یوه اموي سړي په اړه نازل شوی، چې له هغې ړوند یې مخ واړو او نه پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم.
سید محمد حسین طباطبایي (رح) په خپل المیزان تفسیر (۲۰۳\۲۰ مخ) کې وایي:
«دا آیات څه ښکاره توب نه لري، چې مطلب یې خپله حضرت رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وي؛ بلکې یو خبر دی، چې مخبر عنه یې څرګند نه دی، که څه، په ډاګه ده، چې مطلب بې له پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم څخه یو بل تن دی؛ ځکه تنده تریوول او غوسه کېدل د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له ځانګړنو څنې نه دي او آنحضرت ان خپلو دښمنانو ته هم تنده نه تریووله، دا خو له څه چې له مؤمنانو سره یې داسې چلن کړی وای.
او همدغسې د آیت په دوام کې چې د مقابل لوري په اړه خبرې کوي، چې له شتمنو سره کېني او له نشمنو مخ اړوي؛ چې دا چلن خو له نبوي خوی سره بیخي اړخ نه لګوي... ځکه خدای د «عبس» تر سورت له مخه په «وانک لعلی خلق عظیم» آیت ستایلی؛ نو دا څنګه کېدای شي، چې د بعثت په پیل کې خدای د خپل استازي خوی ستر وستایي او په دې اړه مطلقه خبره وکړي؛ بیا چې له شتمنو سره ښه چلي، که څه، کافر و او نشمنو سر بد چلېږي؛ که څه، مؤمنان او هدایت شوي وي!!!
په هر حال له تېرو او ددې په څېر روایاتو یې څرګندېږي، چې اهلسنت، بې له دیني او تبلیغي چارو، د نبي مکرم پر نه عصمت ګروهن دي؛ خو خدای تعالی په مطلق ډول او بې له کوم قید و شرطه امر کوي، چې د پیغمبر لاروي یې وکړئ.
[وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى[1]]
ژباړه: او نه د ځاني غوښتنو له مخې غږېږي
[إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى[2]]
ژباړه: (بلکې) خبرې یې یوازې وحې ده، چې ورته رالېږل کېږي.

---

[1] (نجم\۳)
[2] (نجم\۴)

[وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا[1]]
ژباړه: هغه ته پیاوړي ځواکمن ورښوولي دي؛

دا آیتونه د نبي مکرم مطلق عصمت راښيي او که په پېغمبر کې د خطا او تېروتنې احتمال وي؛ نو ځرگنده ده، چې خدای د تېر او خطا امر راته کړی؛ خو خدای ته پناه وړو، چې دغسې خبرې وکړو.
دغسې روایات چې د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم عصمت ټکنی کوي، د دورغجنو او اړوونکیو چار دی، چې پر اسلام ملنډې ووهي او شونې ده، نور دلایل هم وي او له ځانه ددې روایاتو جوړونه، ښايي د اصحابو هغه چلن ته یوه مخونه وي، چې د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم په روستۍ ناروغۍ کې يې ورسره وکړه؛ چې نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم ترې وغوښتل، چې قلم او کاغذ راولئ، چې یو څه درته وکښم، چې بیخي بې لارې نشئ او هغوی په ځواب کې ورته وویل، چې پېغمبر پرتې (او هذیان) وایي؛ بیا خو څه تعجب نه دی، چې ساختگي روایات جوړ کړي، چې دا وښیي، چې نبي مکرم چې تېروځي، یو صحابي یې تېروتنه سموي! لکه چې ددې احادیثو جوړوونکي یې ادعا کوي.
یو بل جعلي روایت د حجاب او ستر آیت دی، چې اهل سنت گروهن دي، چې د عمر بن خطاب په امر نزل شوی؛ ځکه هغه نبي مکرم ته امر وکړ، چې د مېرمنو ستر یې اړین دی!!
انس (رض) وایي: «عمر (رض) وویل: و مې ویل، رسول الله، بد او ښه درته راځي، ښه ده چې امر وکړې مېرمنې دې- د مؤمنانو میندې- حجاب واغوندي.
او په بل روایت کې، حضرت عمر (رض)، پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ته ویل: مېرمنو ته دې حجاب واغونده!
راوي وایي: هغه دا چار و نه کړ؛ نو خدای د حجاب آیت راولېږه»!!![2]

[1] (حشر|۷)
[2] (صحیح بخاري (۶|۲۹۶ مخ) کتاب التفسیر او (۸| ۱۷۰ مخ) کتاب الاستئذان)

همدغسې اهلسنت وايي، چې پر منافقينو د جنازې د لمانځه د نه کولو آيت، د حضرت عمر د چلن په تاييد کې نازل شو؛ ځکه حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم ټينګار درلود، چې د «ابن ابی» منافق د جنازې لمونځ وکړ؛ حال دا، د حضرت عمر خوښه نه وه.
له عبدالله بن عمره (رض) روايتوي:
«چې عبدالله بن ابی ومړ، زوی يې نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته ورغی او و يې ويل: رسول الله! کميس دې راکړه، چې ورته يې کفن کړم، د جنازې لمونځ يې وکړه او ښښنه ورته وغواړه. نبي مکرم خپل کميس ورکړ او و يې ويل: چې کار دې پوره شو، خبر مې کړه او همداسې يې وکړل، پيغمبر ورغی، چې د جنازې لمونځ يې وکړي، ناڅاپه عمر راښکود او ورته يې وويل: ايا خدای منع کړی نه يې چې پر منافق به لمونځ نه وې؟! بيا يې وويل: «استغفر لهم و لا تستغفر لهم ان تستغفر لهم سبعين مرة فلن يغفر الله لهم» که ورته ښښنه وغواړې که و نه غواړې، که اويا ځل هم ورته ښښنه وغواړې، خدای يې بيخي نه ښښي.»
نو دا آيت نازل شو: «ولا تصل علی احد منهم مات ابداً ولا تقم علی قبره»
که يو يې ومري؛ بيخي پرې لمونځ مه کوه او پر قبر يې مه درېږه (او ښښنه ورته مه غواړه)؛ نو ځکه پيغمبر وربانديې لمونځ و نه کړ!![1]
او په بل روايت کې پخپله حضرت عمر (رض) روايتوي:
«... پر رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم مې تر هغه جرائت روسته تعجب وکړ.[2]»
حقيقت دا دی، چې په هغه پېښه کې رسول اکرم اختيارمن شوی و، چې پر منافق لمونځ وکړي که يې استغفار وکړي. خدای تعالی وايي: «استغفرلهم او لا تستغفرلهم... »
او نبي مکرم د منافق د جنازې لمونځ کول ښه وګڼل؛ ځکه په هغه کې اسلام ته ستره ګټه او مصلحت و او د قوم (خزرج) يې د مينې لامل شو او په دې ډول زرو تنو يې ايمان راووړ او په واقع کې، پر هغه منافق د جنازې لمونځ کول، د نهې تر نزول مخکې و او د «استغفرلهم او

[1] (صحيح بخاري (۱۷ ۴۶۲ مخ) کتاب اللباس، باب ليس القميص)
[2] (صحيح بخاري (۱۲ ۲۵۲ مخ) کتاب الجنايز)

لا تستغفرلهم» آیت نهي نه راښیي، چې حضرت عمر ترې دغسې پوهېدلی وي او پر حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم نیوکه کوي.
پر منافقینو د جنازې د لمانځه د نهې د آیت نزول، پر عبدالله بن ابی د لمونځ کول بیخي د پېغمبر تېروتنه نه راښیي؛ ځکه که د آیت تر نزول روسته یې لمونځ کاوه، تېروتنه وه، نه مخکې ترې او له دې پېښې یوازې د حضرت عمر تېروتنه څرګندېږي؛ ځکه چې پر حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم یې ټینګه نیوکه وکړه او پخپله یې هم په دې چار اقرار کړی.
روایت شوي، چې حضرت عمر وویل: «په اسلام کې مې یوه تېروتنه کړې، چې کله مې هم هغسې نه وه کړې: پېغمبر غوښتل چې پر هغه منافق لمونځ وکړي... »[1]
او په څېر یې د بدر غزا له بندیانو د فدیې اخستل دي.
اهلسنت ګروهن دي، دا چې پېغمبر د بدر له بندیانو فدیه واخسته او و یې نه وژل د (انفال ٦٧ او ٦٨) آیت د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم د پړې او ټپسورۍ او د حضرت عمر د تایید لپاره نازل شو؛ ځکه عمر غوښتل چې ټول ووژل شي او آیت دا دی:
[مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ[2]]
ژباړه: له هېڅ پېغمبر سره دا نه ښایي، چې (له دښمنانو د سر د بیې اخستو لپاره) بندیان ونیسي، چې د دښمن په وینه ځمکه خړوب کړي (او د جګړې پر سیمه پوره لاسبری شي) تاسې دنیوي ناپایښته ګټه غواړئ (او ښه مو ایسي، چې ډېر بندیان ونیسئ او د فدیې په اخستو یې ازاد کړئ) او الله (روستۍ موخه او د) اخرت (پایني چارې درته) غواړي او الله ناماتی حکیم دی.
[لَّوْلاَ كِتَابٌ مِّنَ اللّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ[3]]

---

[1] (متقي هندي، کنزالعمال (۱۲\ ۴۱۹ مخ) ۴۳۹۳ ګڼه حدیث)
[2] (انفال\ ٦٧)
[3] (انفال\ ٦٨)

ژباړه: که د الله مخکېنی قانون او حکم نه وای (چې بې خبرونې یو امت ته هم سزا نه ورکوي؛) نو د بې وخته بندیانو نیولو په پار هرومرو ستر عذاب دررسېده.

او په دې شان، د خپل نظر د تایید لپاره یې یو بل روایت جوړ کړی او په نبي مکرم پورې یې تړلی دی؛ لکه چې دا گواښنه په آیت کې ده، له گواښنې مطلب، پیغمبر دی!! نو ځکه اهل سنت روایتوي چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم حضرت ابوبکر ته ژړل او ویل یې:
«که له عمر بن خطاب سره مې مخالفت کړی وای، نژدې وه، ستر عذاب راباندې راغلی وای او که دا عذاب راغلی وای؛ نو یوازې عمر ترې بچېده» یعنې بې له عمره، نور ټول تېروتي وو!!
حقیقت دا دی، چې دا آیت د بدر تر عزا مخکې نازل شوی او هغه اصحاب ټپسوروي، چې تر جگړې یې د ابوسفیان په مالونو پسې ورتگ غوره کړ او دا هغه مهال و، چې آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ورسره مشوره کړې وه، چې له مشرکینو سره د جگړې د چمتووالي کچه دې وارزوي او په آیت کې نهې، د بندیانو د نبي مکرم په مطلق نیوو کې نه ده؛ بلکې نهې هلته ده، چې مشرکین بې له جگړې ونیسي، چې ځینو اصحابو یې هغه وخت نظر ورکړی و، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له دوی سره مشوره کړې وه، چې یا کاروان ونیسئ او ورسره جگړه وکړئ او دا آیت هغه وگړي گواښي، چې له جگړې سرغړونه کوي؛ نو څرنگه یې منلای شو، چې د نبي مکرم په ټپسورۍ کې به نازل شوی وي حال دا، پیغمبر ورسره سخته جگړه وکړه او و یې وژل او په هماغه جگړه کې د قریشو اویا تنه مشران ووژل شول.

## حضرت ابوهریره او ډېر روایات یې

دا چې ابو هریره (رض) ډېر روایات نقل کړي، غواړم پر شخصیت یې یوه رڼا واچوم؛ ځکه د حدیثو رجالو اجماع کړې، چې حضرت ابوهریره د رسول اکرم تر ټولو اصحابو ډېر احادیث روایت کړي، حال دا، څه له پاسه یو کال او نهه میاشتې او د ځینو روایاتو له مخې، یوازې درې کاله یې له حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره تېر کړي، چې په دې شان، د اهل سنتو صحاحو ۵۳۷۴ احادیث ترې نقل کړي، چې یوازې بخاري ۴۴۶ احادیث ورنه نقل کړي دي.

خو پخپله ابوهریره (رض) وايي: «بې له عبدالله بن عمر (رض) څخه د پېغمبراکرم یو صحابي هم تر ما ډېر له پېغمبره روایات نه دي نقل کړي؛ ځکه هغه لیکل او نه کښل.[1]»

د ابن عمر (رض) ټول روایات ۷۲۲ دي، چې بخاري یوازې اوه احادیثه او مسلم ترې ۲۰ روایته پخپلو صحاحو کې راوړي دي. دا چې ابوهریره ډېر له نبي مکرم سره کښناسته، پخپله یې دلیل وايي:

«وايي چې ابوهریره ډېر حدیثونه روایتوي او وايي چې پر مهاجرینو او انصارو څه شوي، چې په څېر یې احادیث نه روایتوي؟ او په واقع کې زما مهاجر رونه په بازارونو کې پر چکچو بوخت وو او انصار رونه مې له خپلو شتمنیو سره پر کار بوخت وو او زه یو بېوزلی او نشمن سړی وم، له حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم نه جلا کېدم، چې خېټه مې مړه شي؛ نو چې هغوی نه وو، حاضرېدم او چې هېرول یې؛ نو زما یادېدل.[2]»

او وايي:

«خلک وايي، چې ابوهریره، ډېر احادیث نقولي او په واقع کې زه له حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم نه جلا کېدم، چې خېټه مې مړه شي او اړ نشم، چې خمبیره وخورم او نه دا چې وربښمین واغوندم یا مې پلانی او پلانی نوکري وکړي او له ډېرې لوږې مې په خېټې پورې ډبره تړله او که څوم مې لیده؛ نو آیت مې ورلوست،چې اغېزمن شي او څه راکړي،

[1] (صحیح بخاري (۱|۸۶ مخ) کتاب العلم)

[2] (صحیح بخاري (۳|۳۱۳ مخ) کتاب المزارعه، باب ما جاء فی الفرس)

چې موږ شم او جعفر بن ابوطالب بېوزليو ته خورا خير رسېده، چې موږ يې خپل کور ته بوتلو او چې هر څه يې درلودل راکول يې، چې ويې خورو او ماړه شوو، ان کله يې د غوړيو خيگ راوړه، چې تش شوی به و او موږ به (له ډېرې لوږې) څيرې کاوه او څټه به مو.[1]»
او ابوهريره د جعفر بن ابوطالب د خيراتي لاس په غبرگون کې وايي:
«تر رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم روسته، جعفر بن ابوطالب غوره تن دی، چې څپلی يې پر پښو کړي، سور شوی او په خپلو پښو نه دی تللی.»[2]
او وويني چې د ابوهريره کچې کومې دي، چې جعفر بن ابوطالب تر نورو اصحابو غوره بولي؟!
مسلم په خپل صحيح کې روايت کړی، چې عمر بن خطاب واورېدل، چې ابوهريره له پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم دا حديث روايتوي: «چې څوک لا اله- الا الله ووايي، جنت ته ځي» په کوړه يې وواهه.[3]
ابن عبدالبر خپله له ابوهريره نقلوي:
«داسې احاديث مې درته روايت کړي، که د عمر بن خطاب پر مهال مې روايتول؛ نو په کوړه يې وهلم.»[4]
حديثپوه فقيه رشيد رضا وايي:
«که عمر بن خطاب د ابوهريره تر مړينې روسته هم ژوندی وای؛ نو دا ټول احاديث نه رارسېدل.»[5]
مصطفی صادق الرافعي وايي:
«... او په دې توگه ابوهريره، لومړی حديثي راوي دی، چې په اسلام کې تورن شو.[6]»

---

[1] (صحيح بخاري (۵\۴۷ مخ) کتاب الفضايل الصحابه باب مناقب جعفر بن ابوطالب)
[2] (ترمذي، سنن (۱۳\۱۸۹ مخ) چاپ: دارالکتاب عربي + حاکم، مستدرک (۳\۲۰۹ مخ)
[3] (صحيح مسلم (۱\۲۰۱ مخ) ۵۲ گڼه حديث، باب: من شهد لا اله الا الله مستيقنا دخل الجنة)
[4] (شيخ محمد غزالي، فقه السيره، ۴۱ مخ، شپږم چاپ.)
[5] (المنار مجله، (۱۰\۸۵۱ مخ)
[6] (تاريخ آداب العرب (۱\۲۷۵ مخ)

د صفین په جګړه کې ابوهریره د حضرت معاویه خوا ونیوه، په ګټه یې ورته احادیث روایتول، په احادیثو یې د هغه ملاتړ کاوه؛ نو ډېرې پیسې یې ورکولې او چې کله به مروان بن حکم، له مدینې وته؛ نو ابوهریره یې ځایناستی کېده؛ نو ځکه یې ژوند ښه شو. له ایوب بن مجمد څخه روایت شوی:

«له ابوهریره سره وم، چې نرم رنګین کتان یې اغوستی و، له ځان سره یې په ناز او نخرو وویل: ابوهریره،څومره ښه! کتان دې اغوستی؟ همدا زه وم چې یوه ورځ د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم د ممبر او د عایشې د کور ترمنځه، بې هوښه شوی وم، څوک راتله او زما پر غاړه یې پښه ایښوده، په دې ګومان چې زه لېونی یم؛ خو څه لیونتوب راکې نه و، زه خو وږی وم.»[1]

او دا چې د امویانو لاروی شو؛ نو ناچار و، چې د نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم یو شمېر احادیث پټ کړي او و یې نه وایي؛ ځکه ویل یې ورته خطرناک و، په دې اړه پخپله وایي:

«له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مې د حدیثو دوه لوښې ترلاسه کړي؛ یو مې خور کړی او که بل خور کړم، مړی مې پرې کېږي.»[2]

دا خبره چېرې او دا بله خبره یې چېرې، چې وایي: «خلک وایي: ابوهریره ډېر احادیث وایي. که د قرآن مجید دا دوه آیتونه نه وای؛ نو بیخي مې احادیث نه روایتول[3] او بیا یې دا آیتونه ولوستل:

[إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَـئِكَ يَلعَنُهُمُ اللّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ. إِلاَّ الَّذِينَ تَابُواْ وَأَصْلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَـئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ[4]]

---

[1] (صحیح بخاري (۹| ۳۱۷ مخ) کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة)

[2] (صحیح بخاري (۱| ۸۹ مخ) کتاب العلم، باب حفظ العلم)

[3] (صحیح بخاري (۱| ۸۸ مخ) کتاب العلم)

[4] (بقره| ۱۵۹- ۱۶۰)

ژباړه: په حقیقت کې کوم خلك، چې زموږ نازل شوي څرګند دلایل او لارښوونې په داسې حال کې پټوي، چې په کتاب کې خلکو ته روښانه شوي؛ نو الله او ټول لعنت ګر پرې لعنت وايي. بې له هغو چې توبه ګار شول (او راوګرځېدل) او (خپلې بدې کړنې یې پر نېکو کړنو) سمې کړې او (پټ کړی حقیقت یې) راڅرګند کړ؛ نو د دوی توبه منم او زه خو ډېر لورین توبه منوونکی یم.

له دې څرګندو استدلالونو، د حضرت ابوهریره حقیقت او په احادیثو کې یې امانت راښکاره کېږي، چې زموږ د زمانې د درباري واعظینو په څېر دی او معلومېږي، چې شیعه یې ولې له روایاتو مخ اړوي او همدا دلایل بس دي، چې اهلسنت د حضرت ابوهریره د احادیثو په منلو کې له بریده اوښتي اغراق او مبالغه یې کړې او چې څوک یې احادیث ارزوي، مخه یې پرانستې ده.
ابن حنبل، ابوبکر حمیدي او ابوبکر صیرفي (رحمة الله علیهم) په «اختصار علوم الحدیث» کتاب کې وايي:
«د هغوی روایات بیخي نه منل کېږي، چې د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په احادیثو کې یې دروغ ویلي وي، که څه، تر خپلو دروغو روسته یې توبه ایستلې وي.[1]»
سمعاني وايي:
«چا چې په یوه روایت کې دروغ ویلي وي، واجب دي، چې روایات یې بې ارزښته وګڼل شي.[2]»

---

[1] (اختصار علوم الحدیث، ۱۱۱ مخ)
[2] (التقریب نووی، ۱۴ مخ)

**اوس د حضرت ابوهریره د روایاتو یوه برخه راوړاندې کوو، چې بخاري په خپل صحیح کې راوړې ده:**

حضرت موسی علیه السلام د ملک الموت سترګه ړنده کړې ده!!!

حضرت ابوهریره وایي:

«ملک الموت حضرت موسی علیه السلام ته راغی، سملاسي په سپېړه وواهه، چې له ناچارۍ خپل پالونکي ته ورستون شو او و یې ویل: داسې بنده ته دې ولېږلم، چې مرګ نه غواړي. خدای یې سترګه روغه کړه او و یې ویل: ورستون شه او ورته ووایه، خپل لاس دې پر یوې غوا کېده؛ نو هر وېښته ته به یې یو کال عمر ورکړم. موسی وویل: پالونکیه! روسته به څه کېږي؟ و یې ویل: مرګ! و یې ویل: نو همدا اوس (مرګ منم) او له خدایه یې وغوښتل چې د یوې ډبرې د ګوزارولو په اندازه یې سپېڅلې ځمکې ته نژدې کړه.[1]»

حضرت ابوهریره وایي:

«جهنم ته ویل کېږي: ایا ډک شوې؟ او هغه وایي: تر دې ډېر غواړم؛ نو خدای تعالی خپله پښه په جهنم کې ږدي او وایي: قط، قط. (یعنې بس دی!!![2])

حضرت ابوهریره وایي: رسول اکرم وویل:

زموږ پالونکی د هرې شپې په روستۍ درېیمه برخه کې د دنیا اسمان ته راکوزېږي او وایي: څوک مې بلي، چې دعا یې قبوله کړم؟ څوک دی، چې راڅخه وغواړي او ور یې کړم؟ څوک دی، چې بښنه راڅخه وغواړي او ویې بښم؟[3]»

او دا روایت د اهلسنتو له ګروهې سره اړخ نه لګوي، چې خدای پر عرش دی؛ ځکه د شپې په روستیو کې یې د دنیا اسمان ته راتګ (د ابوهریره د ادعا له مخې)؛ یعنې هلته یې په شواروز کې ۲۴ ساعته پاتېدل؛ ځکه د شپې روستۍ برخه د ځمکې پر مخ په بېلابېلو ځایونو

---

[1] (صحیح بخاري (۲\۲۳۶ مخ) کتاب الجنائز)

[2] (صحیح بخاري (۶\۳۵۳ مخ) کتاب التفسیر، باب قوله: وهل من مزید)

[3] (صحیح بخاري (۳\۱۳۶ مخ) کتاب التهجد)

کې دوام لري (ځکه ځمکه کروي او گرده ده، روستۍ شپه بيخي نه تماميږي؛ نو ځکه هر ساعت د ځمکې د کرې په يو ځای کې د شپې روستۍ برخه ده)؛ نو ايا که حضرت ابوهريره پوهېدای، چې ځمکه کروي ده؛ بيا يې دغسې رواياتونه کول؟!!

حضرت ابوهريره وايي:

«رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: بني اسرائيلو لغړ لامبل او يو بل ته يې کتل؛ خو موسی عليه السلام ځانته لامبل؛ نو و يې ويل: څه خنډ نشته چې موسی راسره حمام ته ولاړ شي؛ خو دا چې خصي وي! په هر حال يوه ورځ موسی يوې ځنډې ته ولاړ، چې ځان پربمنځي؛ جامې يې پر ډبره کېښودې، ناڅاپه ډبرې يې جامې له ځان سره يوووړې، موسی په خپگان په ډبرې پسې شو او غږ يې کاوه: ډبرې، جامې مې راکړه، جامې مې راکړه! او په دې توگه بني اسرائيلو ورته کتل او ويل يې: پر خدای، موسی خو څه ستونزه نه لري!! بيا موسی ډبرې ته ورسېد او خپلې جامې يې ترې راواخستې او له سختې غوسې يې د ډبرې پر وهلو پيل وکړ!!! حضرت ابوهريره وايي: پر خدای شپږ يا اوه ځل يې ډبره په کوتک ووهله.»[1]

حضرت ابوهريره وايي:

رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: چې لمانځه ته اذان کېږي، شيطان شا را اړوي او تيزونه اچوي، چې د اذان غږ وا نه ورېدل شي، چې اذان وشي، راستنېږي؛ نو لمانځه ته چې تياری نيول کېږي، شا کوي او چې لمونځ پيل شي بيا راځي (او د لمانځه په منځ کې) انسان ته دنيوي مسايل وريادوي: پلانی څيز رایاد کړه او دومره وسوسه کوي، چې انسان نه پوهېږي، څو رکعته لمونځ يې کړی دی[2].

رسول الله وويل: «يو تن پر غويي سور و، غويي ورته وويل، زه سورلۍ ته نه يم پيدا شوی؛ بلکې يووې ته پيدا ته شوی يم. وايي: ما ابوبکر او عمر پرې ايمان راووړ او يوه لېوه يو پسه ونيو، شپون ورپسې ورغی، لېوه ورته وويل: پر هغه ورځ چې يو ډارن په دې (پسه) پسې شي؛ نو څوک به يې خلاصون ته ورشي؟ پر هغه ورځ به يې يوازې زه شپون يم. و يې ويل:

---

[1] (صحيح بخاري (۱| ۱۶۹ مخ) کتاب الغسل، باب من اغتسل عريانا وحده)

[2] (صحيح بخاري (۱| ۳۳۶ مخ) کتاب الاذان، باب فضل التاذين)

ما، ابوبکر او عمر پرې ایمان راوړ. ابوسلمه وایي: او پر هغه ورځ هغه دواړه په موږ کې نه وو.»[1]
حقیقت دا دی، چې دا احادیث له اسرائیلیاتو څنې دي، چې حضرت ابوهریره ترې نقل کړي او دلیل یې دا دی، چې ابوهریره به تل له یهودي کعب الاحبار سره کېناسته، چې په ظاهره یې اسلام راوړی و.
حضرت ابوهریره د جنت د تلو په اړه وایي:
«وا مې ورېدل چې رسول اکرم وویل: د امت مې اویا زره تنه جنت ته ځي، چې مخونه به یې د سپوږمۍ په څېر ځلېږي. عکاشة بن محصن اسدي پاڅېد چې یوه شمېره یې پرې ورزیاته کړي، و یې ویل: رسول الله! له خدایه وغواړه، چې یو یې زه هم یم. و یې ویل: خدایه! په هغوی کې یې وشمېرې؛ بیا یو انصاري پاڅېد او و یې ویل: رسول الله! دعا وکړه، چې یو یې زه هم یم. حضرت رسول وویل: عکاشة درنه مخکې شو»!![2]
له حضرت ابوهریره روایت شوي:
«یوه ورځ له پېغمبر سره ناست وو، چې و یې ویل: یو وخت ویده وم، په خوب کې مې ولیدل، چې په جنت کې یم، ناڅاپه مې ولیدل، چې یوه ښځه د ماڼۍ تر څنګ ولاړه ده او اودس کوي. و مې پوښتل: دا د چا ماڼۍ ده؟ وویل شو: د عمر بن خطاب ماڼۍ ده؛ نو زه یې د غیرت په یاد کې ولوېدم او له هغه ځایه وتښتېدم!! عمر وژړل او و یې ویل: رسول الله! زه پر تا غیرت کوم؟!»[3]
د ابوهریره روایات پای ته رسوو او ځینې روایات یې چې په حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم پورې تړلي، بېلګې یې رااخلو:
«که چا بې له اجازې ستا د کور وره ته وکتل؛ نو که په ډبره دې وایشت او سترګه دې ورړنده کړه، هیڅ ګناه دربانديې نشته.[4]»

---

[1] (صحیح بخاري (۱۳\ ۲۹۷ مخ) کتاب المزارعة، باب استعمال البقر للحرثه)
[2] (صحیح بخاري (۱۷\ ۴۷۳ مخ) کتاب اللباس، باب البرود والحبرو الشمله)
[3] (صحیح بخاري (۱۴\ ۳۰٦ مخ) کتاب بدالخلق، باب ما جاء فی صفة الجنة)
[4] (صحیح بخاري (۱۹\ ۱۸ مخ) کتاب الدیات، باب من اخذ حقه...)

او پخپلې بلې فتوا کې له رسول اکرم روایتوي:
«تاسې یو هم، په یوه څپلۍ پر لار مه ځئ، یا دواړه پر پښو کړئ یا دواړه وباسئ.»[1]

[1] (صحیح بخاري (۷\۴۹۶ مخ) کتاب اللباس، باب لا یمشی فی نعل واحده)

## صحیح بخاري ته ځغلنده کتنه

اوس لازمه ده، چې صحیح بخاري ته ځغلنده وګورو؛ ځکه دا کتاب اهل سنتو ته خورا صحیح او ډاډمن کتاب دی او بلخوا د ابوهریره له روایاتو او هغو روایاتو ډک دی، چې د پیغمبر عصمت تکنی کوي.

بخاري (په خپل اند) صحیح احادیث یې له ٦٠٠ زرو احادیثو غوره کړي او وایي: «په دې کتاب کې مې یوازې سم احادیث راوړي او ډېر څه مې له صحیحو پرېښې دي»[١]

پر شیخ بخاري مې لومړی نیوکه دا ده، چې د حدیث د راویانو پر عدالت ډاډمن دی او د حدیث د سموالي د جوتولو لپاره یې یوازېنی شرط همدا دی، بې له دې چې د حدیث متن او منځپانګې ته یې پام وي او دا یې په خپل کتاب کې د متناقضو روایتو د پیدایښت علت دی.

فرض دا چې د حدیث راوي عادل وي، بیا هم احتمال شته چې د حدیث یوه برخه یې روایت کړي وي یا حدیث یې په مانا نقل کړي وي، نه کټ مټ په الفاظو، چې دا چار د دې لاملېږي، چې د اصلي حدیث د الفاظو یوه برخه له منځه ولاړه شي او په دې بڼه کې شونې ده، چې حدیث بله مانا پیدا کړي، چې د راوي به ورته پام شوی نه وي، په تېره چې ځینې وخت د راویانو لړۍ اوږدېږي او له اوو یا اتو ورزیاتېږي او که پر دې د نارینه وو د عدالت مساله ورزیاته کړو، په تېره د منافقینو مسله (چې یوازې خدای یې له زړه خبر دی)؛ نو د احادیثو په نقل کې د بخاري ستره نیمګړنه رابرسېرېږي.

احمد امین ددې مطلب په تېنګار کې وایي:

«بخاري، چې له ځینو سړیو نقل کړی، ډاډمن نه دي او حافظانو اتیاو ته نژدې د بخاري رجال کمزوري ښوولي دي.[٢]»

بیا هم یو شمېر نور روایتونه یې راوړو، چې بخاري سم بللي او اهل سنتو له مودو راهیسې منلي دي.

---

[١] (ابن حجر، شرح الباري علي صحیح البخاري، سریزه، ۵ مخ. چاپ: داراحیا التراث العربي)

[٢] (احمد امین، ضحی الاسلام (۲/ ۱۱۷ او ۱۱۸ مخونه)

ابوسعید خدري (رض) وایي: حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قیامت ورځې په اړه وویل:

«... او همداسې غورځېږي، تر دې چې یوازې هغه تن پاتېږي، چې د خدای عبادت یې کړی وي، که ښه وي که فاسق! نو ورته ویل کېږي: کومو څيزونو پاتې کړي یاست؛ حال دا، ټول خلک تللي دي؟ وایي: موږ ترې جلا شو، موږ نن ورته خورا اړین یو او د منادي دا غږ مو واوورېد: کوم قوم چې څه لمانځل ورسره به یو ځای شي او موږ خپل پالونکي ته سترګې پر لار یو.

راوي وایي: نو خدای په یوه بله بڼه (بې له هغې چې په پیل کې یې لیدلی و) راځي او وایي: زه مو پالونکی یم! نو (په تعجب وایي) ته مو پالونکی یې؟ او یوازې پېغمبران ورسره خبرې کوي؛ نو خدای ورته وایي: کومه نښه لرئ چې وربانديې یې وپېژنئ. وایي: پښه یې؛ نو خدای ورته د خپلې پښې پنډۍ ورښکاره کوي او هر مؤمن ورته سجده کوي.»[1]

«جریر بن عبدالله (رض) وایي: یوه شپه له پېغمبر سره ناست وو؛ نو د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته یې وکتل، و یې ویل: هرومرو به مو خپل پالونکی داسې وګورئ؛ لکه چې دا سپوږمۍ ګورئ او د خدای په لیدو کې دربانديې تېری نه کېږي. (حق مو نه خوړل کېږي)[2]»

او ددې دوو روایاتو د رد لپاره بس ده، چې له مسروق څخه د بخاري یو روایت راواخلو:

«حضرت عایشې (رض) ته مې وویل[3]: مورې! ایا محمد خپل پالونکی لیدلی و؟ عایشې (رض) وویل: په دې خبره مې وېښتان ځېږه شول!... چې چا درته ویلي چې محمد خپل خدای لیدلی، دروغ یې ویلي، بیا یې دا آیت ولوست:

[لاَّ تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ[4]]

ژباړه: سترګې هغه لیدی نشي؛ خو دی سترګېویني او هغه لطیف (باریک وینی، دقیق) او (له هر څه) باخبر دی.

---

[1] (صحیح بخاري (۶\۳۵۵ مخ) کتاب التفسیر باب قوله فسبح بحمد ربک)

[2] (صحیح بخاري (۹\۳۹۶ مخ) کتاب التوحید، باب وجوه یومئذه ناضره)

[3] (صحیح بخاري (۶\۳۵۹ مخ) کتاب التفسیر، باب سورة النجم)

[4] (انعام\۱۰۳)

و ماکان لبشر ان یکلمه الله الا وحیا او من ورا حجاب؛ یعنې بیخي بشر ته شونې نه ده، چې خدای ورسره خبرې وکړي؛ خو په وحې یا د پردې تر شا.
اروابناد سیدمرتضی عسکري (معالم المدرستین لومړی ټوک ۳۱ مخ دویم چاپ) وايي:
[وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ[۱]]
ژباړه: (هو!) پر هغه ورځ ځینې مخونه تازه او خوښ (غوړېدلي) وي،
[ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ[۲]]
ژباړه: یوازې د خپل پالونکي لوري ته کتونکي.
او دا د خدای ددې خبرې په څېر ده:
[وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا[۳]]
ژباړه: او (که ستا باور نه کېږي؛ نو) له هغه کلي وپوښته، چې موږ پکې وو.

په هغه آیت کې «امر» او په دې آیت کې «اهل» نغښتی و او په دې شان، ټول هغه آیتونه تاویلېږي، چې په ظاهره خدای جسم راښیي.
او په بخاري کې یو بل اسرائیلي روایت دا دی چې عبدالله وايي:
«یو یهودي عالم (احبار) رسول اکرم ته ورغی او و یې ویل: محمده! موږ (په تورات کې) مومو چې خدای اسمانونه په یوه گوته او نې په بله گوته، اوبه او خاورې پرې بلې گوتې او نور مخلوقات په بله گوته نیسي او وايي: زه پاچا یم؛ نو پیغمبر هومره وخندل چې غاښونه یې ښکاره شول او د آنحضرت خندا د یهودي عالم د خبرې د تصدیق لپاره وه. بیا رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم دا آیت ولوست: «ما قدروا الله حق قدره[۴]»
له ابن عمر (رض) څخه روایت دی:

---

[۱] (قیامت\ ۲۲)
[۲] (قیامت\ ۲۳)
[۳] (یوسف\ ۸۲)
[۴] (صحیح بخاري (۶\ ۳۱۷ مخ) کتاب التفسیر، باب و ما قدروالله حق قدره)

«رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: چې لمر څرک وهي لمونځ وکړی، چې ښه راوخېژي، چې کله د لمر څرک ډوبېږي، لمونځ وکړئ، چې ښه ډوب شي او خپل لمانځه ته له لمر خاته نه تر لمر پرېواته پورې وخت مه ټاکئ؛ ځکه لمر د شیطان د دوو ښکرو ترمنځ راخېژي یا یې وویل: د یوه شیطان په دوو ښکرونو کې راخېژي، دا مې نور یاد نه دي»!![1]
نه پوهېږم دا چټي خبرې څنګه ومنم؟!
او په ابوذرغفاري (رض) پورې یې تړلی دا بل روایت وګورئ:
«چې لمر ولوېد، رسول اکرم ابوذر ته وویل: پوهېږې چې چېرې ولاړ؟ و یې ویل: خدای او استازی یې ښه پوهېږي. و یې ویل: لمر ځي چې تر عرش لاندې سجده وکړي؛ نو اجازه اخلي او ورکول کېږي او همدومره چې غواړي، تر عرش لاندې سجده وکړي؛ نو نه منل کېږي او غواړي اجازه واخلي؛ خو نه ورکول کېږي او ویل کېږي: په کومه چې راغلی یې ستون شه؛ نو د لوېدو له ځایه راخېژي او دا د خدای د خبرې مانا ده: «والشمس تجری لمستقر لها ذلک تقدیر العزیز العلیم[2]»
او عمر بن خطاب (رض) وویل: پوه نه شوې، چې پیغمبر وویل: «مړی د ژوندي په ژړا، عذاب ویني.[3]»

---

[1] (صحیح بخاري (۴| ۳۱۹ مخ) کتاب بدءالخلق، باب صفة ابلیس و جنوده)
[2] (صحیح بخاري (۴| ۲۸۳ مخ) کتاب بدءالخلق، باب صفة الشمس والقمر)
[3] (صحیح بخاري (۲| ۲۱۲ مخ) کتاب الجنایز)

[مَّنِ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدي لِنَفْسِهِ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَلاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً[1]]
ژباړه: څوك چې پر سمه لار ولاړ شي؛ نو ګټه يې د ځان ده او څوك چې بېلارې شي، زيان يې هم د ځان دی. هېڅوک د بل د ګناه پېټی نه وړي او موږ به هېڅکله (کوم قوم) په عذاب نه کړو؛ خو دا چې يو استازی ورولېږو (چې خلك په خپلو دندو پوه کړي).

او عبدالله وايي: د نبي مکرم په مخکې د يوه چا نوم واخستل شو او وويل شو، چې هماغسې ويده و، ان ګهيځ لمانځه ته راويښ نشو. آنحضرت وويل: شيطان يې په غوږ کې متيازې کړي دي![2]
په همدومره رواياتو بسنه کوو او دا پايله ترې راولاړېږي، چې د شيخ بخاري هر تاييد شوی روايت سم نه دی؛ نو ځکه بايد د هغو عقايدو او ګروهو په اړه له سره کتنه وشي، چې د شيخ بخاري د رواياتو پر بنسټ ولاړې وې؛ لکه د خدای د ليدو شونتيا يا په دوزخ کې خدای د پښې ايښوول، يا د نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم د عصمت ټکنيتوب، د ټول قرآن نه زده کړه يې، په حضرت موسی د ملک الموت ړندول او نور ډېر مطالب، چې ډاډ مو پرې کړی؛ حال دا، چټيات دي او د اسلام دين ټکنی کوي، همدغسې د احاديثو د نورو کتابونو په هکله هم دا نيوکې شته.
په پايله کې لازم دي، چې موږ خپل اسلامي تاريخ بيا ولولو او د بخاري رواياتو، رجالو او د هر صحابي د عدالت په باب له سره کتنه وکړو، په تېره، د هغوی ترمنځ چې شخړې او جګړې يې کړي او اغېزې لا تر اوسه پاتې دي او د بېلابېلو مذاهبو د راپيدا کېدو لامل شوي او مسلمانان يې کمزوري او خواره واره کړي دي.

---

[1] (اسراء\ ۱۵)
[2] (صحيح بخاري (۲\ ۱۳۵ مخ) کتاب التهجد)

## پينځمه برخه

## لنډ مهاله واده

**لنډ مهاله واده هماغه «متع واده» دی**

«کومه ښځه چې له يوه نارينه سره په ټاکلي مهر، د ټاکلي وخت لپاره د نکاح په ټولو سمو شرايطو واده وکړي او دواړه لوري پر مهر او وخت، له يوه خوله کېدو روسته دا صيغه ووايي:

«زوجتک نفسی بمهر قدره (کذا) الی الاجل المعلوم»

او وخت يې وټاکي، او نارينه يې په ځواب کې وايي:

««قبلت» او د نورو عقدو او نکاح په څېر په دې عقد (نکاح) کې هم، د عقد د ټولو شرايطو سره د وکيل نيول جايز دي او په دې شان ښځه او نارينه ترې يوې ټاکلې مودې، د يوه بل شرعي همسر (مېړه، مېرمن) کېږي او وخت يې غځولای او يا يې پر همېشني وخت اړولای شي او پر ښځه واجب دي، چې د وخت له پای ته رسېدو روسته، عده وساتي او که ښځه داسې وي، چې حيض يې راځي؛ نو عده يې دوه حيضه دي او که حيض يې نه راځي، عديه يې پينځه څلويښت ورځې دي او د متعې اولاد، که زوی وي که لور، له خپل پلار سره يو ځای کېږي.[1]»

اهل سنت دا ډول واده نه مني او پر شيعه وو نيوکه کوي، چې ولې يې پر جواز ګروهن دي.

اوس پوښتنه دا ده چې: شيعه وو دا واده له کومه ځايه راوړی؟ او يا ددې واده په اړه، اجتهاد کړای شو، چې حلال يا حرام يې کړو؟ او له کتاب او سنتو يې دلايل څه دي؟

په ځواب کې وايو:

د بېلابېلو مذاهبو لاروي مسلمانان يو خوله دي، چې دا واده په صدر اسلام کې مشروع او جايز و.

امام بخاري (رح) له ابن عباس (رض) څخه روايتوي: «له پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم سره غزا ته تلو او ښځې مو راسره نه وې؛ نو آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم ته مو وويل:

---

[1] (امام شرف الدين الفصول المهمه، ٦٣ مخ)

اجازه راکوې، چې ځان خصیان کړو؟ آنحضرت ترې منع کړو او اجازه یې راکړه، چې له ښځو سره په جامو (!) واده وکړو او دا آیت یې ولوست:
[یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ لاَ تُحَرِّمُواْ طَیِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللّهُ لَکُمْ[1]]
ژباړه: مؤمنانو! الله چې کوم پاك څیزونه درته حلال کړي، ناروا مه شمېرئ او له بریده مه اوړئ؛ (ځکه) الله تېري ګر نه خوښوي.
[وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا مَلَکَتْ أَیْمَانُکُمْ کِتَابَ اللّهِ عَلَیْکُمْ وَأُحِلَّ لَکُم مَّا وَرَاء ذَلِکُمْ أَن تَبْتَغُواْ بِأَمْوَالِکُم مُّحْصِنِینَ غَیْرَ مُسَافِحِینَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِیضَةً وَلاَ جُنَاحَ عَلَیْکُمْ فِیمَا تَرَاضَیْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِیضَةِ إِنَّ اللّهَ کَانَ عَلِیمًا حَکِیمًا[2]]
ژباړه: او مېروښې ښځې (هم پر تاسې حرامې دي)؛ خو هغه چې (له کافرانو سره په جګړه کې) یې مالکان شوي یاست (؛ ځکه بې مېړه اسارت یې د طلاق په حکم دی) دا احکام دي، چې الله درتاکلي دي، بې له دې (ویل شویو ښځو) نورې ښځې درته روا دي، چې په خپلو مالونو یې په پاکلمنۍ او نه زنا ترلاسه کړئ؛ نو چې تاسې له کومې ښځې سره واده وکړ او خوند مو ترې واخست، نو فرض مهر یې ورکړئ او تر مهر روسته په هغه څه کې کومه ګناه درباندې نشته چې په خپلو کې پرې راضي شئ، په رښتیا، الله (د چارو پر مصالحو) پوه(او په تشریع او تکوین کې) حکیم دی.

دا آیت هم د همدې ډول واده د مشروعیت په اړه راغلی؛ ځکه د اهل سنتو اغلبو مفسرینو په آیت کې د «استمتاع» اصطلاح د «متعې نکاح» په مانا یاده کړې ده.
ابن عباس، ابي بن کعب او سعید بن جبیر (رضی الله عنهم) دا آیت دغسې لوست: «فما استمتعتم به منهن فاتوهن اجورهن[3]»
ابن کثیر (رح) په خپل تفسیر (۱\ ۴۶۸مخ) کې ددې مطلب د څرګندونې لپاره وایي:

---

[1] (مایده\ ۸۷)
[2] (نساء\ ۲۴)
[3] (صحیح مسلم د نووی له شرح سره (۱۳ ۵۵۲ مخ) او (۱۹ ۱۷۹ مخ) دارالشعب چاپ.)

«دا ډېره لرې ده، چې دوی د قرآن مجید په اړونې ګروهن وسي؛ نو بېشکه له هغه مراد، تفسیر دی، نه لوستنه.»
خو اسلامي ډلو ددې واده په غځولو کې اړپېچ یا اختلاف وکړ او رامنځ ته شوې ستونزه دا وه، چې آیا د متعې نکاح حرامه ده که پر خپل حلالوالی پاتې شوه؟
کوم حدیث چې همدا اوس راولو، بېشکه جوتوي چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په داسې حال کې له نړۍ سترګې پټې کړي، چې نه یې د متعې نکاح حرامه کړه یا یې منع ترې وکړه.
حضرت عمر ان (رض) وایي:
«د متعې آیت په کتاب الله کې دی او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په زمانه کې مو کوله او قرآن بیخي حرامه نه کړه او رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم تر مړینې منع نه کړه؛ خو یو تن یې په خپل اند، په اړه یو څه وویل.[1]»
دا روایت راښیي، چې یو تن په دې واده کې، په خپل فکر اجتهاد کړی دی.
په صحیح بخاري کې هم «تمتع د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په زمانه کې» باب کې تېر روایت دغسې راوړي:
«عمران (رض) وایي: د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په زمانه کې مو تمتع کوله او د قرآن آیت هم نازل شو؛ خو یو تن په خپل فکر ځینې څېزونه وویل.[2]»
په «شرح الباري علی صحیح بخاري» کتاب کې راغلي، چې له تنه مراد، خلیفه عمر بن خطاب[3] دی او د مطلب د ټینګار لپاره، مسلم په خپل صحیح کې له ابی نضره روایتوي:
«له جابر بن عبدالله سره وو، چې یو تن راغی او ورته یې وویل: ابن عباس او ابن زبیر د متعتینو (د حج او ښځو متعې) په اړه اړپېچ وکړ، جابر وویل: د رسول اکرم په زمانه کې مو دواړه کولې، تر دې چې عمر راغی او موږ یې منع کړو؛ بیا مو و نه کړې.[1]»

---

[1] (صحیح بخاري (۱۶ ۳۴ مخ) کتاب التفسیر، باب: فمن تمتع بالعمره.... )
[2] (صحیح بخاري (۱۲ ۳۷۵ مخ) کتاب الحج)
[3] (شرح الباری علی صحیح بخاري (۱۴ ۱۷۷ مخ)+ پر صحیح مسلم د نووي شرح (۱۳ ۳۶۴ مخ) دارالشعب چاپ)

صحيح مسلم په خپل سند له عطا روايتوي:

«جابر بن عبدالله، عمرې ته راغلی و، کور ته يې ورغلو او دوستانو وپوښت، بيا د متعې خبره رامنځ ته شوه؛ نو و يې ويل: هو، موږ د رسول اکرم، ابوبکر او عمر په زمانو کې متعه کوله.[2]»

مسلم له جابر بن عبدالله روايتوي: د رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم او ابوبکر په وختونو کې مو په يوه موټي کجورو او غنمو متعه کوله، تر دې چې حضرت عمر (رض) د «عمرو بن حريث» په داستان کې ترې منع کړو؟[3]»

د عمرو بن حريث کيسه: يوې نېستمنې ښځې د هغه ور وواهه، چې له لوږې د ژغورنې لپاره ورته څه خواړه ورکړي؛ خو عمرو بن حريث د خوړو ورکړه په دې شرط ورسره ومنله، چې د متعې واده ورسره وکړي او ادعا يې کوله، چې دا هماغه د متعې واده دی!! او ښځې له ناچارۍ ومنله او چې حضرت عمر (رض) خبر شو، سخت غوسه شو او بنديز يې پرې ولګاوه او ان امر يې وکړ، چې څوک متعه وکړي، سنګسار به يې کړي!

مسلم په خپل صحيح کې له ابونضره روايتوي:

«ابن عباس د متعې امر کاوه؛ خو ابن زبير يې منع کوله، دا مې جابر ته وويل، جابر وويل: د رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په زمانه کې مو تمتع کوله، چې عمر راغی او و يې ويل: خدای خپل پيغمبر ته هر څه چې غواړي، حلال کړي دي؛ نو حج او عمره پوره وکړئ؛ خو له دې ښځو سره له واده (متعې واده) ځان ټينګ وساتئ او بيخي و نه وينم، چې يو تن، کومه ښځه بل ته (د متعې) نکاح کړي، چې په دې چار به يې سنګسار کړم.[4]»

په صحيح ترمذي کې، له عبدالله بن عمر (رض) روايتوي، چې يو شامي ترې د ښځو د متعې په اړه وپوښتل، ورته يې وويل: حلاله ده. پوښتوونکي وويل: پلار دې منع کړې ده. ابن عمر

---

[1] (صحيح مسلم (۱۳\ ۵۵٦ مخ) کتاب النکاح، باب المتعه)

[2] (صحيح مسلم (۱۳\ ۵۵۵ مخ) کتاب النکاح، باب المتعه)

[3] (صحيح مسلم (۱۳\ ۵۵٦ مخ) کتاب النکاح، باب المتعه)

[4] (صحيح مسلم (۱۳\ ۳۳۱ مخ) کتاب الحج، باب مذاهب العلما فی تحلل المعتمر المستمتع، دارالشعب چاپ)

وویل: که پلار مې یو مطلب منع کړی وي؛ خو رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم حلال کړی وي؛ نو سنت پرېږدم او د پلار خبره مې ومنم.[1]»
د اسلامي امت عالم؛ عبدالله بن عباس (رض) په خپلې دې نظریې خورا مشهور و، چې د متعې آیت بیخي نسخ شوی نه دی.
زمخشري (رح) په خپل کشاف تفسیر کې، له حضرت ابن عباس روایتوي: «د متعې آیت له محکماتو دی» د مطلب د ټینګار لپاره، په صحیح بخاري کې له ابوحجره روایتوي: «وا مې ورېدل، چې ابن عباس د ښځو د متعې اجازه ورکوله. مولی ورته وویل: هرومرو به د سختو حالاتو لپاره وي، چې ښځې په لږکیو یا یې په ورته حالاتو کې وي. ابن عباس وویل: هو![2]»
طبري (رح) او ثعلبي (رح) په خپلو تفاسیرو کې له حضرت علي کرم الله وجهه روایتوي: «که عمر متعه نکاح منع کړې نه وای؛ نو بې له بدمرغه به بل چا زنا نه کوله.[3]»
د لمر په څېر دا دلایل څرګند دي، چې د متعې واده حلال دی؛ خو ډېر اهل سنت پرې اپوټه عمل کوي او ادعا کوي، چې د متعې آیت نسخ شوی او د ناسخ په اړه یې هم اړپېچ لري، چې ځینې یې په نسخ کې یو «آیت» یادوي او ځینې یې د «سنتو روایات» ناسخ بولي او موږ دا دواړه نظریات د تېرو ثابتو او قطعي احادیثو له مخې ردوو؛ ځکه رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له نړۍ ولاړ؛ خو متعه یې منع نه کړه؛ خو هغوی یې چې په نسخ کې د قرآن آیت راوړي وایي:
[وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ. إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ[4]]
ژباړه: او یوازې له خپلو مېرمنو او وینځو سره کوروالی کوي، چې په دې حالت کې پړه پرې نشته او څوک چې بې له دې لارې نور څه وغواړي؛ نو تېري ګر دي.

---

[1] (صحیح ترمذي (۳\ ۱۸۵ مخ) ۸۲۴ ګڼه حدیث)
[2] (صحیح بخاري (۷\ ۳٦ مخ) کتاب النکاح)
[3] (طبري تفسیر (۵\ ۹ مخ)
[4] (مؤمنون\ ۵، ٦)

خو دا يو «مکي» آيت دی او د متعې آيت «مدني» دی؛ يعنې د متعې د واده د مشروعيت حکم «مدني» دی او کله هم تېر، راتلونکی نه نسخوي!!
هغه چې د نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم سنت د آيت نسخوونکي بولي؛ نو پر کومو احاديثو چې د نسخ ادعا لري، يو له بل سره په پوره ټکر کې دي.
ځينې وايي: د متعې آيت په خيبر کې نسخ شوی، ځينې يې په اوطاس، د مکې په سوبې، په تبوک غزا، قضايي عمرې او يا په حجة الوداع کې بولي او په رواياتو کې دا ټکر پخپله يو ټينګ دليل دی، چې دغه روايات سم نه دي. پر دې سربېره چې دا ګرسره روايات، واحد خبر دی، چې بيخي قرآني نص- چې د مسليمينو په اجماع مشروع پېژندل شوی- نسخولای نشي؛ ځکه د مسلمانانو اجماع ده، چې په واحد خبر نسخ نه کېږي او آيت يوازې په آيت نسخ کېدای شي؛ ځکه خدای وايي:
[مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّهَ عَلَىَ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ[1]]
ژباړه: موږ هر آيت چې منسوخ يا پرېږدو، ترې غوره او يا په څېر يې راوړو؛ ايا نه پوهېږې، چې الله پر هر څه وسمن دی؟

دا ټول څرګند دلايل د متعې نکاح مشروعيت جوتوي او زبادوي چې پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم منع کړې نه ده او د حضرت عمر د خلافت تر وخته شتون او د حضرت عمر منع کول يې پاينه جوتوي؛ نو ددې ستونزې هواري ته يوازېنۍ لار دا ده، چې ووايو: حضرت عمر د هغې زمانې د مسلمانانو د مصلحت په پار اجتهاد وکړ او د ملي، نه ديني قانون له اړخه يې د ټاکلي وخت لپاره نهې کړه، که نه د حضرت عمر له مقام سره خو دا نه ښايي، چې د خدای حلال، حرام کړي يا دا چې په دين کې، کوم حکم وردننه کړي، چې په دين پورې اړه نه لري؛ ځکه هغه پخپله پوهېږي، چې تر قيامته د محمد حلال، حلال دي او حرام يې حرام دي؛ نو له تحريم يې مراد، زماني منع ده او ملي تحريم دی، نه ديني او د متعې په نکاح کې يې دا سختي هرومرو، له هغه لومړني ډوله نه ده، که څه، هغه په خپلو ګرسره چارو کې په

[1] (بقره|١٠٦)

شدت مشهور و او که کوم اجتهاد یې هم کاوه؛ نو په خپل اند یې د اسلام مصلحت په پام کې نیوه.[1]

او په احکامو کې د حضرت عمر د اجتهاد له بېلګو او پکې یې سخت ګیري، د تراویح لمونځ دی، چې مسلمانانو ته یې امر وکړ: د رمضان میاشتې نوافل په جماعت وکړي، چې د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په زمانو کې ځانته ځانته کېدل.

امام بخاري په خپل سند، له حضرت ابوهریره (رض) روایتوي: «رسول اکرم وویل: چې څوک په ایمان، د رمضان میاشت په لمونځونو او دعا تېره کړي، خدای یې ټول تېر ګناهونه ببښي.»

ابن شهاب وایي: «رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له نړۍ ولاړ او خلک هماغسې و (چې د رمضان نوافل یې ځانته کول) او دا چار د حضرت ابوبکر په زمانه او تر یوه وخته د حضرت عمر (رض) په خلافت کې همدغسې و.

نوموړی زیاتوي:

نو د رمضان میاشتې پر یوه شپه، له عمر بن خطاب سره جومات ته راغلو او وینو چې خلک جلا جلا ځانته لمونځونه کوي او ټول سره بېلابېل دي؛ نو حضرت عمر (رض) وویل: په نظر مې غوره ده، دوی راټول کړو، چې په یوه تن پسې په جماعت لمونځ وکړي.

نو بله شپه ورسره جومات ته ولاړو او و مو لېدل، چې لمونځ کوونکي په امام پسې په جماعت لمونځ کوي. حضرت عمر وویل: دا عجب یو ښه بدعت دی او هغه وخت چې خلک ویدېږي، تر دې وخته غوره دی او مطلب یې روستۍ شپه وه؛ ځکه خلکو د شپې له سره لمونځ کاوه.[2]»

او ان حضرت عمر د تراویح لمانځه د رکعتونو په شمېر کې هم اجتهاد وکړ ا و شل رکعته یې کړې.

[1] (علامه کاشف العظاء، اصل الشیعه واصولها، ۱۰۱ مخ)

[2] (صحیح بخاري (۳\۱۲٦ مخ) کتاب صلاة التراویح)

حضرت عایشه ام المؤمنین وایي: «رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په رمضان او نورو میاشتو کې تر (۱۱) رکعتونو ډېر (نفل) نه کول.[۱]»
په هر حال؛ لکه چې د حضرت عمر د زمانې ځینو معاصرینو او ترې روسته ځینو حدیثپوهانو، د متعې واده په اړه د خلیفه نهې ولیده او پر علت یې پوه نشول؛ نو دا پرې سخته پرېوته، چې حضرت عمر د خدای حلال، حرام کړي دي، نو له ناچارۍ یې د هواري لپاره ادعا وکړه، چې متعه مخکې وه؛ خو پیغمبر منع کړه؛ نو ځکه وارخطا او په اړولو خبرو سر شول، بېلگه یې د صحیح بخاري لاندې روایت دی، چې په علي کرم الله وجهه پورې یې تړلی دی:
«علي کرم الله وجهه ته وویل شو: ابن عباس خو متعه ناوړه چار نه بولي. علي وویل: په رښتیا، رسول اکرم د خیبر پر ورځ د متعې له واده او د کورنۍ خره د غوښې خوړل منع کړل.
او ځینې خلک وایي: که د تمتع لپاره ټگې وکړي نکاح یې باطله ده او ځینو ویلي: نکاح روا ده او شرط باطل دی.[۲]»
که دوی د متعې له نکاح څخه د حضرت عمر د نهې پر علت پوهېدای؛ نو پر دغسې پرېشانۍ او سردرد نه اخته کېدل.
چې څه مو وویل، له دیني او تاریخي اړخه مو د متعې نکاح وڅېړله؛ اوس یې له اخلاقي او ټولنیز اړخه څېړو.
بې شکه مشروعیت یې بشر ته یوازې یوه لورنه ده، په تېره هغو مسافرو ته، چې د علم، تجارت، کسب، جهاد یا اسلامي پولو د ساتنې لپاره وځي؛ نو ناچار دي، چې له دایمي مېرمنو لرې شي او حال دا، په ځوانۍ او د شهوت په لوړو څوکو کې دي؛ نو دوی ته دوه لارې دي: یا به صبر کوي او له نفس سره به مبارزه کوي، چې غالبا د سختیو لامل دی او شونې ده، چې پر اروایي ناروغیو او پر نه جبرانېدونیو زیانونو اخته شي، یا دا چې زنا وکړي او نړۍ له مفاسدو او زیانونو تر خولې کړي.

---

[۱] (صحیح بخاري (۱۲\۱۳۷ مخ) کتاب التهجد)
[۲] (صحیح بخاري، کتاب الاکراه، باب: الحیلة فی النکاح)

او د همدې لامل له مخې يې د فارس خليج يو واعظ شيخ «احمد قطان» اړ کړ، چې په فليپين کې، عربي زده کړيالو ته فتوا ورکړي، چې لنډ مهاله نکاح روا ده؛ خو نوم يې ورته بدل کړی او د «اطلاق په نيت واده» يې نومولی او شرط يې دغسې ښوولی، چې مېړه به په زړه کې د طلاق نيت کوي، بې له دې چې څوک يې له نيته خبر شي؛ نو دا د مېړه په نيت کې لنډ مهاله واده دی او د ښځې د پوهې او نيت له مخې دايمي واده دی او په دې شان، د مېړه په زړه کې نيولی وخت، چې پوره شي، خپله مېرمن طلاقوي.

ددې ډول واده مخترعين، چې له ښځې سره ټگي برگي کوي او هم له قران او سنتو هم کوم دليل نه لري؛ خو بيا هم په همدې پلمه خپله تشريع سمه بولي؛ حال دا، زيان يې د زنا له مفاسدو لږ نه دی! په زړه پورې خو دا ده، چې له همدې شيخ څخه يې د لنډ مهالي واده او ابن عباس د فتوا په اړه وپوښتل؛ نو دا ډول واده يې حرام وباله او پر ابن عباس يې د خپلې فتوا له لامله نيوکه وکړه او و يې ويل: «که د پوهانو په تېروتنو پسې ولاړ شو؛ نو زنديق او له دينه وځوو»!!

او په دې توگه يې د «شيخ قطان» په نظر په قرآن او سنتو کې د متعې د حلالې نکاح پر ځای د «طلاق په نيت واده» بدعت رامنځ ته کړ. اتستبدلون الذی هو ادنی بالذی هو خير

«څرنگه يو ټيټ څيز د غوره څيز ځايناستی کوئ»

ولا حول ولا قوة الا بالله.

## د حج متعه

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د حج متعه کړې او امر یې کړی؛ ځکه خدای وایي:

[وَأَتِمُّواْ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلاَ تَحْلِقُواْ رُؤُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضاً أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ[1]]

ژباړه: او یوازې د الله لپاره حج او عمره پوره وکړئ او که (د خنډونو له لامله) منع شوئ (د احرام تر تړلو روسته د دښمن له وېرې یا د ناروغۍ له لامله مکې ته ورننووتی نشئ)؛ نو څه قرباني، چې کړای شئ (و یې کړئ او احرام وباسئ) او خپل سرونه تر هغه مه خریئ،چې قرباني د حلالې ځای ته نه وي رسېدلې؛خو که څوك ناروغ وي یا یې په سر کې څه تکلیف وي (او له دې لامله خپل سر وخریي)؛نو په فدیه کې دې روژې ونیسي یا دې صدقه ورکړي یا دې قرباني وکړي او چې کله (له ناروغۍ او دښمن) خوندي او ډاډمن شوئ؛نو تر عمرې روسته دې حج پیل کړي؛ نو څه قرباني یې، چې له لاسه پوره وي (و دې یې کړي) او که د چا له وسې (قرباني) نه کېده؛ نو درې روژې دې د حج په بهیر کې او اوه دې کور ته تر ستنېدا روسته ونیسي دا پوره لس (ورځې) دي (؛البته) دا اسانتیا د هغه لپاره ده،چې کورنۍ یې د مسجد الحرام په چاپېریال کې مېشته نه وي او (ځانونه) د الله له (عذابه) وساتئ (او د الله ددې احکامو له سرغړونې ځان وژغورئ) او پوه شئ، چې الله سخت عذابی دی.

او مطلب یې بې له مکې مېشتو، د حج په میاشتو کې او د حج له رارسېدو مخکې د عمرې کول واجب دي او دې ته په حج کې تمتع وایي؛ ځکه په دې موده (د عمرې او حج د

---

[1] (بقره|۱۹٦)

احرامو ترمنځ) کې انسان ته د احرام د محرماتو ګټنه روا ده[1]، چې دا چار هم خلیفه حضرت عمر نهې کړ؛ حال دا، رسول اکرم تر مړینې حرام نه کړ او نه یې منع ترې وکړه.

امام بخاري په خپل صحیح کې له سعید بن مسیب څخه روایتوي:

«علي کرم الله وجهه او عثمان (رض) د متعې په اړه اړپېچ وکړ: علي ویل: ته د رسول الله د امر، نهې کوې.[2]»

او په بل حدیث کې، امام بخاري په خپل صحیح کې په ډاګه جوتوي، چې ځینو خلکو د نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم په څرګندو نصوصو کې اجتهاد کاوه.

حکم وایي:

«عثمان او علي مې په داسې حالت کې وموندل، چې عثمان له متعې او د دواړو له یو ځای کېدو نهې کوله او چې کله علي ولیدل؛ نو و یې ویل: (خدایه) د عمرې او حج یو ځای نیت کوم بیا یې وویل: د هیچا په خبره له نبوي سنتو لاس نه اخلم.[3]»

او له هیچا د علي مطلب، عمر بن خطاب دی، چې مخکې هم وویل شو.

خو د حضرت عثمان پلمه دا وه، چې عبدالرحمن بن عوف (رض) ورسره په دې شرط بیعت وکړ، چې پر کتاب الله، نبوي سنتو او د شیخینو (ابوبکر او عمر) په سیرت به چلي او له متعتینو نهې، د شیخینو د سیرت په لړ کې وه، چې حضرت عثمان (رض) ترې اوختلاې نشو او که نه خلافت نه ورکول کېده او په رښتیا، د حضرت عمر دا خبره مشهوره ده:

«د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په وخت کې دوه متعې وې او زه دواړه منع کوم.[4]»

او مطلب یې د ښځو او حج متعې وې.

او د خلیفه دا خبره راښیي، چې یوازې همده د متعو په حکم کې تصرف او برلاسي کړې، نه بل چا؛ ځکه پخپله منښته کوي، چې د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په زمانه کې

---

[1] (امام شرف الدین، الفصول المهمه)

[2] (صحیح بخاري (۲\۳۷۴ مخ) کتاب الحج)

[3] (صحیح بخاري (۲\۳۷۱ مخ) کتاب الحج)

[4] (امام فخر رازي، تفسیر کبیر (۵\۱۳۵ مخ) چاپ: داراحیاء التراث العربي+ طبراني تفسیر)

دوه متعې جايزې وې او له آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم څخه يې بيخي نهې او منعې نه ده راغلي؛ بلکې نهې يې يوازې خپل ځان ته پرېښودې ده او وايي: «... زه ترې نهې کوم.»
خدای دې هغه وبښي، چې د حضرت عمر (رض) ددې خبرې په اړه يې ويلي دي:
«گواهي يې منم؛ خو تحريم يې نه منم»
حقيقت دا دی، که څوک بې له کوم تعصب او توکمه، د اسلام تاريخ ولولي؛ نو پر دې دوو متعو او تراويح سربېره، نور ډېر احکام شته، چې د حضرت پيغمبر د ښرگندو نصوصو پر وړاندې حضرت عمر اجتهاد کړی؛ خو افسوس چې اهل سنتو د تاريخ په اوږدو کې دا اجتهادات په دې انگېرنه منلي، چې د نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم تشريع ده!!

# شپږمه برخه

## مهدي منتظر او فتنې

ټولې اسلامي ډلې يوه خوله دي، چې په آخرالزمان کې به يو تن راښکاره کيږي، چې نړۍ به له عدالت او انصاف څخه ډکوي او «د حق نړيوال حکومت» به جوړوي؛ څکه خدای وايي:

[وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ[1]]

ژباړه: او په حقيقت کې موږ په "زبور" کې تر تورات روسته ليکلي: ((زما صالح بندگان به د ځمکې (د واکمنۍ) پاتوړي شي.))

[وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ[2]]

ژباړه: او غواړو د دې هېواد پر بېوزليو کړای شويو منت وکړو او دوی (د خلکو) مشران او (د ځمکې) پاتوړي کړو.

[يُرِيدُونَ أَن يُطْفِؤُواْ نُورَ اللّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللّهُ إِلاَّ أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ[3]]

ژباړه: (کافران) غواړي د الله رڼا په خپلو خولو مړه کړي؛ خو الله بې له دې هېڅ نه مني، چې خپله رڼا به پوره کوي، که کافرانو ته دا څومره کرکجنه وبرېښي (او زړونه يې هم وچوي).

[هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ[4]]

ژباړه: (الله) هغه (ذات) دی، چې خپل استازی يې له لارښوونې او حق دين سره لېږلی دی، چې پر ټولو اديانو يې لاسبری کړي، که څه مشرکانو ته دا کرکجنه وبرېښي (او زړونه يې هم وچوي).

او حضرت رسول اکرم څرگنده کړې، چې دا منتظر نارينه يې له اهل البيتو دی. و يې ويل:

---

[1] (انبياء\ ۱۰۵)

[2] (قصص\ ۵)

[3] (توبه\ ۳۲)

[4] (توبه\ ۳۳)

«نړۍ به هله پای مومي، چې له عربو يو تن چارواکی شي، هغه مې له اهل بيتو څنې دی او نامه يې زما نامه ده.[1]»

حضرت ابوسعيد خدري (رض) وايي: رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: «قيامت هله راځي، چې ځمکه د ظلم، ځورونې او تېري ډکه شي؛ بيا مې له اهل بيتو څنې يو تن راښکاره کېږي، چې له عدالت او انصاف نه يې داسې ډکوي؛ لکه چې له ظلم او تېري تر خولې راغلې وه.[2]»

ابوهريره (رض) وايي: رسول اکرم وويل: «که د نړۍ يوه ورځ هم پاتې وي؛ نو خدای دا ورځ دومره غوځوي، چې له اهل بيتو څنې مې يو تن واکمني وکړي او د ديلم غر او قسطنطنيه به تر خپلې واکمنی لاندې راولي.[3]»

او همداراز نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم خبر کړي يو، چې په آخرالزمان کې حضرت عيسی عليه السلام راښکاره کېږي او په امام مهدي پسې لمونځ کوي.

ابوهريره (رض) له رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم څخه روايتوي:

«پر هغې ورځ به څرنگه ياست، چې د مريمې زوی درکې وي او امام مو خپل امام وي.[4]»

حافظ د صحيح بخاري په شرح کې وايي:

«پر له پسې روايات راغلي، چې مهدي د همدې امت دی او عيسی بن مريم راکوزېږي او لمونځ ورپسې کوي.[5]»

---

[1] (صحيح ترمذي (۱۹ ۷۴ مخ)+ ابوداوود سنن (۱۴ ۱۰۷ مخ)+ امام احمد حنبل، مسند (۱۱ ۳۷۶ او ۳۷۷ مخونه)

[2] (مستدرک الصحيحين (۵۵۷\۴ مخ)+ امام احمد حنبل مسند (۱۳ ۳۶ مخ)

[3] (صحيح ابن ماجه، باب الجهاد (۱۲ ۹۲۸ مخ)، ۲۷۷۹ گڼه حديث)

[4] (صحيح مسلم (۱۱ ۳۷۳ مخ)، ۲۴۴ گڼه حديث، باب: نزول عيسی بن مريم)

[5] (فتح الباري (۱۵ ۳۶۲ مخ)

**پر (۱۹۷٦\ ۵\ ۱۳) نېټه «الجمع الفقهی فی رابطة العالم اسلامي» دا فتوا ورکړه:**
«مهدي هماغه محمد بن عبدالله حسني علوي فاطمي او هماغه موعود منتظر مهدي دی، چې په آخرالزمان کې به راوځي او د قیامت له نښو څخه دی، له مغربه راښکاره کېږي او د حجاز، په مکه مکرمه کې، د رکن او مقام ترمنځ، د کعبې د وره او حجر الاسود ترمنځ بیعت ورسره کېږي او دا هله راښکاره کېږي، چې نړۍ له فساده ډکه او کفر او ظلم خور شوی وي؛ نو نړۍ له عدالت او انصافه ډکوي؛ لکه څرنګه چې له ظلم او زورواکیو تر خولې راغلې وه، پر ګرسره نړۍ واکمني کوي او سرغړاندي ورته غاړه ږدي، که په قناعت وي که جګړې. واکمني به یې اوه کاله وي او تر راښکاره کېدو روسته یې عیسی علیه السلام راکوزېږي او دجال وژني یا دا چې ورسره یو ځای راکوزېږي او د دجالو په وژنه کې یې لاسنیوی کوي او د فلسطین په «لُد» وره کې هغه وژني او د دولس ګونو راشدینو خلفاوو روستی خلیفه دی، چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم په صحاحو کې ترې خبر کړي یو. او د مهدي پر راښکاره کېدو ګروهه واجب ده، چې د اهل سنت او جماعت له ګروهو څخه ده او یوازې هغه ترې منکرېږي، چې په سنتو نه پوهېږي یا په ګروهه کې بدعتي او نوښتګر دي.[1]»
او په دې شان اهل سنت او شیعیان یوه خوله دي، چې امام مهدي له دولس ګونو خلفاوو څخه دی، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم یې په بېلابېلو احادیثو کې زېری راکړی او هم د منتظر امام په اړه، په ډېرو مسایلو کې یوه خوله دي؛ خو په دې اړه یې ترمنځ اختلاف هم شته، چې دا دی:
۱-ډېر اهل سنت ګروهن دي، چې امام مهدي علیه السلام په آخرالزمان کې نړۍ ته راځي؛ خو شیعه ګروهن دي، چې هغه پر ۲۵۵ س زیږېدلی او پلار یې امام حسن عسکري علیه السلام د اهل بیتو یوولسم امام دی او خدای د هغه حکمت له مخې، چې په خپله پوهېده، د خلکو له کتو یې پټ کړ او ژوندی دی او په آخرالزمان کې راښکاره کېږي.

[1] (مؤامرة المتاجرین بالدین، ۲۹ مخ)

۲-اهل سنت- لکه چې په تېره فتوا کې راغلي- گروهن دي، چې مهدي د امام حسن علیه السلام له زامنو څنې دی او د پلار نوم یې عبدالله دی؛ ځکه روایت لري چې وایي: «... نوم یې زما نوم او د پلار نوم یې زما د پلار نوم دی.»
خو شیعه گروهن دي، چې د حضرت مهدي لړی، امام حسین علیه السلام ته رسي او مهدي، د امام حسن عسکري زوی دی او روستی روایت دغسې روایتوي «نوم یې زما نوم او د پلار نوم یې زما د زوی نوم دی.»
دلته د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم لمسي؛ امام حسن مجتبی علیه السلام ته اشاره ده.
د اهل سنتو ځینې لیکوال، پر شیعه وو نیوکه کوي، چې د منتظر امام په ولایت او په پینځه کلنۍ کې یې امامت ته په ورسېدو گروهن دي او دا نیوکه او غندنه یې د تعصب او توکم له مخې ده، چې پر څه ایمان راوړي یا له تېرو ورته، په میراث کې پاتېږي؛ نو داسې پرې ټینگ گروهنېږي، چې که څوک ورسره په مخالفت لاس پورې کړي؛ نو بې له دې چې د نورو استدلال ته غوږ کېدي؛ نور باطل بولي؛ خو په ځواب کې یې وایو:
لومړی: د اهل سنتو ډېر عالمان گروهن دي، چې مهدي هماغه «محمد بن عسکري» او ژوندی دی، چې یوه ورځ یې خدای راښکاره کوي او په دې گروهه کې، له شیعه وو سره یوه خوله دي، چې یو شمېر یې دا دي:
۱-اروابناد محي الدین عربي- فتوحات مکیه کتاب
۲-اروابناد سبط ابن جوزي- تذکرة الخواص کتاب
۳-اروابناد عبدالوهاب شعرانی- عقاید الاکابر
۴-اروابناد ابن الخشاب- تواریخ موالید الایمه و وفیاتهم کتاب
۵-اروابناد محمد بخاري حنفي- فصل الخطاب کتاب
٦-اروابناد احمد بن ابراهیم بلاذري- الحدیث المتسلسل کتاب
۷-اروابناد ابن الصباغ مالکي- الفصول المهمه کتاب
۸-اروابناد عارف عبدالرحمن- مرآة الاسرار کتاب
۹-اروابناد کمال الدین بن طلحه- مطالب السؤول فی مناقب الرسول کتاب
۱۰-اروابناد قندوزي حنفي- ینابیع المودة کتاب او نور.

دويم: هيڅ شرعي دليل نشته، چې اپوته يې جوت کړي او د منتظر امام غيبت د ډېرو معجزو په څېر دی، چې قرآن ترې خبر کړي يو؛ لکه حضرت نوح عليه السلام (۹۵۰) کاله په خپله قوم کې و، چې قوم يې خدای ته راباله.
[وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ[۱]]
ژباړه: او په رښتيا نوح مو خپل قوم ته[په رسالت] ورولېږه؛ نو نهه سوه او پنځوس کاله يې پکې تېر کړل او دا چې دوی [مشرک] ظالمان ول، په پای کې توپان او نېز لاندې کړل.

او ښکاره ده، چې نوح عليه السلام تر دې ډېر عمر کړی دی.
همدغسې اصحاب کهف ۳۰۹ کاله پر خوب ويده پراته ول او خدای، عيسی عليه السلام خپل لوري ته بوت او له وژنې يې وژغوره او په اخرالزمان کې نړۍ ته راستنېږي او خضر عليه السلام تر اوسه ژوندی او له سترگو پټ دی.
او په پينځه کلنۍ کې يې د امامت د ورلېږد په هکله، بايد ووايو چې خدای عيسی عليه السلام ته په زانگو کې نبوت ورکړ، چې نوی زيږېدلی ماشوم و.
[فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا[۲]]
ژباړه: نو (مريم) هغه (نوزيږي) ته اشاره وکړه؛ خلکو وويل: ((په زانگو کې پروت له يوه ماشوم سره څنگه خبرې وکړو؟!))
[قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا[۳]]
ژباړه: (عيسی په خبرو شو او) و يې ويل: ((په رښتيا زه د الله بنده يم، (اسماني) کتاب يې راکړی او پېغمبر کړی يې يم.

همدغسې خدای يحيی عليه السلام ته په ماشومتوب کې نبوت ورپه برخه کړ:

[۱] (عنکبوت\ ۱۴)
[۲] (مريم\ ۲۹)
[۳] (مريم\ ۳۰)

[يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا[1]]
ژباړه: يحيى! (د الله) كتاب ټينگ ونيسه او موږ په كوشنيوالي كې حكمت [نبوت او كافي عقل] وركړ.

او كه وويل شي، چې دا معجزې خو يوازې په پېغمبرانو پورې ځانگړې دي، په ځواب كې يې وايو، هيڅ شرعي دليل نشته، چې د نبي مكرم تر مړيني روسته، د معجزو تمېدل راوښيي او هم معجزې يوازې په پېغمبرانو پورې ځانگړې نه دي؛ ځكه اصحاب كهف پېغمبران نه وو او ان ابليس (شيطانانو مشر) هم چې خداى يې عمر تر قيامته (الى يوم الوقت المعلوم) اوږد كړى دى!!
بلخوا هغوى چې د منتظر امام پر غيبت ايمان درلودو نيوكه لري؛ نو څرگندېږي، چې د امام مهدي له مقامه ناخبره دي؛ ځكه امام مهدي به د عيسى عليه السلام امام هم وي؛ همغه پېغمبر چې خداى ورته په ماشومتوب كې نبوت ور پر برخه كړ او كه اهل سنت يقين وكړي، چې خداى تعالى له اهل بيتو څنې دولس گونو امامان غوره كړي او دوى يې د پېغمبر خلفاء او د محمدي رسالت پاسوالان كړي دي؛ نو د دولسم امام په اړه به يې هېښنه يا تعجب له منځه تللاى واى.
د ځينو خلكو د انگېرنو پر خلاف، د امام مهدي راښكاره كېدل؛ گرسره مسلمانانو ته يو ستر ازمېښت دى، ان ټولو كتابيانو؛ لكه يهودو او انصاراوو ته، چې دوى هم د موعود ژغوروونكي پر راتللو گروهن دي او روايتونه مو هم خبروي، چې مسلمانان د «دجال» په اړه هم ازمېښتېږي؛ ځكه دجال د ډېرو مسلمانانو په ملاتړ، له امام مهدي سره جنگېږي، هماغه چې ځينې روايات ورته «اعورالرجال» وايي.
او كوم حقيقت چې وينم، د اهل سنتو له گروهې اوچت دى، چې وايي: د «دجال» پر تندي «كافر» ليكل شوى دى؛ نو كه دا كلمه ولوستل شي او پر حقيقت يې پوه شي؛ نو ازمېښت ته څه ځاى نه پاتېږي او دا ادعا هم مردوده ده، چې يوازې مؤمنين يې پر تندي كلمه لوستلاى

[1] (مريم\ ١٢)

شي؛ ځکه مانا يې دا ده، چې ازمېښت ته کومه مانا نه پاتېږي او همدا چار يې له هغې ادعا سره اړخ لگوي، چې دجال يوازې يوه سترگه لري، له همدې لامله مې په تېرو وختونو کې تعجب کاوه، چې ولې مسلمانان د امام مهدي د راښکاره کېدو پر مهال بيعت ورسره نه کوي، ان ورسره جنگېږي، سره له دې چې راښکاره کېدو ته يې سترگې پر لار وو او يقين يې درلود، چې خدای يې مرستندوی دی!

خو دا فتنه هله راته څرگنده شوه، چې د سني او شيعه په اړېيچ پوه شوم او دا چې مهدي، د شيعه وو دولسم امام دی؛ نو ځکه هغه مهال چې امام مهدي (د شيعه وو د توصيف له مخې) راښکاره کېږي؛ نو شيعه ورسره بيعت کوي؛ خو د اهل سنتو متعصبين يې سملاسي تورنوي، چې مهدي، يو شيعه دی او دا هغه نه دی چې ورته سترگې پر لار وو، چې بېشکه بايد سني وي!!

اوس هم ددې فتنې اغېزې په خپلې زمانې کې لمسولای شو، گورو چې له اهل سنتو څخه متعصبين يې د ايران د اسلامي انقلاب او مشر (امام خمينی) پر خلاف منفي دريځ نيسي او اهميت نه ورکوي؛ ځکه «شيعه» دی؛ حال دا، رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ددې مبارکې رڼا زېری ورکړی دی.

دبخاري په يوه حديث کې له ابوهريره (رض) روايتوي:

«له نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم سره ناست وو، چې د جمعې سورت نازل شو او دا آيت راغی [«و اخرين منهم لما يلحقوا بهم؛ او ځينې يې په آخرالزمان کې راځي او لا تر اوسه ورسره يوځای شوي نه دي»]

ما وويل: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم! دوی څوک دي؟ او تر درې ځل پوښتنو روسته، رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم خپل لاس د سلمان پر اوږو کېښود او و يې ويل: که ايمان په اسمان کې وي؛ نو له دوی به سړي- يا کوم سړی- ورورسي.[1]»

خدای تعالی هم په خپل کتاب کې دې مطلب ته اشاره کړې:

---

[1] (صحيح بخاري (۱٦\ ۳۹۰ مخ) کتاب التفسير، باب: وآخرين منهم... + صحيح مسلم (۱۵\ ۴۰۸ مخ)، ۲۵۴۶ گڼه حديث. کتاب الفضايل، باب فضائل اهل فارس)

[هَاأَنتُمْ هَؤُلَاء تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَاء وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ[1]]
ژباړه: هو! تاسې هماغه ډله یاست، چې د الله په لار کې لګښت ته بلل کېږئ؛ نو ځیني مو کنجوسي کوي او څوك چې کنجوسي وکړي؛ نو په حقیقت کې یې له ځان سره بخیلي کړې ده او الله موړ دی او تاسې اړمن یاست او که مخ واړوئ (؛ نو الله) به مو پر ځای نور خلک راولي، چې بیا به دوی ستاسې په څېر نه وي (او په خلاص مټ به د الله په لار کې لګښت کوي).

ابوهریره (رض) وایي: هغه مهال چې رسول اکرم دا آیت ولوست وپوښتل شو: رسول الله! دوی څوک دي، چې که موږ مخ وګرځاوه؛ نو زموږ پر ځای راوړل کېږي او په څېر مو نه دي. آنحضرت، سلمان (رض) په ورانه وواهه او و یې ویل: «دا او قوم یې او که دین په اسمان کې وي؛ نو د فارس ځیني کسان به پرې برلاسي شي.»[2]
همدغسې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم له هغې ډلې خبر کړي یو، چې زموږ په زمانه کې فتنې راولاړوي.
ابن عمر (رض) وایي: حضرت رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «خدای دې په شام کې مو مبارک کړي، خدای دې په یمن کې مو مبارک کړي. ورته وویل شول: او په نجد کې موږ؟ حضرت بیا وویل: خدای دې په شام کې مو مبارک کړي،... په یمن کې... وویل شول: یا رسول الله! او په نجد کې موږ؟ په اند مې چې په درېیم ځل یې وویل: هلته به زلزلې او فتنې راولاړې شي او له هغه ځایه به د شیطان ښکر راڅرګند شي.[3]»
زه دا فتنه ماره ډله «وهابیت» بولم، چې بنسټګر یې «محمد بن عبدالوهاب» د نجد په «عیینه» کلي کې زیږېدلی او د توحید له نامې په ګټې، چټلې موخې پر مخ وړي، چې یوه یې هم د

[1] (محمد\ ۳۸)
[2] (ابن کثیر تفسیر (۱۹۶\۴ مخ)+ قرطبي تفسیر (۱۶\ ۲۵۸ مخ)+ طبري تفسیر (۲۶\ ۴۲ مخ)+ الدرالمنثور تفسیر (۶\ ۶۷ مخ)
[3] (صحیح بخاري (۹\ ۱۶۶ مخ)، کتاب الفتن،باب: الفتنه من قبل المشرق)

نورو مذاهبو غندنه ده، په تېره په کفر او شرک د اهل بیتو د لارویانو تورنول دي او د بېلګې په ډول: په انبیاوو، اولیاوو او سترو نارینه وو توسل کول ستر شرک بولي او د حضرت عمر (رض) ددې ګروهې پر ضد کړچار لري.

په صحیح بخاري کې له حضرت انس (رض) روایتوي: «د سوکړې پر مهال به عمر بن خطاب پر عباس بن عبدالمطلب توسل کاوه او ویل یې: خدایه! موږ به ستا په پېغمبر توسل درته کاوه؛ نو باران دې راباندې وراوه او نن ستا د پېغمبر په تره توسل درته کوو؛ نو باران راووروه. هغه وایي: نو خدای باران ووراوه.[1]»

خو دا چې وهابیت څکه دې مسلې ته باد ورکوي، چې د اهلبیتو علیه السلام لارویان، د رسول اکرم سپېڅلي مقام او د هغه دولس ګونو ځایناستو ته د خدای په نزد پر لوړ مقام قایل دي، که رښتیا که دوی نه وای؛ نو یو انسان هم پر سیده لار نه سیده کېده او بشریت په بې لارۍ کې ډوبېده.

د وهابیت او بنسټګر د رد لپاره یې همدا بس دی، چې امام بخاري په خپل صحیح کې راوړي، چې رسول الله وویل:

«د ختیځ له لوري به داسې خلک راپاڅي، چې قرآن به لولي؛ خو (په اند به یې) له ستونې نه تېرېږي او له دینه داسې وځي؛ لکه غشی له لیندۍ او ورته نه راستنېږي؛ خو دا چې غشي خپل ځای ته بېرته راستون شي (؛نو دغسې دوی هم دین ته نه راګرځي.) وویل شو: څېرې یې څرنګه دي؟ و یې ویل: څېرې یې «تسبید» دي یا «تحلیق»[2].

د تسبید مانا؛ د سر د وېښتانو خرېیل دي؛ لکه چې په روایت کې راغلي: «ابن عباس سر خرییلی راغی (مسبدا راسه)»[3].

او د سر خرېیل، د وهابیانو یوه مشهوره ځانګړنه ده او تاریخ هم پرې ګواه دی.[4]»

---

[1] (صحیح بخاري (۲|٦٦ مخ) کتاب الاستسقا)

[2] (صحیح بخاري (۹| ۴۸۹ مخ) کتاب التوحید، باب قراة الفاجر والمنافق)

[3] (مختار الصحاح، ۲۸۲ مخ)

[4] (فتنة الوهابیه، ۷۷ مخ، د استانبول چاپ ۱۹۷۸ ز)

د وهابيت د منځپانګې د ښه پوهېدو لپاره او دا چې د دوی په مقابل کې د قرآن، حدیثو او عقل په رڼا کې استدلال وکړای شئ لاندې کتابونه ولولئ:
۱-وهابیت د قرآن او سنتو په رڼا کې (شیخ سبحاني)
۲-دیوبندیت او وهابیت (د دیو بند د عالمانو مناظرې)
۳-انه مبلغ لیس نبیاً (مبلغ، نه پیغمبر) مؤلف: حسن بن فرحان د حجاز ستر عالم.
امام مهدي علیه السلام راځي چې بېوزله کړای شوي (مستضعفین)، د سرغړاندو (مستکبرینو) پر ضد راپاڅوي او بریالي یې کړي؛ نو له دښمنانو یې څه تمه لرئ؟
نو ایا دوی به منافقین، درباري او حکومتي وعاظ او د ظلالت مشران، د امام مهدي جګړې ته نه چمتو کوي؟!
حضرت حذیفه بن یمان (رض) وایي: «خلکو له رسول الله د خیر په اړه پوښتنه وکړه او د شر په اړه، دا ځکه چې پر شر وانوړم، نو و مې ویل: رسول الله! موږ په جاهلیت او شرک کې وسېدو او خدای دا خیر راووړ، ایا تر دې خیر روسته بیا هم شر راځي؟ و یې ویل: هو! و مې ویل: او تر هغه شر روسته به خیر وي؟ و یې ویل: هو! خو فساد به پکې وي. و مې ویل: څه فساد؟ و یې ویل: یو قوم به بې زما له لارښوونې، د خلکو مشري کوي، دوی به پېژنې او نه به یې منې. و مې ویل: ایا تر هغه خیر روسته، کوم شر شته؟ و یې ویل: هو! هغه بلونکي، چې د دوزخ د وره پر سر ناست دي، چې چا یې بلنه ومنله، په دوزخ کې یې غورځوي. و مې ویل: د دوی ځانګړنې خو راته ووایه: و یې ویل: دوی زموږ له قومه دي او زموږ په ژبه ګړېږي. و مې ویل: که مې درک کړل؛ نو څه وکړم؟ و یې ویل: د مسلمانانو له ټولي او مشر سره یې وسه. و مې ویل: او که دوی جماعت او امام نه درلود. و یې ویل: نو له دې ټولو ډلو لرې وسه؛ که څه، د یوې ونې پر ډډ غاښ ولګوې، چې ومرې او ته پر هماغه حال وسې.[1]»
او دا حدیث په ډاګه ځرګندوي، چې باید د مسلمانانو له ټولي او مشره یې لاروی وشي او که انسان یې په چار کې شکمن شي او حقیقت ونشي موندلای؛ نو پیغمبر امر کوي، چې چوپتیا

[1] (صحیح بخاري (۹/ ۱۵۹ مخ) کتاب الفتن، باب کیف الامر اذا لم تکن جماعة)

غوره کړو، همدغسې دا روایت راښيي، جهنم ته بلونکي او د جهنم پر وره ولاړ له عجمو څخه نه دي؛ بلکې عرب دي او دا پر هماغه بدعتي ډلې ټینګار دی، چې په تېرو احادیثو کې وربانديې ټینګار وشو.

حقیقت دا دی، اوس چې په کومه فتنه کې یو او رسول اکرم پکې له ورغورځېدو ګواښلي وو؛ نو لازمه ده، ډېر احتیاط وکړو او په ځیرنه او پوره هوښیارۍ پر داسې لار ګام کېدو، چې په اسانۍ مو د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم سنتو ته ورسوي؛ په تېره دا چې بېلابېلې لارې شته او په ځینو روایاتو کې یې شمېر درې اویا ډلو ته رسي، چې ټول د حق د لاروۍ ادعا لري؛ خو رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څرګنده کړې، چې یوازې یوه ډله حق [ناجیه] ده، چې ژغورل کېږي او نورې نه ژغورل کېږي او خدای ددې ډلې د بریا ژمنه کړې؛ لکه چې په حدیث کې لولو:

«د امت یوه ډله به مې د حق لاروۍ وي او د خپلو مخالفینو تر اغېز لاندې نه راځي، تر دې چې د خدای امر راورسي.»

او زموږ په زمانه کې مسلمانان له دې سترې فتنې حیران او سرګردان دي، چې په چاپېریال کې یې روانه ده او له ځان سره سوچ کوي، چې باید په خپل اسلام او د اسلام په تاریخ کې چې مهمې پېښې شوي، پکې نوې کتنه وکړي او دا څرګند مصداق، د رسول اکرم دا خبره رایادوي:

«اسلام غریب، پیل شو او د پیل په څېر غریب ستنېږي.»

شک نشته، څوک چې تر ننه زموږ اسلامي تاریخ په ځیرنه وګوري او کوم کړاوونه چې پر اهل بیتو، په تېره، د دین پر امامانو تېر شوي، و یې ومومي او په اهل سنتو کې د ورک شوي حقیقت په اړه اندنه وکړي؛ نو د اسلام د غریبې ستنېدا پر مانا ښه پوهېدای شي او په واقع کې، په دې روستیو کلونو کې دا حقیقت ښه ځلېدلی، که څه، د تېو تیارو هغه یوه برخه لرې کړای شوه، چې ظالمانو د تاریخ په اوږدو کې د دې سیده لار پر لارویانو اچولې وې او د هیلو غوټۍ مخ پر غوړېدو دي او دا د رسول اکرم ددې خبرې مصداق دی چې وایي:

«موږ داسې اهل بیت یو، چې خدای پر دنیا، اخرت راته غوره کړی او په حقیقت کې، اهل بیت به مې تر ما روسته کړاوونه او سختۍ ویني، ان له دې ځایه به یو قوم راووځي- او په خپل لاس یې ختیځ لوري ته اشاره وکړه- چې تور بېرغونه به ورسره وي، حق به غواړي؛ خو

نه به ورکول کېږي؛ نو جنګېږي او بریا مومي او چې څه یې غوښتل ورکول کېږي؛ خو نه یې منې، تر دې چې زما د اهل بیتو یو تن ته یې سپاري، نړۍ به له عدل او انصافه ډکه کړي؛ لکه چې له تیري، زورواکیو او ظلمه تر خولې راغلې وه. هن! چې څوک پر دغسې زمانه کې و؛ نو پر لوري دې یې ورو ځغلي که څه، پر مخې پر واوره او یخ روان وي.[1]»

خدایه! ژر یې راښکاره کړې او موږ یې تر بیرغ لاندې کړې.

و آخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدنا محمد وآله الطیبین الطاهرین.

پای

---

[1] (ابن ماجه سنن، ۴۰۸۲ او ۴۰۸۷ ګڼې حدیث+ ان ابی شیبه (۱۵\ ۲۳۵ مخ)، ۱۹۵۷۳ ګڼه حدیث)